


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شپیلی زوږ

شاعر: احمد سلیم ږنګ

کال: ۱۳۹۶ هـ. ل د لیندۍ میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د شپیلی زوږ

## شعري ټولګه

شاعر: **احمد سلیم ړنګ**

چاپکال: **۱۳۹٦ل/ ۲۰۱۷ز**

چاپشمېر: **۵۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

ډیزاین: **عبدالرحمن حنیف**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لويه خدايه!

آيينه د قرآن دال د تا د حسن
سورتونه يې جلال د تا د حسن
چې، هُوَ لَهُ الْأَسْمَاء الْحُسْنَى، واړه
ټول آسمان دی زنې خال د تا د حسن
فرښتې يې له ازله ځينې شمېري
بې انجامه دی کمال د تا د حسن
اووه آسمانه څو تر پېښو لاندې کې نه ږدي
ښکاري نه ورته جمال د تا د حسن
فرش و عرش واړه ورکېږي په کې هلته
چې منصور ويني وصال د تا د حسن
ته "الف" نه يې تر "يا" د ښايستونو
لمر لمبه شو له شمال د تا د حسن

هر حسينه يو سپی ساتې په درشل کې
رنګ دې سپی کړه چې کړې قال د تا د حسن

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د میني پیغمبر حضرت محمد مصطفی (ص) ته

نور نظر، لخت جگر، ماه تام
شاخ نبات، گل نرگس، زر خام
په تا سلام هزار سلام، اسلام

سرو رعنا، عنبرین مو پېچکې
خلد هفتم، صدفي غاښ، شونډې جام
په تا سلام هزار سلام، اسلام

کوثري می، دم عیسا نفست
شمع محفل شور عاشق سرِّ لام
په تا سلام هزار سلام، اسلام

مدح خالق، شاه یثرب مدني
نور کعبه د قبلتینو امام
په تا سلام هزار سلام، اسلام

قاب قوسین زیب دلدل رخ گل
د رنگ د میني گلستان شمع شام
په تا سلام هزار سلام، اسلام

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِی، منل دي
شونډې په شونډو د شپېلۍ کول دي
زوږ او سوان، کوکار مين ته ښايه
بنده به څه وي، خدای شپېلۍ وهل دي
د کايناتو په خاموش اتڼ کې
شپه تر سهاره په "يا هو" گډل دي
د سي پارې د څاڅکو څاڅکو له مې
هوش له دې زمکې او آسمانه وړل دي
چې درد د مينې د هجران ښکاره شي
پرهر پرهر سينه او زړه شلول دي
هغه منصور چې دوی کافر گڼلو
کافر مؤمن په هغه لاره تلل دي
د "زه" او "ته" له فلسفې نه بهر
خدای او بنده کې د وحدت راتلل دي
مينه ده، حُبْ دی، عشق کې عشق دی دغه
گلورين مخ ته د ساقي سوزل دي
چې نيست شې، هست د تا مانا ومومي
بې معنا يې کې د مانا موندل دي
مين چې نه شي څوک به څنگه پوه شي
چې د مړو سترگو کار د زړه خوړل دي

ړنگه ساقي شه، جام شه، مې شه خپله
چې په کثرت کې د وحدت ښودل دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه شئ! بنده به شئ، مولا به شئ
عرش به شئ، د خدای به شئ، پیدا به شئ
لویه که تیاره وي د آسمان په شان
لمر په شئ، سحر به شئ، رڼا به شئ
بندې که وي لارې منزلونو ته
وریځ به شئ، وزر به شئ، هوا به شئ
ناسته که د خدای سره ناشونې ده
کور به شئ، کوربه به شئ، موسیٰ به شئ
ګنهه به کړي عشق ازل ابد سره
ساه به شئ، عیسا به شئ، بقا به شئ
مینه عشق، کیمیا او کیمیاګره ده
زهر به شئ، درد به شئ، دوا به شئ
مینه شئ چې مینه سره لالونه دي
پاتې تل، مجنون به شئ، لیلا به شئ

مینه د رنګ خدای او آیتونه دي
جز به شئ، سوره به شئ، ثنا به شئ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر یوازې شوی یم، اورې او که نه پرخې
پرېښی یم سلګو مې هم، اورې او که نه پرخې

تا ویل د تا یمه، تا سره تر خدای ځمه
غواړمه له خدای نه تا، تا سره به پایمه
څه شو هغه ستا قسم، اورې او که نه پرخې

توره شپه تیرې لارې، زما ګرېوان د غم چارې
اوښکو مې آواز کوو، تا پسې لیدې لارې
ولې هومره ډېر ستم، اورې او که نه پرخې

دښتو په ما وخندل، لارو په ما وخندل
ما لکه یتیم کتل، خلکو په ما وخندل
ستا له لاسه هومره غم، اورې او که نه پرخې

هر چا سره نه شته دی، هومره مینه هومره زړه
ګوره بېر ته را شه ته، خیر دی بېرته راشه ته
نه لرم د هجر زغم، اورې او که نه پرخې

ستا "سلیم" رنګ شوی دی، خوار او ملنګ شوی دی
پروت د مرګ په غېږه کې، ژوند نه ډېر تنګ شوی دی
تا وې چې په مرګ درځم، اورې او که نه پرخې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



شراب شه عشق پیاله کې و نڅېږه
منصور شه دار حلقه کې و نڅېږه
چې اسماعیل په ځان و نه نازېږي
ساه ورکوو شېبه کې و نڅېږه
ذرې ذرې شه په لمن کې د باد
د نېست عدم ځاله کې و نڅېږه
لکه تياره چې رڼا غېږ کې نیسي
د ابراهیم لمبه کې و نڅېږه
چې دې مجنون حسرت د مینې وکړي
داغ شه د غم سینه کې و نڅېږه
د کایناتو سیارو په رسم
د خاموشۍ نغمه کې و نڅېږه
هر څه نڅېږي د ساقي مخې ته
د هستۍ دې خواله کې و نڅېږه
"زه" او "زما" په عشق کې نه ځایېږي
د معشوقې جامه کې و نڅېږه

ڼنگه "رومي" رباب، نغمه د "شمس" کې
د لیونو هاله کې و نڅېږه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیمیاګره! خاورې زړونه
عرش ته رسي تش په مینه
زړه چې مینې ته پیدا دی
نو دعقل حاجت څه و؟
عبادت په مینه مینه
هر صحبت په مینه مینه
زه چې اصل د تا روح یم
نو د شکل حاجت څه و؟
خدای هم مینه بنده مینه
زړه غنم او ژرنده مینه
دوزخ ته او جنت ته وې
بیا د فصل حاجت څه و؟
شیطان تا، آدم پیدا کړو
څوک د نیغ څوک خم پیدا کړو
چې په خپل زړه کوې هر څه
بیا د نقل حاجت څه و؟
داسې نه کېږي ای خدایه!
ړنګ ته مینې ګناه وایه

چې هوښیار په تا پوهېږي
زړه بې عقله حاجت څه و؟

---

فصل = قرآن
نقل = د قرآن آیات

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



که واړه زړه عقل کوته وي، سرې چېرته لاړ شي
یو خوا مسجد بل میخانه وي، سرې چېرته لاړ شي
د شوخ ساقي د اننګو په لاس کې جام د میو
او توبه واړه افسانه وي، سرې چېرته لاړ شي
شېخ د لمبو کیسې کوي ساقي د مینې راته
زړه هم د مینې پروانه وي، سرې چېرته لاړ شي
ته یې جنت ته یې په تمې، ما ته دلته رسي
اول آخر که پیمانه وي، سرې چېرته لاړ شي
د ورکوو چاره د غم، شبنم د جام پېژني
او غم لړلې زمانه وي، سرې چېرته لاړ شي

ساقي مسکی پیاله مسکۍ بل خوا ته تروش محتسب
ړنګه مسکا چې بهانه وي، سرې چېرته لاړ شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو

د آدم خاوره چې خټه په اوبـــو شوه
د غیرت نامه له هغې ورځ پښتو (۱) شوه
انبیاء له پښتونواله وتی نه شول
پښتونواله کلمه د مېړنو شوه
ما قرآن کې بې پښتو څه لوستي نه دي
خدایه ستا ژبه هم دا د لیونو شوه؟
په جنت کې به اعلان شي چې پښتو کړه
پښتو وایه د دین لیکه په پښتو (۲) شوه
عزرائیله د پښتو جامه کې راشه
ساه مې وړاندې ځار له ټولو مېلمنو شوه

د پښتو دښمنه واوره! ورکه نه شي
که هر څو رنگه د کرکو په لمبو شوه

۱ :نوم، پښتونواله

۲ :پښتو ژبه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورېږ سلگۍ مې اورېدلې، چې څه چل وو په چا
پټه پلو کې ودرېدلې، چې څه چل وو په چا
د خدای له کوره کومه حوره خپه شوې گوندې
لکه د ولې رېږدېدلې، چې څه چل وو په چا
بنگړي خپه ول، د پازېب ساه یې مړې کې نښتې
په غاښ یې گوتې هم چیچلې، چې څه چل وو په چا
له سترغلو یې اوښکې غلې پرېوتې په گرېوان
په سپین مړوند یې پاکولې، چې څه چل وو په چا
لرې کوم چیرې کوم شپونکی و، د شپېلۍ نغمه وه
د ټپ له زړه نه راوتلې، چې څه چل وو په چا
گوندې له شگو جوړ محل د کوم چا سېل وړی و
له زړه یې وینې څڅېدلې، چې څه چل وو په چا

ړنگ پوهېدو چې د فرهاد ترخځ بیا چا خوړلې
شیرینه پړک په زړه چاودلې، چې څه چل وو په چا

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم شهباز مې بیا د زړه تار ته ترنګ ورکړ
بیا مې چا سپېره غزل ته مست رنګ ورکړ
ای صاحبه د پیالو د تریخو میو
اسوېلو ته چا د وصل آهنګ ورکړ
چا ؟ چا؟ بیا ماتې ښیښې د زړه کړې ټولې
چا ملنګ ته د سرو شونډو قلنګ ورکړ
چا مې بیا خاورې په میو کړې راټولې
چا په لېچو خپل بنګړو ته بیا شرنګ ورکړ
حقیقت چې په مجاز کې راښکاره شو
ابراهیم ته چا صورت د پتنګ ورکړ

خلک نه پرېږدي د خپل د غولي سپی هم
تا په یو غنم اغیار ته خپل ړنګ ورکړ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کمظرفو آيينو کې داسې ښکاري
اصل هېر کړي، ژبه هېره، پښتونواله
د حباب په څېر د وخت څپو کې ورک شي
لکه سيورى، لکه خوب د غنمې ځاله
انسانيت له هر څه ستر دى، خو شرط دا هم
لکه خس بې آره ژوند کا پردي پاله
نه ليکل شي نه خبر په خپله ژبه
د ښاغلي دله دا وي دوه کماله
تعصب که خپلې ژبې ته خدمت وي
عربي کړه ولې خداى په قرآن سياله؟
هر ټبر په خپل کلتور باندې درنېږي
خر په دې خر چې د نورو زحمت ګاله
خدايه هېڅ مور ته بچې په ګېډه نه کړې
چې د پلار پټکى بدل کړي په دوشاله

ړنګه کور د پښتو هلته رنګ و بنګ شو
چې پښتون په پردو ژبو شو پوهياله

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گل په نبض کې ساه بسمل ښکارېږي
د لمبو اوښکې زړه له تل ښکارېږي
ښکارېږي زلفې دې پرېشانه ولې
هنداره زما د بخت ول ول ښکارېږي
د شگو کور دی اسوېلو جوړ کړی
که د ارمان سپېره محل ښکارېږي
تشه پياله وه، زړه يې پرک چاودلی
سرخي په سترگو کې څه چل ښکارېږي
د شفق ناوې په سر شال سور کړی
خړوب په وينو دې، گوگل ښکارېږي
چا ته انځور کړې ته نقاش د ازل
که د مجنون زړه له ازل ښکارېږي

ړنگه دانې د سرو ياقوتو دي که
څوک دې په خيال کې د غزل ښکارېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عقل او عشق (زړه)

عقل دوزخ دی، سرې لمبې دی، ډار دی
زړه د الست ساقي، منصور دی، دار دی
عقل تر عرشه ځي، د خره په مزل
زړه يو وزر تر عرش او کور د يار دی
عقل بنده دی د بنده په زنځير
زړه د پاچا د پاچايانو پلار دی
عقل د زړه سره جوړېږي کله
عقل له خاورو، زړه له روح د يار دی
عقل شداد دی د نمرود پاچاهی
زړه ابراهيم دی، جنتي په نار دی
عقل په ځان کې ورک دی ځان نه ورک دی
زړه ګلستان دی هر يو ګل دی خار دی
عقل چې وايي زړه يې کله مني
چېر ته د خره غږ چېرته خوږ ستار دی
عقل او زړه شمس و حجر غونډې دی
عقل تياره دی د رندو سهار دی
عقل کافر دی خو مؤمن نه دی زړه
زړه خپله دين دی د قرآن دستار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل سجدې کوي خدای نه پېژني
زړه د ساقي غېږه کې غاړې هار دی
زړه خپله جام دی او ساقي و مې دی
زړه ميخانه ده د ايمان سينګار دی

رنګ پل په عقل بردي د زړه سره ځي
قاب و قوسين دی زړه اسرار اسرار دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرخې، پښتنې ملالې!

له ازله زه مین یم
ستا په خال او ستا وصال ته
څومره ډېر دامونه ایښي
له درشله ستا جمال ته
پښتنې ساقي اغلې
ما په دین ایمان منلې
لږ مسکۍ شه ای ملالې
سلیم، رنګ شو ستا کمال ته
را تهووایه چې ستا یم
احرام وتړه زما خال ته
زه به خاورې په سر باد کړم
تا به هر لمانځه کې یاد کړم

ته وحشي زلفې خورې کړه
وایه ! رنګه راشه جال ته

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باچا خان بابا رح

آسمانه که لمر نه راځي، د ستورو کاروان راوله
که بل پیغمبر نه راځي، یو بل پاچا خان راوله

منګی رباب حجرې ته را، یو سور ګلاب شملې ته را
مسکا مې ماتې خولې ته را، بې وېرې خوب مې شپې ته را
دې رنګ وطن، دې وران وطن ته، بېرته جانان راوله
که بل پیغمبر نه راځي، یو بل پاچا خان راوله

خبرې راته ښکلې کړه، له کرکو نه مو لرې کړه
نړۍ ته مو منلې کړه، د مینې مو بدلې کړه
دښمن چې ترې ځارېږي، داسې رنګه انسان راوله
که بل پیغمبر نه راځي، یو بل پاچا خان راوله

دا مات وزر، دا ماته پښه، دا بې سبا، دا توره شپه
له خپل لمن لمبه لمبه، ارمان مو تش یو سوله ده
ای خدایه! ته دې تږو ته د سولې باران راوله
که بل پیغمبر نه راځي، یو بل پاچا خان راوله

پوره د رنګ ارمان که دا، راویښ ویده افغان که دا
دا لر او بر مو ورک نور، او لوی افغانستان که دا
څښتنه د سیالانو مو د سیالې دوران راوله
که بل پیغمبر نه راځي، یو بل پاچا خان راوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا دې تنې شته په گرېوان کې ښکلې
کافره نه یې په ایمان کې ښکلې
مینه نازکو ښکلیو کار کله دی
بلده نه یې په تاوان کې ښکلې
چې د منصور وینې نکریزې نه کړې
کله به ما دا خپل جانان کې ښکلې
قسم په شنه خال، ستا د سپینې زنې
که یې د رنگ په عشق کې وران کې ښکلې

ستا د وفا چېرته هنر ښکارېږي
چې دې د شونډو جام پنهان کې ښکلې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وفا انګازې ډېرې وي، خو نه وي
خيال د چا په زړګي پورې وي، خو نه وي
حقيقت د مخلوقاتو واړه نېست دی
د مجاز هنداري جوړې وي، خو نه وي
د ازل او د ابد معشوق کيسه ده
معشوقې به ګڼې نورې وي، خو نه وي
عشق، مورکۍ ده د هستۍ د ښو او بدو
هسې پړ په کې مخ تورې وي، خو نه وي
فلسفه د هستۍ لويه معما ده
تخيل چې خوب کې شور يې وي، خو نه وي

ړنګ ساقي ته تاوېدو او نښېدلو
لکه باد زلفو کې ګورې وي، خو نه وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دې ښار کې ټول تنها دي، د پردو غوندې دي
دلته د ګل پاڼې تېرې دي د اغزو غوندې دي
دلته مؤمن، په سر صلیب لري، په ژبه "یس"
دلته کافر، په سر لمبې لري، ډېوو غوندې دي
مینه یهود، مینه ترسا ده، په کعبه کې نه شته
دلته هر زړه حجر حجر دی د کعبو غوندې دي
دلته سلام په چا کول له آبرو تېرېدل
دلته روغبړ د مهذبو د غویو غوندې دي
دلته ناپاک پاکو شرابو ته طعنې ورکوي
دلته پاکان د مهاجر د آبرو غوندې دي

چېرته چې هر پل نفرتونه سرخازې جوړوي
د رنګ غزلې ګل له زړه وتو ورېمو غوندې دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بې مخه د ساقي بل څه انځور کړم
چې يې عشق په سجده پروت رنځور رنځور کړم
شېخه ما د ځان په تله تلې څه له
ته صالح او ساقي زه پيدا انگور کړم
که پيدا وي څوک هوښيار نو خبر خلاصه
ځکه هوش په تريخو څاڅکو باندې چور کړم
په مسجد کې که مطرب او ساقي نه وي
وايه چېرته نو خدای نه شته چې حضور کړم؟
که دې لا ليدلی نه وي خدای په ځان کې
واخله جام چې مُکدّرې سترگې نُور کړم
د دوزخ او د جنت کيسې دې پرېږده!
پياله واخله چې قطار در ته د حُور کړم

ساقي وايي ړنگه زه ښه که پی مخې؟
که مې زړه شي سوړ جنت درته تنور کړم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونديې په خوب کې دې ژړلي دي نن
چې نن له سترګو پرېوتلی ښکارم
په هيڅ بازار مشتری نه لرمه
ستا اسوېلو آزار وهلی ښکارم
زما جنازه ستا اننګو کړې ده
د زنخدان څاه کې لويدلی ښکارم
د عشق شهيد يمه مزار نه لرم
د جنتو دوزخ سيزلی ښکارم

ړنګه فلک ارزان پلورلی نه يې
د زلفو تار سره اوبدلی ښکارم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور دې دا ميخانه واخلي، د شرابو خوند يې نه شته
مړ دې دا محتسب هم شي، د حسابو خوند يې نه شته
بيګا شيخ راته په سترګو، سترګو سترګو کې څه ووې
ساقي دواړه ميلمانه کړه، د کتابو خوند يې نه شته
چې پيالې په کې نڅېږي، هغه مۍ هغه شراب را
د زاهد لوظونه ډېر خو، د ثوابو خوند يې نه شته
د دې ژوند په ښو او بدو کې آرامه زړګی نه شو
د ودانو زړه چاودلی، د خرابو خوند يې نه شته
چې د ژوند په سيند لاهو دی، څه قرار څه ناقراره
د شبنم کيسه ده ورانه، د ګردابو خوند يې نه شته

ړنګه ډېر ساقي پيدا کړل چې دا زړه زما تسل شي
ښکلو حورو يې لمبه کړم، د ترابو خوند يې نه شته

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نه وړاندې زما سیوری آیینه ښکله وي
د مخ سحر دې چې د زلفو تیره شپه ښکله وي
د مینې ښار دې سپوږمۍ نه لري او لمر نه لري
په دې کوڅو کې اغزي تیږې مې سر پښه ښکله وي
دلته آذان له میکدې نه، له پیالو نه راځي
زما تندی د ساقي سترګو پیمانه ښکله وي
د مسلمان د لباسي ایمان د رنګ غوندې دي
د تا سلګۍ چې یې زما لمبه سینه ښکله وي
ملا مې د مینې د سپوږمۍ غوندې ماتېږي ځکه
د نن سبا لوظونه مات د وخت شپنه ښکله وي

د رنګ د ماتې ځوانۍ غږ د مات رباب غوندې دی
ځنګه به مسته شي چې تار یې اندیښنه ښکله وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تخيل دې نبض د مات زړه د ارمان ونيسي
هلته مې ستا د اندېښنو څپې ګرېوان ونيسي
لنډه شي ساه مې ستا د نوم د اخستنې سره
لکه بې کسه يتيم څوک په هر تاوان ونيسي
د رباب تار نه راځي داسې ستا د زلفو ورږم
ګوندې کوڅۍ د چا اغزي په ګلستان ونيسي
د محشرونو کيسې نور په اورېدو نه ارزي
پاتې رومال که څوک په سترګو د جانان ونيسي
په تورو شپو کې غبرګول شپېلۍ د تورو برخو
چې غلی عرش د تا د نوم سره افغان ونيسي

غزل د رنګ خپه خپه کړي تخيل د پرخې
لکه سپرلي کې تانده ګل رنګ د خزان ونيسي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



تار د زلفو له سپوږۍ نه پرېوتلی و په زمکه
مستو جوړ کړو ترې ستار او زاهدانو لار کړه ورکه
رنګ اوبدل په خپل دیوان کې سیاهي د هغو زلفو
کله جوړ شو ترې غزل او کله عشق نه په کې کرکه
کله خوب و، کله هوش و، کله زهر کله نوش و
کله مې و، کله جام و، کوثر کله هغه تُرکه
کله کفر کله دین و، کله لار وه کله سِحر
میخانه وه که مسجد و، له کوم جامه تپوس وکړه

رنګ ولاړ و، د منصور او د خیام د کوڅې منځ کې
چا ویل چې مسلمان دی ما وې کفر سر یې غوڅ کړه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



له السته بهېدونکو، د لیدو باران ته لاس کړه
د وختونو سمندر کې د څپو ګرېوان ته لاس کړه
که قطره شوې په دریاب کې د اوبو سره روان شې
که کوم څاڅکی شوې په شګو د عدم مکان ته لاس کړه
د ساقي له روح جوړ شوي ته شراب او مستي ښایي
د پیالو سره روانه اوږد پیالو جانان ته لاس کړه
د جنون او لیونتوبه ډارېدل واړه جنون دی
د زړګي په وزر کښېنه کور د لامکان ته لاس کړه
په کوکار شه او په ساندو نه له عشقه نه له مینې
چې عشق وکړي غم هلته، ته هغه افغان ته لاس کړه
د څپو غوندې نیمګړی الوت نه وي د دې مینې
په "یا حیٔ" او په "یا هو" کې د آسمان آسمان ته لاس کړه

ړنګه وشلوه ګرېوان خپل زړه بهر کړه له سینې نه
اناالحق کیسه رسوا کړه، د سبحان مکان ته لاس کړه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله د تش جام غوندې سينه د چا کندړه شي
کله په غورځنګ شي او آسمان پورې هم بره شي
کله داسې کېږي، داسې نه کېږي، پوهېږم نه
هو په ما قيامت شي چې مې خيال د چا تر سره شي
غم د خلکو لاړ شي او کوترو غوندې راشي بيا
ما ته مې د غم مرغه بې لاسه او وزره شي
واچوه شراب ساقي چې ډېر دا غم زغمی نه شم
زېړ شي رنګ مې چير ته چې د عشق کومه خبره شي
کاش چې عشق عاشق سره د غم غوندې وفا وکړي
وژاړي خندا کې هم خندا يې هم نظره شي

ای د ړنګ سپيره غزله مست شه په شرابو کې
وکړه منصوري نارې چې عشق هم در په دره شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوه شه !

پښتو ويلو وخت دی
پښتو کولو وخت دی
ای لر او بر پښتنو !
د ړالېدلو وخت دی
يو شئ ! يو کېږئ که نه
د ورکېدلو وخت دی
سپوږمۍ ته ونه ختو
کرخو ختلو وخت دی
لاس دې مړوند کې مات شه
د څه ليکلو وخت دی
ليکل خو داسې ليکل
«د يو کېدلو وخت دی»
د مرگ په خوب ويده يو
راويښېدلو وخت دی
غلامې خوب د سحر
بلال کېدلو وخت دی
د يو پښتون په آذان
قامت کولو وخت دی

←

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان په جهان ومنه
په تا ژړلو وخت دی
اغیار چې تا بېلوي
په سر ختلو وخت دی
په تېر دې اور بله وه
تاریخ اوبدلو وخت دی
د «ړنګ» یتیم اولس ته
د لار ښودلو وخت دی

د دوزخي پښتو نور
جنت ته تللو وخت دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



آدمه ! تا چې څه ګلان کرلي
هغه ګلان لا چا رېبلي نه دي
د تا ګناه او خطا پاکې شولې
زموږ سجدې لا چا منلي نه دي
ګنې دا ټوله کيسه موږ ته وله
څوک له جنته چا شړلي نه دي
زه دې دوزخ او عذاب نه منمه
موږ د تقدير پاڼې ليکلي نه دي
زه د آدم ګناه منلی نه شم
منم نه څه چې ما ويلي نه دي
زه دې جنت کې نه په څنګ کې اوسم
ما بې دوزخه څه ليدلي نه دي
انکر نکير دفتر ته اور واچوه
څوک مو په منځ کې اوسېدلي نه دي

در نه د رنګ پښتون جنت کې غواړم!
پښتون ته چا لا ټيټ کتلي نه دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوره ! راته مه وایه پخلا به شم
ووایه، د تا ومه د تا به شم
تللې که آسمان ته ومه را به شم

وږم د گل چا له گل بېل کړی دی
چا له ستورو ځان ته امېل کړی دی
زما آسمانه ستوری دې یم ستا به شم
تللې که آسمان ته ومه رابه شم

زه په تا، په مینه دې باور لرم
نه لرمه صبر دا هنر لرم
صبر صبر صبر کې فنا به شم
تللې که آسمان ته ومه رابه شم

مینې تقدیریونه سوزولي دي
مینې له آسمان ستوري راوړي دي
مړه به شم خو یاده په وفا به شم
تللې که آسمان ته ومه رابه شم

مینې زما مینې پښتنې زما
تا نه ځار شه وینې پښتنې زما
مه اوړه له رنگه نیمخوا به شم
تللې که آسمان ته ومه رابه شم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا د ليونتوب خپې په شور شولې
ښار د تخيل ته "پرخې" اور شولې
بيا دې د هېر شويو بنګړو شور سره
سور د اسفرافيل د زړه په کور شولې
بيا دې د عزت ګرېوان را څيرې کړ
عشقه زوروره بيا په زور شولې
غبږ د بغاوت و چې پښتو سره
ځنګه په کوم خال د "پرخې" تور شولې

وخت چې دې را يادې راته يادې کړې
رنګه د زغم ډک جام وې نسکور شولې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیدو غانونه گرځوي په ژامه
د نامه گڼده یې هغسې وي خامه
استنجا کې به دعا د استنشاق کړي
لوی مفتي شي چې په سر کړي خپل عمامه
د ایمان او کفر مهر یې وي لاس کې
چې پښتون مشر پرې ځنگه کړي بدنامه
الا الله ته دې پرېږدي نه لا اله کې
بس په ښځو پسې نښتی یې امامه
سترگې پرانیځه د وخت ځنې خبر شه
اسلام نه شي په اودس باندې تمامه

د مچی ځالې ته مه وره ړنگه گوتې
گنې غوځې به کړي لاندې ستا د نامه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي وختونه ميخانې کې هم تېرېږي نه اوس
زاړه غمونه په شرابو هم هېرېږي نه اوس
دا غملړلی نازولی غم د تللي جانان
وينې د زړه غواړي پيالو باندې کمېږي نه اوس
زه او بايللې ځواني تل په ننواتو ورځو
بې پښتو سترګې زما په خون باندې مړېږي نه اوس
کاش چې وفا دې د يادونو هم د تا غوندې وه
وسوم لا نوم دې له سکرو زما ورکېږي نه اوس
لکه چې خدای او خدايي له يو بل بېله نه شي
روح مې وتلی، ستا روح، زما له زړه بېلېږي نه اوس
ساقي شراب را کوه در د ميخانې مه تړه
بې ستا اسرې نه زما بل چېرې شپه کېږي نه اوس

د مړه کېدو مې د لوېدو مې پروا ته مه کوه
څوک شته د رڼګ، څوک يې په مرګ باندې ځورېږي نه اوس

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ مثال په اوسنۍ آسيا کې
سره غوښه سپيو د قفس په خوا کې
که شو هډوکی هم خلاصی نه لرو
سپی هم کيدی نه شو د سپو نخا کې
دا د سياست او د قدرت جګړه ده
موږ د خرګوش په خوب ويده دنيا کې
يو نه شو، نه شو يو کېدلی، نه شو
ورک به شو ژر د پټ غليم بقا کې
سپی مه شه خو په لاس يې غاښ لګوه
د سپو په جنګ کې د کوترې غپا کې
د سر سړی مو په سر پاتې نه شو
دله ديوث مشران شول پښتونخوا کې

بيا به تاريخ بيا به تير وخت را نه شي
ړنګه راويښ شه نن شه نن په خوا کې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په کلي کې سر نه وي، کلی ټول پارچه پارچه وي
موده وشوه چې پښتو مې، له بچو ټوټه ټوټه وي
لوپټه مې په اغزو کې د اغيار راګيره نه ده
د دې نن له پښتنو مې ړنګه بنګه ماتيکه وي
د يثرب باده خوږه ده، د پښتو په درانه جام کې
ما دا دواړه خرڅې کړي، چې د چا لاس کې سکه وي
ای د «ړنګ» د پلرو کوره، ما ړنګ کړی يې په خپله
د پښتو د مور لمنه له پښتون لکه لکه وي

رانه تللې خپه شوې، پښتو بيا کلي ته راشه
چې شمله د پښتون هسکه، پښتنې درنه پټکه وي
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخیل چې د مړو سترګو زما په سر شي
آوازې د مرګ مې پورته له هر در شي
لا ژوندی یم ما په مړو حساب نه کړئ
جنازې د عاشقانو هر سحر شي
هغه مۍ چې د ساقي له ګوتو څاڅي
مرګ ته ساه ورکړي اعجاز شي او هنر شي
څو چې شپه په میخانو کې سبا نه کړم
سوزوي مې لمر د چا د مخ قمر شي
عاشقان په ژوندو چا شمېرلي نه دي
د بانړو له زور که کله څوک خبر شي

رنګ د تا په عشق کې مړو کې حساب شو
فال به نیسم که دې ښکار په شوخ نظر شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مات شولې پرهر شولې،  لاړې در په در شولې
لرې له دلبر شولې، مینې زما، نظر شولې
خاورې مې په سر شولې

ستا مسکا یې واخسته، نم یې در ته پاتې کړو
سترګونه یې پرېوتې، غم یې در ته پاتې کړو
بې اسرې، بې در شولې
خاورې مې به سر شولې

چېر ته به ته لاړه شې، ټول جهان دی زړه زما
ستورو ته که لاړه شې، ټول آسمان د زړه زما
لاړه  په سفر شولې
خاورې مې په سر شولې

لاړه شه خو یاد لره، چېر ته یو مین لرې
ساه یې ته یې، ژوند ته یې، دلته یو غمجن لرې
سوی زړه ځګر شولې
خاورې مې په سر شولې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه سره مې مه ګنډه دا تار د زلفو خام وي ډېر
پام چې جام اوچت نه کړې، د مینې جام بدنام وي ډېر
دلته د بلال آذان، د چا د بنګړو شور کې وي
دلته خال کعبه شي خو طواف لره یې دام وي ډېر
پام کوه چې دلته د کوثر ساقي خپل جام سره
سر له تنه غواړي که دې تنده د دې جام وي ډېر
عشق د پتنګ سر خوړل دي، عشق د شمعې زړه سوزل
عشق کې منصوري ویل وي، هر منصور ناکام وي ډېر

عشق به دې لمبې کړي ړنګه او لمبې ایرې شي بیا
باد به دې ایرې یوسي، مړو سترګو ته دې پام وي ډېر

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیونی ولس

د دې ولس د لیونتوب خبره پته نه ده
د خپل وجود ذبحه کول ورته حلال ښکارېږي
هغه جنت دې د دوزخ په لمبو لولپه شي
چې زما په وینو یې په حورو کې جمال ښکاېږي
د لوی ښتن دینه! دا چا دې ټیکه سر اخستې
چې ستا په نوم باندې وژل ورته کمال ښکارېږي

"ږنګه" د سپیو سره حشر به هغه مفتی شي
چې په مسجد کې مې سجده ورته وبال ښکارېږي
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانجه په سترګو دوه لاسه مه وهه
په خامو شونډو دنداسه مه وهه
مین ظالم وي ډېر به پاتې نه شي
سره د سرو شونډو د پاسه مه وهه
چېچل په غاښ د سرکو شونډو توبه
سره مرچکي په پټاسه مه وهه
په یارانه کې خو بنګړي ماتیږي
هومره غوصه ! دیګ په کاسه مه وهه

عُشر کې رنګ غریب ته شونډې ورکه
د نیلام غږ په نخاسه مه وهه

نخاسه (عربي)= بازار

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آسیا د تاریخونو روح او ځان افغانان
د ننګ په کار کې یو آواز او یو ارمان افغانان
سترګې تاجک، ازبک لیمه
جانان جانان افغانان
وروزې بلوڅ، ازره بانه
قربان قربان افغانان
کجل ترکمن، پکتي رانجه
حسن دوران افغانان
هر یو توکم، زما همدم
دین و ایمان افغانان
له اول ول، وي به تر تل
پر دې جهان افغانان

د آسیا د تاریخونو روح او ځان افغانان
د ننګ په کار کې یو آواز او یو ارمان افغانان

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو کې اوسېږي، د اشنا کیسې همدومره وي
پرېوځي په ګرېوان د چا، وفا کیسې همدومره وي
پل له کاروان پاتې شي په نرمو نرمو خاورو کې
مرګ و ژوند یادېږي خو رښتیا کیسې همدومره وي
پاتې نه شوه لاره، ما یې ډېر لمن ته وژړل
ګل سره د پرخې او سبا کیسې همدومره وي
یو بل ته چې وسوزي، د شمعې پتنګ مینه ده
عشق کې د لوظونو د بقا کیسې همدومره وي
ټولې نه شي، خومره چې د مات زړه ټوټې ټولې کړې
مینه کې د پاتو د دنیا کیسې همدومره وي
زه او تنهایي زما د اوښکو سره وژاړو
نه ووځي له زړه نه، د ژړا کیسې همدومره وي

ړنګه چا ته مه وایه چې څومره پرې مین یې ته
وسوزه په زړه کې د وفا کیسې همدومره وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د ملا نه ده صوفي منمه
منم د زړه د ليوني منمه
نه د جنت نه د دوزخ سړی يم
د جانان سترګي اننګي منمه
نه يم زاهد چې په ډار ډار اوسېږم
نه يم کافر چې سپين سترګي منمه
نه د هوس نه د بقا له پاره
تورو خالونو فلسفي منمه
څوک به خدای، دې او په هغې کې ګوري
زه يې د زړه له اسوېلي منمه
ما ته مُلا د خدای لار مه راښيه
زه بې مکان بې لاروي منمه
منم چې ته د "ابې څې" سړی يې
د عشق خبرې بې لفظي منمه
کعبې ته مه ځه ولې هومره مزل
مزل چې زړه په لور کوي منمه
کله پيالې د بغاوت پورته کړه
د مست ساقي سترګو مستي منمه
نه وايي خدای چې ته زما له روح يې ؟
ځکه ځان پورته له هستي منمه

رنګه خبرې د عشق پټې ښې وي
خو ستا په عشق کې رسوايي منمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قدرت د تږو یووالی

نه، سرونه نه ماتېږي
چې دوه خرونه سره مست شي
ملتونه خاورې کېږي
د قدرت تږي چې پست شي
بېزو خویه رهبر داسې
لکه توره چې له جست شي
د ناپوهه ولس، مشر
د شیطان له سوتې هست شي
پټې سترګې پسې درومي
د ړاندو لاس ته چې دست شي

یرغمل شي ړنګه پوهه
چې جاهل جاهل همدست شي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربدال سر وم، ښايستو پسې تلم
خپله ښايست ومه پردو پسې تلم
ګمان مې دا چې د لمر پور په سر ځم
نور وم، مجازو پلوشو پسې تلم
په هر تصوير کې تصوير او مصوّر
ړانده ليده ول آيينو پسې تلم
خپله کُلال ومه کوزه او خټه
د بل نسکور، ماتو کوزو پسې تلم
د حق له "پو" نه حقيقت ومه زه
د عقل ګوډ خره افسانو پسې تلم
د مينې "م" ومه "يا" "نون" ومه "ه"
د نفرتونو فلسفو پسې تلم
حسن خاموشه وي د ګل په مثال
د خط و خال شور او لمبو پسې تلم
که د منصور د دعوا نبض وګورې
عرش يمه، دې خاورو سپېرو پسې تلم

ړنګه دوزخ چيرته جنت او انسان
د خالق روح وم خلقتو پسې تلم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخې زما د زلفو شپو لاس کې دي
د لمر ختل دې د کتو لاس کې دي
ته به له ناز مخ ته لاسونه نیسې
ښکلاوې ستا د پټېدو لاس کې دي
د مین زړه ماتې نسکورې پیالې
په شونډو زلفې پرېوتو لاس کې دي
د زنې خال کې دې ورک زړه لټول
چېر ته چې ستوري ورکېدو لاس کې دي
نادان هوس د زلفو دام ماتوي
عقلونه خام د شونډو سرو لاس کې دي

د رنگ د خیال هنداره، ستا ډکه ده
غزل لیکل د خاطرو لاس کې دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه، د خالونو د شمېرلو په هنر پوهېږم
له شونډو جام د اخستلو په هنر پوهېږم
د اننگو د سپينو زرو نه روپۍ جوړوم
په يوه روپۍ د ځان پلورلو په هنر پوهېږم
په تيره زړه د معشوقو ورته بانه تېزوم
زه د خنجر د نازولو په هنر پوهېږم
پېزوان ته وينې ورکوم چې پښتنه سياله شي
په خپل فتوا ځندۍ ختلو په هنر پوهېږم
اوربل ته چل د خرخشو ښيم وږمو سره زه
په پرهر زړه مالگه وهلو په هنر پوهېږم
د چا د مړو سترگو څپو ته توپانونه راوړم
په مړو ژونديو د وژلو په هنر پوهېږم
له تار د زلفو نه رخسار ته تور کفن جوړوم
زه د رسمونو ماتولو په هنر پوهېږم
په صحيفو د سپين جبين باندې حلال ليکمه
د عشق مذهب اعلانولو په هنر پوهېږم
...سيورو کې زه د دوزخونو زخمي زړونه ساتم
د شونډو نښو د ساتلو په هنر پوهېږم
دې ځيږ پښتون ته څه د مينې آيتونه راوړم
د ميخانې د آذانونو په هنر پوهېږم ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله پګړۍ د عشق د زلفو سره کلکه ترم
د نفرتونو ورکولو په هنر پوهېږم
د عشق فتوا ده چې د رنګ غونډې پیالې پورته کړه
نشه نشه جنت ته تللو په هنر پوهېږم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې پښتو پښتون نه هغه پنجابی ښه
چې دا دوه شلې کلونه ترې فریاد کړو
شمله جګه، غټې برېتونه په کار نه دي
د پښتو په تا کې څه دي چې يې ياد کړو
احمدزي او دراني، دا زي زي ډېر دي
دې ښاغلو ښار او کلیو کې برباد کړو
لیونتوب مې زمانې کې په هر خوله دی
چې نه خدای او نه بنده په زړګي ښاد کړو
ز موږ سترګې له ازله سرې سرې نه وې
په سرو وینو کې انځور د وخت جلاد کړو

"ړنګه"ځو چې دا ویده پښتون ویښ نه شي
هر ساعت به جنازه د خپل مراد کړو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدایانو بازار

هنداره ګورم چې یوه شېبه په ځان وخاندم
په عقل مینه په مذهب کې ورک انسان وخاندم
عقل مې وتړي په یو زنځیر او مینه په بل
زه په جنت کې هم شلېدلي خپل ګرېوان وخاندم
هنداره ګورم خو لوګی لوګی هر څه ښکارېږي
په سوي عقل سوې مینه او ایمان وخاندم
څوک خدایان خپله جوړوي څوک د چا خدای شي خپله
زه هومره ډېر د خدایانو په دوکان وخاندم
په یو وزر باندې رسېږي منتها پورې څوک
د چا د خط و خال د مینې په فغان وخاندم
انسان په عقل ځناور شو عجیبه نه ده دا ؟
زه په بیزو له کهول پوهانو د زمان وخاندم
که یې هنداره د پردې څښتن ټوټه ټوټه کړه
زه به په ستر مفتی د کلي په وجدان وخاندم
هر چا په هر رنګه انسان او خدای ډال کړی ځان ته
له درده زه په دغه ګټه او تاوان وخاندم
هر چا تر وسې د دنیا او دین په نوم پلورلم
اسیر مرغه وم د قفس په شنه آسمان وخاندم
لکه ملا چې جنازې باندې یاسین ووایي
"ړنګه" افغان ته دې، په چغو او افغان وخاندم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه چې نه وي بیا ایمان چېرته دی
انسان بې اُنسه نو انسان چېرته دی
په درد د چا چې دردمندېږي نه څوک
د ژوندو یون سره روان چېرته دی
کافر یې وګڼئ د زړه په فتوا
داسې مؤمن او مسلمان چېرته دی
په تار د زلفو چې ځندی نه شي نو
هغه منصور د خپل جانان چېرته دی
چې قرآن واړه د لیلا توري شي
داسې مجنون د دې دوران چېرته دی
مینه د لمر په سوزېدو کې ګوره
عالم سپوږمی پسې روان چېرته دی
مینه مظهر د لوی څښتن د جبین
حسن هر چا ته نمایان چېرته دی
هنر د مینې خاوره نور جوړوي
فرق د بنده او د سبحان چېرته دی
مینه ذرې نه کاینات جوړوي
د عقل خره هومره توان چېرته دی
مینه کې وخت له معما نه اوځي
قاب و قوسین چیرته زمان چیرته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنت دوزخ هم په روپۍ نه پېري
چې د جانان نه بل څه ګران چېرته دی
مینه وزر دی عرش نه پورته تللو
مینه کې وخت او هم مکان چېرته دی
کیسه د مینې ده بل څه نه شته دی
آدم غنم او هم شیطان چېرته دی

ږنګه کیسه ده خاصه عامه نه شي
چې هر سامع دې نکته دان چیرته دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته دی څوک په میخانه کې؟ چې په ما باندې ثواب کړي
په شراب کې مې اخته کي بیا مې اور باندې کباب کړي
بیا مې ټوکی ټوکی سوی بدن میو باندې غوړ کا
بیا مې وارتوي لمبو ته دو چندان ثواب حساب کړي
چې زه نیست شم میکده کې، د ساقي په عشق به هست شم
په پیالو کې به اوسېږم، مست به نوم زما شراب کړي
د رندانو په محفل کې به زما پیالې جنګېږي
څوک به کفر را ته وایي څوک کوثر را ته خطاب کړي
ژوند هغه چې څوک شراب شي د ساقي په شنه پیاله کې
نه خواږه تانده انګور چې مچان خوږ پرې خپل لعاب کړي

که ساقي ته رسېدل وي د عشق ژرنده کې ځان دل کړه
څو هستي خپله ړنګ نه کړې عرش ته پورته څوک تراب کړي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ټټار یې په خټک جوړوم
له ماتو تورو ځوان هلک جوړوم
د عشق او عقل له انګورو څخه
د رومي روح او د ختک جوړوم
د زلفو تار او د باڼو په ستنه
رنګې پښتو ته غزل کلک جوړوم
چې د پښتو ناوکی سیاله کړمه
د نظم مخ ته یې نمک جوړوم
څو په سجده شي هر کافر د پښتو
په صحیفو یې ورته شرک جوړوم

که لر او بر جانان پښتو هېره کړه
رنګ ته مزار له لمبو ډک جوړوم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غرڅه په شان يې سترګې په رانجو دي
د زمرو په شان درانه په تاريخو دي
هر پښتون نوی صورت د يار د حسن
يا غزلې چا چېړلي په نغمو دي
چې يې وچو وچو غرو کې ګلان نه شته
دوی غاټول، رمبېل، چمبېل د سردرو دي
ستارې د پښتنې کوچۍ لمن کې
که خالونو راغونډ شوي په جرګو دي
قصيده ده رباعي ده که غزل دی
که نالوست پښتون خبرې په پښتو دي
د بودا غوندې يې ډوب شي تخيل کې
انځورګر يې ښايستو ته په کتو دي

ړنګه! څنګه به بدرنګه شي پښتون ستا
چې "ارباب" د رنګ "باچا" د غزلو دي

ارباب= ښاغلی حمدالله ارباب
باچا= ښاغلی هارون باچا

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک د عقل پسې تلل زه د وفا پسې تلم
ځکه ټول بل خوا ته روان ول خو زه تا پسې تلم
ښکارېدم چا ته مسلمان کله کافر ښکارېدم
کله به تلمه زه مسجد کله مینا پسې تلم
په گل اغزو په میکدو او په پیالو کې ته وې
ته په هر څه کې ښکارېدې ځکه هر چا پسې تلم
تور دې د مینې ځومره خوږ و چې کوثر به نه وي
زه د منصور له نسله وم د هر رسوا پسې تلم
مزل د عقل د خره چرته او د عشق د دلدل
د تریخو میو په وزر دې منتها پسې تلم

"ړنگه" په مینه کې ودان شوې خو هوس ښکارېدو
ځکه پتنگ شوم په لمبو د درد دوا پسې تلم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتنې پېغلې (ملالې)- !

غږ د اثر لري بلاله يې ته!
ای پښتنې پېغلې ملاله يې ته!

دروند دې څادر له دغه شين آسمانه
د تورې پړک دې له دې لمر روښانه
د پښت تاريخ د زمرو څاله يې ته!

غږ د اثر لري بلاله يې ته!
ای پښتنې پېغلې ملاله يې ته!

لاس کې انوار لرې موسی پښتنې
د آسمانونو مسيحا پښتنې
د جهالت تيرو مشاله يې ته

غږ د اثر لري بلاله يې ته!
ای پښتنې پېغلې ملاله يې ته!

د سر په بيه مينه مينه کوې
د خدای رسول سره له دينه کوې
زما عايشه د دين جلاله يې ته! ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



....غږ د اثر لري بلاله يې ته!
ای پښتنې پېغلې ملاله يې ته!

کله نازو شې زرغونه شې کله
د پت پتنګ او هم ډېوه شې کله
ثاني دې نه شته بې مثاله يې ته

غږ د اثر لري بلاله يې ته!
ای پښتنې پېغلې ملاله يې ته!

د نورو خلکو نارينه نه نره
د ننګ مورچل هر يرغلګره لره
د "ړنګ" وطن بدر جماله يې ته

غږ د اثر لري بلاله يې ته!
ای پښتنې پېغلې ملاله يې ته!

- د ميوند د ننګيالۍ ملالې د حماسې د ۱۳۵ مې کليزې په وياړ، ملالې رح او ټولو افغانو او پښتنو پېغلو ته ډالۍ.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیوني اپلتې

پیل د هستۍ د یون، آدم غنم دی
دلته کوم چل د چا په ما منم دی
کیسه ده ټوله د سپېدلي آدم
پر په کې ټول هغه نازک صنم دی
جنت ته ځکه خوشالیږمه نه
بنسټ د ټولو عذابو او غم دی
زما بابا دی آزمویلی جنت
اول چې غم و، په آخر څه سم دی؟
بیا به کوم جام ته لاس ورپورې کړمه
بیا به مې وشړي چې کار ناسم دی
لا به مې حوره ښکلې کړې نه وي
چې کوم ملا د دې جلی همدم دی
بیا به شیطان د خدای جنت ته راشي
وایي به «دا د خوشالو اودم دی«
زه هم ساده پښتون غمو خوړلی
چې له ازله مې لیدو کې نم دی
بیا به مې وشړي له خپل جنت نه
او بیا به وایې چې انسان مې گرم دی ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



...بیا به سر ټیټی فرښتو ته شمه
څه دې اشرف مخلوق کې پاتې برم دی
بیا به لعنت امیل څښتن پیدا کړي
ګوندې دا ځل انسان ته دا کرم دی
ای لېونو ! ای سر ببر پښتنو
واورئ له چا چې لاس کې جام د جم دی
نو واخلئ جام چې ټوله دا کیسه ده
اول کې غم په منځ آخر کې هم دی
ځار کړئ له یو بله دا پاتې سلګۍ
مینه ښایست لکه په ګل شبنم دی
مینه د خدای نوم او د خدای هستي ده
مین دوزخ جنت له غم بې غم دی
مینه کې روح د خدای وصال ته رسي
مینه ازل مینه ابد، دا دم دی
مینه کې دوه نشته یووالی دی تش
مینه کې خدای کوم دی او کوم آدم دی

«ړنګه» د عشق رازونه مه راسپړه
چې خال خال دلته څوک د عشق محرم دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرې ګرېوان کې چې ساړه ښکاره شي
رنګ به په رنګ کابل کې څه ښکاره شي
د تا له سترګو نه پرېوتی یمه
څه به په اوښکو کې اوبه ښکاره شي
په تور د مینې دې رسوا شوم هسې
لکه رانجه چې په لېمه ښکاره شي
معشوق که څومره کبرجنه شي خو
کله لیده په مخ درانه ښکاره شي
خندا د ناز دې اثر هومره لري
مسکا په مخ دا ستا د مړه ښکاره شي
د ګل په مخ پرخه د ګل اوښکه ده
څاڅکي کې یوه نړۍ خواله ښکاره شي

قلمه مه خیږه د "رنګ" زخمي زړه
په کې به مات د چا بانه ښکاره شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې در ته گـــــورم تخیل زما غزل غزل شي
شمعه شم وسوزېږم رنگ زما بدل بدل شي
شمه هنداره، تا ته گورم، تا کې ټول شمه ورک
او هر ذره مې ستا ذرې ذرې ته غل په غل شي
خیال ته وزر د هما واغوندم چې تا ته درشي
تاو شمه، مات شمه، سکاره شمه اوربل اوربل شي
لمر شم چې پرخه دې د شونډو درنه غلا کړمه زه
خو شم شبنم ستا په گرېوان ذرې ذرې تل تل شي

لکه خالونه دې په مخ "ړنگ" ړنگ ذرې ذرې شي
چې په محفل کې دې په غلا را ته کتل کتل شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ........پښتو ژبه مې........

اغزي خوړل د اوښې کار، لکه پښتو ژبه مې

چېرته پاسته خلک د ښار، چېرته پښتو ژبه مې

نه معشوقه شوه نه دلدار، سره پښتو ژبه مې

خپلو پردو سترګو کې خار، بده پښتور ژبه مې

نه د ليکو شوه نه ګفتار، وره پښتو ژبه مې

پاتې بدرنګه بې سينګار، لته پښتو ژبه مې

خپه نغمه د مات ستار، خوږه پښتو ژبه مې

څپېړ په مخ، پرهار پرهار، لمبه پښتو ژبه مې

د خوشال خان د سر دستار، درنه پښتو ژبه مې

خرڅه شوه سپکو په بازار، نره پښتو ژبه مې

يتيمه لر او بر بې پلار، خپه پښتو ژبه مې

له هر درشله په کوکار، ځيږه پښتو ژبه مې

د آريايانو مور او پلار، ژبه پښتو ژبه مې

د ننګيالو تاريخ يادګار، زړه پښتو ژبه مې

د سياستو په غشو ښکار، غرڅه پښتو ژبه مې

د سر سړو له لاسه خوار، رنګه پښتو ژبه مې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره غرور! خو په تا ښه ښکارېږي

تا کې ايرې شوم تا ته څه ښکارېږي

را نه رخسار په پلو مه پټوه

بې له تا هېڅ نور ما ته نه ښکارېږي

دا غرځنی سترګې او مږه کاته دې

په سل پردو کې هم پراته ښکارېږي

په شونډو ته چې سالو و نازوې

زلفې د تورې له غم مړه ښکارېږي

ته په دروغو ړنګ ته نه مه وايه

د تا صورت زما له زړه ښکارېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځې په تلو کې خپل هنر د هېروو را زده کړه
د زړه بدل کې چل د غم د ورکوو را زده کړه
د ارمانو ايرو ته ځنگه طوفاني برخه شم
د شمعې ژوند د خپل گوگل له سوزېدو را زده کړه
چې د دروغو صحيفې مې له رښتيا خوږې وي
په نن سبا را ته ژوندون په تش وعدو را زده کړه
چې ښه پرې پوه وي او بيـــا هم ورته سجدې سجدې وي
په عشق کې داسې صنم چا ته جوړېدو را زده کړه
په کومو لارو چې د کډې له دې چم تللې دي
په هغه لار پاتې کېدل دې له وږمو را زده کړه
روح يې په رگ رگ کې چې خدای به چېر ته ځای کړمه زه
چې را کې نه وې را ته خيال د بېلېدو را زده کړه

نه د ايمانه خلاصېدل نه له صنم غواړمه
ړنگ يم په کفر کې ايمان د اوسېدو را زده کړه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د الست د جام مستي ده چې فنـــــــا نه لري
د "الا الله" او "لا الـــــــه" هم هيڅ پروا نه لري
چا چې الست کې د ساقي جام ته لبيـــک کړی وي
داسې ميخور منصور ته دين کفر مانـــــــــا نه لري
په هر ذره په هر قـــــــــطره په هره ساه کې ساقي
که په هزار پردو کې پټ شي پټېدا نه لري
ساقي له چا نه به ته کـــــــومې دروازې بنـدې کې
ستا در ته نه شته هسې لار چې منتها نه لري
که دې مسجد که بتخانه يا په بل ځـــــاى لټوي
مقصد خو ته يې د رندو تګ څه خطا نه لري ؟
ساقي ساقي راشه دا ټول ضعيف انسان وبښـــه!
حتی فرعون او عزازيل هم څوک بې تا نه لري

د رنګ به ونه منې دا چې کيسه ختمـــه کړې ته
تا چې منې هغه احمد او مسيحا نه لري

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل مېچنه کې دَل شوی وار په وار ښه دی
د مینې کار دی یاره، عقل خوارو زار ښه دی
مزل د زلفو د ټالونو سره زړه ته پرېده*
عقل چنده، زکات او عشر ته اوزګار ښه دی
منم شمېرل یې د خالونو یوڅه عقل غواړي
نه نه خراب د مخ خالونو دغه شمار ښه دی
پرون روژه مې میخانه کې په پیالو ماته کړه
کله مفتي، زاهد، ملا سره دیدار ښه دی
عقل حرام دی ځکه لار د میخانې لټوم
ذره ذره عقل شرابو نه ځار ځار ښه دی

ساقي ویل چې «ړنګه» هسې زړګی نه در کوم
یو ارتې غاړی، سربېر لیونی یار ښه دی

*پرېده = پرېږده

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم له تودو هم له سړو را ووځو
د تاریخو له ځولنو را ووځو
د وخت جلاد را ته ځندی جوړوي
د عزرائیل له ارادو را ووځو
هر څو که مونږه مړه کوي دا خلک
موږ به له هرو هدیرو را ووځو
چې یې شړلي له ښارونو یو موږ
لکه اغزي په دښتو غرو را ووځو
د نازولو تمه نه لرو خو
په څه له خپل کلیو کورو را ووځو
تا ته به موږ اغزي د سترګو ښکارو
خو موږ ښکلا یو په رانجو را ووځو
په ټیټو سترګو را ته مه ګورئ چې
په یون د سترو پښتنو را ووځو
که یو خوشال او احمدشاه پیدا کړو
ساه شو له تورو تورو زړو را ووځو
غلیم که پوه دی موږ کم عقله نه یو
خو ځنګه موږ له خپل پښتو را ووځو

خاورې به شو خو واورئ ورک به نه شو
رنګه په ننګ له جنازو را ووځو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به جنت ته هم پښتون په نوم ځم
دې دين، مذهب د دې قانون په نوم ځم
د تا له دين به ښوارلس سوه کېږي
زه د آدم پېر مسلمون په نوم ځم
هسې به ډېر وي په جنت کې راټول
زه به د پت او ننګ د يون په نوم ځم
که غوارم هم کافرېدلی نه شم
زه د ايمان نه جوړ ژوندون په نوم ځم
خلک دې "رنګ" ته دا دين نه راښيي
زه پيغمبر د هر زبون په نوم ځم

هغه وخت لاړ چې يې دوزخ را تپل
جنت ته، پلار کور ته ګډون په نوم ځم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا وې چې ډېر سرې دا اور سوزوي
د ښکلو شونډې د زړه کور سوزوي
شيخ چې جنت وايي او شخوند تېروي
گوندې دوزخ به تش دا نور سوزوي
تنکي شراب زما زاړه زخمونه
ساقي ما ستا دغه ټکور سوزوي
نن مې د ټول کلي په مخ کې ښکل کړه
په تش لوظو دې ما پېغور سوزوي
چې به رښتيا سرې شونډې را کړې که نه
دا نادان شيخ خو مې په تور سوزوي

پرخه د گل يا ستا د شونډو په سر
نيمخوا رنگ دی چې هر لور سوزوي
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا هم ماشوم يې، د پنځو زرو کلونو قامه
لا دې څوک نه مني تاريخ، نه دې هويت نه نامه
څوک دې ځانمرګي، دوزخي ژبې، يهود يادوي
سړي د ډېر دي خو په سلو کې يې سل نافامه*
د غليم ښځې له سپومۍ پورته تر ستورو لاړې
زموږ سړي د خرو پر سر وهي د حورو لاره
را ته دې لر او يا په بره کې رهبر وښيه؟
غلام غلام ابن غلام چې اړوې يې پاڼه
د نوم، پګړۍ او د برېتو وزن يې پيل پورته کړه
ساتي چوغکې، مړزان کوي د سپيو کاته
بس چې خبره شي خوشال او احمد شاه يادوي
پروت په پيتاوه کې اوبو وړې ترې واړه کامه

ړنګه! د دوی به د يووالې خبر چا ته کوې؟
په توره سم شي د کړو فکرو وګړو ژامه

*نافامه= نافهمه، ناپوهه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بومیاتوب

رهبري د هر سرکوزي دنده نه ده
د اوبو په زور روانه ژرنده نه ده
بصیرت بویه که غواړي بومیا شي
هره پکه ټنډه ستره ټنډه نه ده
د ملت ژغورل د وخت په حادثو کې
زلزلو نه تېښته هر خوا منډه نه ده
د شپانه کمال په غټو سپو کې نه دی
خو د سپو ونډه بېځایه ونډه نه ده

سترو سترو پښتنو تاریخ کې ړنګه
ګوډاګو کیسه اوږده ده لنډه نه ده

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله!! !

که ننګ پالې، نو همدا اوس يې وخت دی
جنت ګڼې نو همدا اوس يې وخت دی
نه دی بس! نه دی، څلوېښت کاله وژل؟
سوله کوې؟ نو همدا اوس يې وخت دی!
لا څو مورګانې بورې شوي نه دي
څو ناوې پېغلې کونډې شوی نه دي
څو کوره لا هديرې شوي نه دي
کورته راځې؟ نو همدا اوس يې وخت دی!
د کب خواږه شول ماشومان زمونږه
خواره واره شول افغانان زمونږه
له ژوو سپک شول انسانان زمونږه
ژوند رابخښې؟ نو همدا اوس يې وخت دی!
ټوټې ټوټې شو، زړه دې نه سړېږي؟
ژوندي لمبې شو، زړه دې نه سړېږي؟
غوښه چړې شو، زړه دې نه سړېږي؟
د خدای منې؟ نو همدا اوس يې وخت دی!
د ستر ملت ستر تاريخونه سپک شول
د سر سړي، شملو سرونه ورک شول
ذلت له اوښکو ګرېوانونه ډک شول

دا ننګ ګڼې؟ نو همدا اوس يې وخت دی!
سوله کوې، نو همدا اوس يې وخت دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش په مينه باندې خاورې گـــــــــــهر کېږي
چې رانـــجه شي تيـــږه ور د نـــــــظر کېږي
خـــــــر او سپی به په څه زده کړه انسان نه شي
خو انسان په لږ غلفت باندې خــــــر کېږي
که دوزخ دوزخ لمبې غـواړې جنـــت شي
د خليـــــل د توکـــــــل په اثر کيـــږي
د ساقي تر عرشــــــــــه لار د يوه گـــام ده
خو ترلاسه د مرشـــــــــد په وزر کيـــږي
که په ځان کې دې ورک خدای غواړې پيدا کړې
د **غريبـــنواز**رح د خـــاورو په در کېږي

ړنگه سپی د در د واړه اوليـــــاء شه
چې د دوی له لاســــــــه زهر کوثر کيـــږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته بنگړي دلته پازېب غلي دي
لا داختر رارسېدل لرې دي
لا مې په لاس کې ستا د وينو بوي شته
لا د نکريزو رنګ ايستل لرې دي
يوې سلګۍ پسې مې بله راځي
اختره تا ته مې خندل لرې دي
ميني مو پېغلې راته کونډې شولې
د ښکلو مخ ته مسېدل لرې دي

ړنګه اختر په افسانو بدل شو
رباب، منګی، حجره، بدل لرې دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاڼه

کنډاسو ژامو کې چینجـــــــــــــن غاښ پوښ د زر اغوندي
ځومره چې سپک وي د درنو پګړۍ په سر اغوندي
ګوډ خـــــــــــــــــــــرونه دلته بومیا دي د تازي آسونو
د پاچاهانو خول اکثــــــــــر د کلي خـــــــــــــر اغوندي
په زړه داغلی غاټول تښتي په مېـــــــــــرو کې اوسي
اوبړۍ د ناز لمن د ښــــــــــکلو په ګـــــــودر اغوندي
د وخت په تله نن درانه خلک چې سپک را خېـــــژي
مریومي ډم جــــولا جامو ســـــــره ګـــــوهر اغوندي
د معجزو وختونه تېر دي خو دې ړوند پښتـــــون ته
ټټو مزاجــــــــــــــــــــه شېخ د سپین دلدل وزر اغوندي
جګړه د فکر وه پښتـــــــــون په کې ډال شوی و چې
ډمان مشران شول او چپــــــــــن د پیغمبـــــر اغوندي

ړنګه راوېښ نه شو ما ډېر په غوږ کــــې ووې ورته
ټول د دښـــــــــمن دي خو جامې دې د دلبــــــر اغوندي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادا، بابا، نیکه او خپل وطن و پېژنه
پښتونه! ورور پښتون او خپل دښمن و پېژنه
چې یو نه شې کنداره! د خیبر سره په ننگ
پنجاب در ته گنډلی خپل کفن و پېژنه
فتوا ده چې یهود پښتون لا ژبه دوزخي
لمبه پښتونستان له خپل لمن و پېژنه
خبره د باچا ده، د خوشال د احمد شاه
لیمه، سترگې، بانه د خپل بدن و پېژنه

ای ړنگه کانه شوي، ړانده شوي پښتانه
په خرو سپار ړانده به څه گلشن و پېژنه

کنداره = کندهاره

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نظر په سپېلنو پټ‌وه
سترګې دې ما نه په کمخو پټ‌وه
هومره چې ښکارم هومره نر نه يمه
مخ دې له ما په څه پلمو پټ‌وه
دا خونې غشي داعشي بانه دې
د تورو سترګو په رانجو پټ‌وه
د سترګو تور چې دې کعبې شرموي
دا ګناهکارې په لېمو پټ‌وه
دا ښار د حسن نه بيزاره کړو چا
کور د پښتو په نفرتو پټ‌وه

رنګ دې بې زړه دی ساقي پام په کوه
غلی نظر دې له پردو پټ‌وه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عشق تور ته دې سلام وي
چې اعدام وي چې اعدام وي
د بې سرو په محفل کې
عقل جرم عشق انعام وي
د خوشال په میخانه کې
د حمزه د غزل جام وي
د غني لیونو میو
باندې مست سکنی ماښام وي
د حمید د خیال نازکې
ساقي، عقل د خیام وي
د رحمان د عشق لمبه او
د رومي سوی کلام وي
په سماع کې سپوږمۍ ستورې
په هر دام کې نوی دام وي
ملایکې هم راغلې
تماشې ته يې تمام وي
دلته شاه د زمانې هم
د کوثر د جام غلام وي
واړه خام هلته پاخه شي
پاخه واړه هلته خام وي ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (یس) په میو محوه
سي پاره په "الم" وي
لا اله الا الله د
پښتنې ساقي کهول قام وي

هلته "ړنگ" ځندی کوي چې
هر منصور ته دا انعام وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش چې مرگ، د ساه وتل ول
سترگې اوښکې ژړېدل ول
کاش زنځیر تش حسارت و
کاش دروغ په تش ویل ول
کاش ښایست وی په رخسار کې
کاش خوښي په خندېدل ول
کاش ایمان په الا الله و
کاش جنت په لمونځ کول ول
کاش گناه وه تش مردوده
کاش کافر تنها ځپل ول
د شیطان کلی معلوم و
په صورت انسانېدل ول
کاش چې شپه تنها تیاره وه
کاش په ورځ د لمر ختل ول
کاش د خدای مکان معلوم و
تورې تیږې ماتول ول
کاش چې لارې ډېرې نه وې
کاروانونه بې منزل ول
زاهدانو ته دوزخ و
جنتوته هم سېزل ول ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واړو واړو خدايانو
خوني واړه ړنګېدل ول
کاش او کاش چې جام حلال و
ننه باندې يو کېدل ول

کاش چې ړنګ ليونی نه و
نه يې شعر نه ليکل ول
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به نو څنګه څوک له ما جدا کړي
څوک به پښتون له پښتونخوا جلا کړي
دوی چې ډیورند باندې دیوال جوړوي
پښتون دې مړ کړي بیا دې ټول تالا کړي
دلته لا کاڼي خاورې وايي پښتو
دلته لا جام د مرګ ته، خلک "را" کړي
دلته لا خاورو کې خوشال ویده دی
دلته جنډه د احمد شاه نڅا کړي
د توري توري به حساب ورکوي
څوک چې ډیورند ته د سرحد وینا کړي

رنګه ! تش لاس به پښتون خاوره ګټي
سوک به کږه خوله د "اتوم والا" کړي

توري = حرف

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ته دې نښې د رخسار را کړه
را کړه د زلفو نه دې تار راکړه
چې د اوربل نه دې ستار جوړ کړم
یاغي باغي زلفې په وار را کړه
نغمې د هجر زما ډېرې زده
غزل د وصل د سهار را کړه
نورې پیالې په ما اثر نه کړي
نشې د سترګو د خمار را کړه
مقطې ته ورسېد غزل د ژوند
خال، هومره ما ته تش دیدار را کړه

منم چې ور دې نه دی هېڅ څه ته رنګ
په سرکو شونډو کې مزار را کړه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدای (ج) سره خواله

ساقي چې هر څه کې اوسېږي څه حرام ولې وي؟
څوک د زاهد کړو جنتي، دوزخي جام ولې وي؟
مستي مستي ده که په جام وي که په «حی» وي یا «هو»
کارونه واړه ستا په لاس دي، څوک بدنام ولې وي؟
ولې دې واخسته شیطان نه توبه او بخښنه؟
ای عادل خدایه ستا په وړاندې څوک ناکام ولې وي؟
څوک دې په یو دانه غنم له خپل جنت شړلي
څوک د ملکونو په غلاګانو هم نیک نام ولې وي؟
خدایه ازل کې د لیکلی قرآن او بختونه
دا فرعونیان به مسلمان دلته تمام ولې وي؟

خدایه د ړنګ بې ادبي په خپل جلال وبخښې
دا څو پوښتنې وې د زړه دا عقل خام ولې وي؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیونی پښتون

چې پیدا شي لیونی وي، لیونی ستر شي او مړ شي
چې پښتون بچې څوک مړ کړي پرې په خپله پښتون پړ شي
ته يې وژنې زه يې وژنم بل يې وژني ځان هم وژني
مودې وشوې چې مړ نه شو، څو په وينو کې ککړ شي
هديرې مو واړه ډکې په جنډو د شهيدانو
دغه خړ پښتون به کله د ساده مرګونو وړ شي
لکه ټولې سپينې حورې چې پيدا دي پښتنو ته
چې د حورو خبر راشي ليوني بيا ورته خړ شي

ړنګه زه قاتل د ځان يم، زه د چا ګريوان ته لاس کړم؟
څه به ووايم غليم ته چې پښتون مې له تا مړ شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باطن

د انبیاء وارث، شیطان را ووځی
چې ترهګر وینې مسلمان را ووځي
له مسجدو مو میخانې په امن
له کلیسا غبږ د قرآن را ووځي
هندو، یهود، ګبر ته نه شم کتی
کفري مزاج کې مې افغان را ووځي

"ړنګه" جنت نه به ورغوی جوړ وي
چې داسې تور مخ د ایمان را ووځي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اغزی (پښتون)

گلان دې نور وي دا اغزی پښتون دی
چې غیرتي دی لیونی پښتون دی
دوی دې ښایست وي موږ ساتونکي د دوی
د بل په ننگ اړم لرگی پښتون دی
پاڅوه مړ تاریخ او وپوښته ترې
پاڼه په پاڼه مېړنی پښتون دی
وړو خدایانو ته سجدې نه کوي
داسې کافر او نر سړی پښتون دی
چې ورکې سپک شي نو جنت نه مني
داسې بدمغزه ننگیالی پښتون دی

که ټول جنت ته ځي پښتون دوزخ ته
ړنگ دوزخي دی لومړنی پښتون دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو

لکه قرآن سوچه سوچه کړه پښتو
د زردشت اور شه او لمبه کړه پښتو
سترګې رندې شه د ملا او زما
په خپله غېږه کې ويده کړه پښتو
د غزنۍ کوچۍ د شونډو په څېر
خوږه خوږه لږه سپېره کړه پښتو
په هېڅ آيت يې حرام ونه ګڼې
وطن ساقي ترخه پياله کړه پښتو
زه دوزخي ځه او پښتو دوزخي
اغياره نر شه او لمبه کړه پښتو

رنګه دا ژبه او دا خلک نه مري
کنه پښتون خپله هم مړه کړه پښتو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي خورو ورو وېښتو سره دې څه تړلي؟
مسکۍ مسکۍ سترګو پیالو سره دې څه تړلي؟
چې په طواف کې په سجده کې توبه نه شم کوی
ترخو ترخو جامونو شنو سره دې څه تړلي
بېګاه مې شیخ له میکدې نه په راتلو لیدلی
په جام د جام د لګېدو سره دې څه تړلي
زموږ د کلي آذانونه میکدې نه کېږي
ماتو په لېچو سرو بنګړو سره دې څه تړلي
شیخ و زاهد صوفی او زه دې منم
دا هومره ډېرو لیونو سره دې څه تړلي
هوښیار دې ډېر کړل څوک سفر ته د حجاز کله ځي
تورو خالونو اننګو سره دې څه تړلي

چې رنګ په اور سوزېدل غواړي جنتونه پرېږدي
دې سویو سویو اسوېلو سره دې څه تړلي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستر پښتون مفکر، شاعر او صوفي غني خان بابا(رح) ته ډالۍ

غني په عشق، غني په درد، غني له شور غني دی
غني د عشق تخم، حاصل د عشق، چې عشق کړي دی
غني ساقي، غني شراب، غني نسکوره پیاله
غني خیام د بغاوت، غني د وخت رومي دی
غني لمن د اسوېلو، دلیونو گران دی
غني دوزخ له لمبو ډک په څاځکو اوبو ستي دی
غني غني دی د زاهد له سود او زیان له غمه
غني دنیا عقبا پلورلي، چې بل تار ترې دی
غني ته نه رسي چې څوک د عقل خرو سره ځي
غني دلدل، غني پرواز، غني منزل ولي دی
غني څپې د سمندر، غني لالونه دي سره
غني آواز د قیامت هغه چې صُور وهي دی
غني جانان او د جانان او له جانان جانان دی
غني یوسف دی چې په تور د زلیخا بندي دی
غني نوحه د نوح، ایمان د ابراهیم د مینې
غني چاړه، غني ذبیح، غني چې مرگ مني دی
غني منصور دی، خپله دار دی، د تکفیر حکم دی
غني هغه چې یو نظر د یار په مرگ تلي دی

غني جنون، غني زنځیر د لیونتوب د غاړې
غني د «ړنگ» سره ځندی ته د منصور رهي دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انسانيت

خبره په پښتو او نه افغان باندې جوړېږي
اسلام دې هم پر ځای وي بس انسان باندې جوړېږي
فکرونه انساني شي نو ټولنه انساني شي
مذهب هلته انسان لره قرآن باندې جوړېږي
په اُنس باندې چې خاوره تر څو خټه د چا نه شي
داړيره سترګې زلفې هم حيوان باندې جوړېږي
ملت دی او که قام دی که دا ژبه ده که رنګ
يوکېږی خو د مينې په زبان باندې جوړېږي

ملت د عاشقانو ملتونونه جلا دی
ای ږنګه ستر انسان په عشق ايمان باندې جوړېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه مرم

نه ډارېږم نر يمه پښتون يمه
نه مړ کېږم ساه يمه ژوندون يمه
هر څو که د وخت ګزار ځپلی يم
زه د آزادۍ د چغو يون يمه
څيرې ګرېوان لوڅې پښې مې مه ګوره
زور د شاهين عقل افلاطون يمه
سوبه تش په تورو غشو نه کېږي
زه زمری يم زور يمه جنون يمه
يو څه کې اغياره در ته پاتې يم
نه لرمه مشر چې زيون يمه

خوب نه دی يو کېږي پښتانه رنګه
زه د سکندر قاتل پښتون يمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جانان جانان پښتونستان

زما هر غرې اباسين وايي خيبر يادوي
اخوا د کرخې مې لېمه سترګې د سر يادوي
که يې باغي بولې ترهګر او يا غدار يې ګڼې
خو هر افغان به يو افغان په لر او بر يادوي
پنځه زره کلونه چير ته اويا کاله چيرته
د داسې ورونو بېلېدل به نو کوم خر يادوي
زه د انګريز د پنجابي نه هم ګله نه لرم
د قام په ننګ مې غدار نن پښتون رهبر يادوي
خو مورې پښتو پښتونستانه تېرېدلی نه شو
دا منصوري غاړه ځندئ وايي دلبر يادوي
مونږه بچي يو د سپينغر د سليمان د غرونو
د پلار د تورې شرنګ مې هر بوټی او غر يادوي

رقيبه رنګ مړ کړه که غواړې دا نعره غلې شي
جانان جانان پښتونستان په شپه سحر يادوي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه مې هم پلمو سره، ورو ورو کرار کرار
ووځي ستا د تلو سره، ورو ورو کرار کرار

بې له تا څه نه لرم، ستا قسم په تا قسم
مړ به شمه مړ به شم، ستا قسم په تا قسم
ستا هغو يادو سره، ورو ورو کرار کرار

چېرته به ته لاړه شې، زړه نه مې وتی نه شې
هر سلګۍ چې اخلې ته، زه يم ما کتی نه شې
نه شي هېرېدو سره، ورو ورو کرار کرار

لاړه شه خو ما ته به، لمر د آسمانونو شې
مړ به شم په قبر مې، داغ د سرو ګلونو شې
ورک به شم وختو سره، ورو ورو کرار کرار

پرېوځي د رانجو سره، هومره سپکه مينه ده
ښکلو سره نشته دی، چېرته ورکه مينه ده
رنګ شوم د پيالو سره، ورو ورو کرار کرار

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بابا (ستر ټولواک احمد شاه بابا رح) خبر يې!

ولس دې څومره بې عزته دی، بابا خبر يې؟
بې پرده شوی دی بې پته دی، بابا خبر يې؟
بابا پوهېږې چې افغان دې ذليل شوی څومره
د پنجابي ګونډو ته ښکته دی، بابا خبر يې؟
خبر به نه وې هغه تا چې به پرې سوبې وکړې
هغه پښتون غلام پرسته دی، بابا خبر يې؟
ستا په پښتو او پښتونواله باندې وشرمېږي
داسې سپک شوی نن په خته دی، بابا خبر يې؟
اميل د بل، بنګړي د بل، پازېب د بل اغوندي
داسې دښمن زموږ په لته دی، بابا خبر يې؟
د هر خنجر څوکې زموږ سينو ته جوړې دي نن
نه شته پرهر چې له موږ پرته دی، بابا خبر دی؟

بابا د تا په نوم ړنګ ډېر اغيار ته برګ وکتل
ايمان يې بس دې خپل تر کته دی، بابا خبر يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تندی تروشه ما په دې ته خندوې څه
مدام وېره ما له اوره وېروې څه
که دې هومره وي ایمان په ککری کې
نوې پیغلو ته سامان خپل غوړوې څه
ای له مینې سره ورانه ای کرکجنه
په دې کرکه جانان خدای ته لټوې څه
څو هنداره کې لعنت په ځان و نه کړې
لعنتي صورت په شونډو ښکلوې څه
منافقو مسجد بند کړه محتسبه
د پاکانو میخانه ته بندوې څه

ړنګه اور په دنیا بل کړو دې چړیانو
دې چړیانو نه اوس ښنګه خلاصوې څه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه نوی روح وتلی وي له چا نه
یا ځانمرګی دې په ورو تیر شي له خوا نه
داسې زړه زما ودرېږي بیا درځېږي
چې تېرېږم په کوڅه ستا زړه ستومانه
هومره خوږ وي غږ د سترو سندرغاړو
ما ته ستا د کوڅې سپیو غپا ګرانه
څومره نرمې چې د سپینو شونډو زور وي
ستا د کلي ماشومانو تیږې کاڼه

عشق که څومره هم ظالم شي ظالم نه وي
مینه خدای وي رنګ پیدا شي له فنا نه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



په میخانه کې خاورې شوی اوربل څه ځوروې
شوی په رگ رگ په شرابو بدل څه ځوروې
په میخانه کې مې رسی د زړه ساقي واخسته
ای محتسبه لیونی یم عقل څه ځوروې
که اوس مې ووې چې جنت سره دې کار نه لرم
وایې بې عقله یې، بیا ته بې عقل څه ځوروې
لاړشه زما سره حساب ته د گناه مه کوه
برخې که شې نو کړه بدل منفعل څه ځوروې

د جام خوني سترگوته زه رنگ کله ټینگ نه شومه
زما بې چاره شهید زړگی له ازل څه ځوروې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه یو کېږي، پښتانه لکه وېښته دي
د زمان په تندي داسې پرېشان ښه دي
که هر څو يې سمه ومه نه سمېږي
له آدم تر نن پېتاوې ته پراته دي
خلک پاتې شي له يون نه يو څو گامه
دوی چپه روان، کاکل غوندې خواره دي
څنگه وايې؟ د پيل زوی ته، ابن پيل ته
چې غويو مشرانو خپتو ته واښه دي
لکه وښيي ړانده سرې ته لار څوک
سترگې وباسي د تا چې، د تای څه دي؟
که د دين په نوم يې آس غوندې څوک نال* کړي
کافر کېږي چې به وايې، داسې نه دي
نه زما مني نه ستا او نه د بل دوی
نه په خپله څه خبر دي، پښتانه دي

چې خوشال په توره سم، په قلم نه شول
"ړنگه" پرېږده ژوبل ژوبل داسې ښه دي

*نال= نعل

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیاسي ډمان

د سیاسي ډم به څوک برم، دستار، ځواني ته ټینګ شي
پاچا، خوشال یې که پښتو پښتونولي ته ټینګ شي
ځکه د ښار فاحشې ستر ستر دستارونه تړي
کوم نمازي به یې سجدو ربښتینولي ته ټینګ شي
د منافقو تراویح دي ډېر کلونه وشول
خدایږو نبیان که یې روژو او پېښنمي ته ټینګ شي
که دا ملا که دا زاهد که دا صوفي وي زموږ
په والله بالله که شیطان یې هم سیالي ته ټینګ شي

ړنګه عزت د بې عزتو په بازار خرڅېږي
څوک به د دې بازار بایع او مشتري ته ټینګ شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاک که څومره هم اوږدېږي څنار نه شي
چې پيدا نه شي هوښيار نو هوښيار نه شي
تعقل په سن و کال په عمر نه دی
ډانگی هر څومره که زوړ شي ستار نه شي
هېڅ مکتب باندې ادب چا القا نه کړو
بې ادبه با ادب په دستار نه شي
لکه رنگ د گل ازل نه جانان ورکړي
بيا بدل به په زحمت د مليار نه شي

ړنگه وتله خلک تمه هومره ساته
تره که څومره هم زهير شي خو پلار نه شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د یو عرب نصیحت دی خپل زوی ته چې ما په شعر اړولی خو اوس يې د ځينو برخو سره همغږی او هم فکره نه یم، ځکه جنسيت په تعقل او شخصيت کې ونډه نه لري.

که مې اورې يوه خبر له زړه نه صافه
بې له ښځې څه ژوندون وي څه يې لافه
خو له ښځې چې د ژوند وي څومره گټې
دا ببرۍ ښځې د سپي غوندې بيا غاپه
که دې کله د واده فکر په سر شو
کړې به نه ته انانه بله منانه
حنانه او حداقه او براقه ته
يوه بله ښځه هغه چې شدّاقه
انانه ښځه هغه چې تل شاکي وي
منانه په تا احسان کړي چې ناځوانه
حنانه به تل د مړ مېړه صفت کړي
پوره نه به فرمايش شي د حداقه
براقه به تل سينگار پسې زغلېږي
شداقي ښځې د ژبې د خدای ساته

ړنگه ښځو باندې ډېر گوره لرېږي
يو صفت د جنت ښکلې ښځه پاکه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د روپۍ او د پیسو خبر شي
واړه په یو دین شي او یو ممبر شي
مفتي جنت له دینه وباسه لېږ
ګوره زاهد به هم په کفر سر شي
وحدانیت مو د مفاد هنداره
ګڼي منطق مو هغه زوړ ګوډ خر شي
شیخ او ساقي وران په شرابو نه دي
د شراب څښلو پاره باید نر شي
"
ږنګه" دوه رنګه ده رنګونو دنیا
دا یو پښتون به تل دا لر او بر شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موركې!

زړه غواړي مورې ستا ليدو ته كتل
اوښكو كې اوښكې ستا لېمو ته كتل
زړه غواړي مورې رېږدېدلی لاس دې
سوال ته اوږد شوی ژړېدو ته كتل
زړه غواړي مورې چې زه څمه درنه
ته راپسې شې ستا راتلو ته كتل
زه غواړي "خير دی بچی خير دی" د تا
زما "څه وركه شه" ويوو ته كتل
زړه غواړي ستا د مايوسی خبرې
زما د ويده وجدان كتو ته كتل
زړه غواړي ستا تنهاكې پښې موركې
زما حامله غټو كولمو ته كتل
زړه غواړي ستا سر توری سر موركې
بيا بې ناموسه ستا بچو ته كتل
موركې څار موركې مړ نه شومه
هر چا دې سويو اسوېلو ته كتل

موركې ما رنگ كله ونه بخښې
تا سوال كوو ما دې لېچو ته كتل

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مسلمان او نه افغان پاتې شم
که قافلې نه د انسان پاتې شم
پاتې شم زه هرې سیالۍ نه ځکه
چې پښتونوالې له قرآن پاتې شم
زما پښتو او دین لېمه او سترګې
ړوند شم ښایست نه د جانان پاتې شم
مسجد ته څه ځم چې پښتو مې نه وي؟
بې پښتو خنګه په ایمان پاتې شم
پښتو پیاله او میکده سپېڅلې
خنګه له دې ساقي اذان پاتې شم

ړنګه دا خلک لیونو غوندې دي
که لیونی شم چې افغان پاتې شم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېخه څو چې د شرابو سره وران شوې
ډېر بې لارې شوې کم عقله شوې نادان شوې
چا په عقل د ليلاٰ لمن نيولې
عقل خر که (کړه)، که د عشق په لار روان شوې
جام اوچت کړه د ساقي په نوم يې وڅښه
د منصور غوندې به وايې چې جانان شوې
چې جانان شوې ځان ته مه ګوره بيا هلته
اناالحق که هر ذره کې د خپل ځان شوې

رنګه راشه راشه مه تښته له عشقه
که طالب د يس جام د لامکان شوې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



وگوره دا زړه لیونی څه وایي
بې له مینې هر هر څه ته نه وایي
نه ویني او نه اوري بس نه اوري
لاره د اغزو ته هم دا ښه وایي
خوی د پتنگ اخلي او د شمعې خوي
سرو لمبو ته دانگو ورتوبه* وایي
سر که په بدل د تش دیدن وي نو
دار ته د منصور په دود خاته وایي
چیرته مخ د یار او چیرته دین ایمان
دین ایمان ته مخ د یار کاته وایي
سپی د یار د در له پاچاهۍ نه ښه
خاورو ته يې طور د غره رانجه وایي
عقل په لومړي قدم په مینه کې
ورک شي نور نو هر څه هر څه زړه وایي

ړنگه خدای په مینه که پیدا نه کړې
عقل د خره خېټه تش واښه وایي

ورتوبه = ورته اوبه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپک خلک

سترو نه د سترو تمه ولره
تشه کټوۍ سپک خلک به څه لره
سپک سره په خپله سړی سپک ښکاري
خروالا یادېږي څوک چې خره لره
نن سبا په جیب پورې تړلې ده
سم سړی شوده شي چې څه نه لره
ډېر یاران ساتل که څه کمال ښکاري
ړنګ غوندې دې یو وې غم یې مه لره

غمی = غم یې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا نيم مخ ته!

له نيم مخ دې داسې نيم شم
لکه نيمه ساه نيم زړه...
لکه نوي ساه وتلي
نيم ساړه وي نيم تاوده
لکه نيمه نيمه شپه کې
خورې زلفې نيمه خوله
لکه اور په اوبو بل شي
نيم انګار او نيم ساړه
لکه وژاړي څوک چاته
په ليمو اوښکې پراته
لکه وسوزي په اور کې
بې ګناه په اور پاخه
لکه نوی څوک کافر شي
ايمان وي په تله را تله
لکه نوی ميکدې ته
په ډار ډار راشي زاړه
لکه غواړي خوله له چانه
او په مړو سترګو کاته ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه کور د چا ویران شي
بې له څه او بې له څه
لکه ونښکاري بندي ته
کلو پس د آسمان شنه
لکه غږ شي دوزخي ته
راشه ته او راشه ته
لکه ورکړي څوک یتیم ته
خپل د خوښې ښه خواږه
لکه ورکړي کربلا کې
یزید چاته سرې اوبه
لکه پرخه په غوټۍ کې
د ګل زړه نه واخلي سره

لکه رنګ چې ته میلمه کا
سترګې جام کړې فرش لیمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاهده غږ دې تر آسمان نه رسي
دا څه له زلفو جوړ رباب خو نه دي
په زم زم کله ستا سرشت بدل شي...
دا د ساقي سترګو شراب خو نه دی
ای کبرجنه ای ډارن زاهده!
مین شه !مینه ده عذاب خو نه دي
که دې لیلا سره دوزخ ته بیايي
جنت دې ورک شي، څنګل خواب خو نه دي
مینه دا نه چې دې په خوا کې اوسي
مینه ده، رب دی، در کلاب خو نه دي
مینه کې نه شته راکړه، ورکړه ده ټول
مینه باران دی زلفو تاب خو نه دي
کله د چا له پاره اور واخله
د عشق اصول دي څه ثواب خو نه دي

رنګ چې په عشق کې ورته پاتې راغی
معشوقې زر دي څه تراب خو نه دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عشق د پاتو امېدونه نه وي
د ماتو زړونو آوازونه نه وي
چې مې آواز تر تا ونه رسېدو
د ځينو ځينو قسمتونه نه وي
ته دې خوشاله وې چې هر چېر ته يې
زموږ ساه خېژي چې غمونه نه وي
آه بيا به هغه پخوانی نه شې ته
چې مې په سترګوکې نمونه نه وي

د ړنګ ناکامې مينې هېره نه شې
نور لرم څه که پرهرونه نه وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هوښيار نه شي پيدا څوک په ازل کې
په قرآن که يې په وحې بيا بدل کړې...
چې پيدا شي څوک هوښيار وي يا کم عقله
سيوری لمر نه شي نه لمر به د چا ضل کړې
عقل ځوان نه شي د وخت په تېرېدلو
د لېوه له ډار په منډه به څه شل کړې
که شاګرد د جبرئيل شي واړه عمر
دا د ځنو به په خدای که نولس شل کړې
چې څوک نه ځي نو په غېږه کې بې بوځې
نوش دارو چې نه خوري څوک نو څه به چل کړې

ږنګه لاس د پرې کوو دی چې څوک غل شي
ټول پښتون خدايه د پوهې پسې غل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړنګ ته ستا ستر‌ګي کافرې
ړنګ ته کفر هم ملګرې
ړنګ ته کفر ایمان نه شته
چې هر څه کړي ستا خبرې...
چې هر څه کې
هر څه ته یې
بیا ته زه
او زه هم ته یې
ړنګ ته هغه سترګې ورکړه
چې له اوره خوري بخرې
ته یې اور او ته جنت یې
ته یې شهد
ته شکرې
ته لمبه د ابراهیم یې
ته یې بت او ته آذرې
ته کعبه ته کعبه نه یې
چا ته زړه کې
چا نه لرې
خوله مې بنده
خوله ماته
ته اوبه یې
ته نښترې
اور به بل شي ړنګه چوپ شه!
که پرې پوه شي وچ ککرې
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تا په خوله راشم نبات نبات شم

زهر وم تريخ ومه له تا نه شات شم

هندو صورتې ښايستو نه ډکې

هيڅ وم له تا سره خبر شم بات(۱) شم

ايت وم وِرد وم د صوفي د ذکر

نځا شم تاسره مطرب صفات شم

د مرگ هيبت وم د بسمل پرهرو

تا سره روح د خدای، ټول کاينات شم

تا سره عرش شمه د خدای جونگړې

بې تا کعبه کې سپک شم هغه لات (۲) شم

د گل رنگ، گل رويې، گل ورږم، «پرخې»

بې تا د وخت محمود ته سومنات شم

جبرئيل غږې، قرآني وحيه يې

منسوخ وم تا سره سوره، ايات شم

په دې "ړنگ" پوه دی مسيحا نفسې!

چې ځې، په تلو به دې ښيښنه شم مات شم

بات = خبر(هندي)

لات = بت (په کعبه شريفه کې د يو بت نوم )

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرښتو سترګو حيا په شانتې
وړو وړو خولو د مسکا په شانتې
د ګل په مخ هغه نازکه ښايست
وږمو اميل نه خور هوا په شانتې
د محبت د خامو تورو په رنګ
د عاشق زړه وتې دعا په شانتې
د انځورګر له رنګ رنګينه انځور
د ګل له روح نه جوړ دوا په شانتې
نوې مين د اميدونو غوندې
د سترګو تورو معما په شانتې
د زاهدانو د جنت تخيل
د لوی ځښتن د مسيحا په شانتې
د نوې پيغلې د غرور د څادر
په غوټۍ شونډو د خندا په شانتې
د سپين جبين په سر ځندۍ ماتېکه
د سپينې زنې د رڼا په شانتې
د هر ښايست ځانته را ښکلو هنر
د نجونو لاس کې لوند ديبا په شانتې
څه در ته نور ووايم خدای د مينې
د فارسي ژبو د "خدا" په شانتې

بس چې د ړنګ وې کابلې جانانه
د هجران غم او د سزا په شانتې
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



منکسر نور جوړوي د بوډۍ ټال
ګنې يو دی زېړو شين و تورو سپين
د انسان جوهر او ار دی الهي
انعکاس يې څوک فارسي کړو څوک پکتين
خاوره ونه ميوه ټول دي له يو اره
غوره نه دی څوک په خوند او څوک جبين
تشه مينه څوک بنده کړي څوک مولا
په جهان به پيدا نه شي ترې غټ دين

تفسير د رنګ د محمد د دين دا
مينه، عشق او محبت عين اليقين

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې نه ده چې تش زړه درپسې لوېږي
چې ته نه وې دغه ستوري هم رالوېږي
چې په کوم آسمان کې نه وې بدرئ مخې!
خدای به څنگه هلته ځان سره اوسېږي
اوس نو راشه زما جونگړه تشه گوره
دوزخونو غوندې بې گناه سوزېږي
ای گل خویې! نرگس رو یې! په دې پوه شه
د باڼو اغزي مې تا پسې خوږېږي
غم دې نه دی د فلک تورې تیارې دي
د تسل په رڼا لا پسې تیرېږي

هو، په مرگ باندې آرام شي د ړنگ مات زړه
دریغا، ته په کې اوسېږې نه ودرېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تار د زلفو یې ازل بل په ابد تړلی
ځکه له یو تاره تر بله رسېدلی نه شم
هغه وزر چې د مجنون ؤ هغه دښتې غواړي
زه یې تش نور ته د بدرئ مخ هم کتلی نه شم
چې پښتنه بله شیرینه نه شوه، ګرم یمه زه
د نن فرهاد یم زنخدان په غره ختلی نه شم
د خال کعبې د زاهدانو خونې رنګې کړلې
که همدا خال وي نو سپېره جنت ګټلی نه شم
وروزې، لیمه، سترګې، بانه سره اننګي او شونډې
په ما جرګه دي محتسبه ستا منلی نه شم

معشوقه نقده ده ستا رنګ ته او جنت په شرطو
زه تل ناکام دا بل قمار هم ستا وهلی نه شم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمان چې ووري څه دليل نه غواړي
ځيني چې ځي زړه بل بديل نه غواړي
لاړ دې شي، څوک، څوک ودرولی نه شي
سلګۍ هم وړي او هم قتيل نه غواړي
څه څوک د ځينو سره څنګه تړي
مه پوښته هېڅ بيا قال و قيل نه غواړي
د زړه کارونه لکه خدای چې کوي
ګريوان خړوب شي باران نيل نه غواړي

د رنګ ماشوم زړه چې به کله ځوان شي
تا غواړي تا بل هېڅ دليل نه غواړي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې سترګې پښتنو کې پښتنې پاتې دي
هغه حجرې تشو لېمو کې پښتنې پاتې دي
يوازې هغه پښتنه سوې ګودر او کلي
سوې جنډې پاتې ايرو کې پښتنې پاتي دي
له هر لوېدلي ديوال چغه د ماتم پورته ده
بسمل ټپې د مَړو خولو کې پښتنې پاتې دي
د پښتونوالې تعريفونه مو اغيار را کوي
پښتنې کړنې سرخازو کې پښتنې پاتې دي

هغه د ږنګ ورکه، يتيمه او بې وځله پښتو
د تاريخ ورکو هديرو کې پښتنې پاتې دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معنا

خپل څرمن له سره بره خپله مار کړه
سړی سپک، خپل سپک عمل او سپک گفتار کړه
کتابونه واړه جوړ دي له کاغذو
که درنښت د قرآن غواړې معنا يار کړه
تل هغه چې په سر ناست وي شمله نه وي
د ديوار په سر خځلې هم دربار کړه
راز د زړه که دې د غره سره هم پټ کړ
همدا ستا په مخ به بيا هغه اظهار کړه
هېڅ څه نه لرو، پروا هم د څه نه شته
دا ادب چې را کې نه شته دا مو خوار کړه

رنگه بيا دې که را تله شو دې جهان ته
ادب زده کړه بې ادب واړه سنگسار کړه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاپې

هر چانه په هر څه کې چې پاتې دي
نه اوري، کاڼه دي، خوشې ګاټې دي
دا د سترو سترو پښتنو زامن
څه چې لري هغه سترې لاپې دي
خدايږو په کې دين نه پښتونواله شته
پاتې بومياو ته تش غاپې دي
ستر تاريخ او سپک حال ته مو وګورئ
ولې ؟ نن په څه مو ملاوې ماتې دي
ويښ شئ! ای د مرګ په خوب ويده خلکو!
هر چا جنګ کې ستاسې مړي پاتې دي

ړنګه لا به نور پسې ذليل شې ته
لا خو د غليم ارادې پاکې دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه سره لوبې کول ښه نه دی
مخ ګرځول بیا پټ لیدل ښه نه دی
تا سره زړه وایي چې مینه کوم
بیا لیونی زړه ته ویل ښه نه دی
له هر څه هر څه په تا تېره یمه
بیا د پښتو منځ ته راوړل ښه نه دی
لکه خبره مې په شونډو اوسې
بیا ویل شونډې ښکلول ښه نه دی
زړه د بڼو په غشو څیرې کول
پرته په زلفو تار ګنډل ښه نه دی
د زړه مرغه په مینه وور غټول
د خال دانو باندې وژل ښه نه دی
چې په لار لاړې د سرتېرو سره
په نیمه لار، لار بدلول ښه نه دی
څوک چې له تا د زړه خوښۍ څاروي
تنها خندل تنها ژړل ښه نه دی
دا منم مینه د هرچا کار نه دی
نفرتو کې هم اوسېدل ښه نه دی
که لیلا نه شوې هومره هم پوهه شه
د لیونو دې سپکول ښه نه دی

هیڅ رنګ ته مه کوه په مینه نظر
په کبر مخ هم ګرځول ښه نه دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دې په رانجو کې په وفا د سويو رنګ نه شته
ستا کعبه مردوده ده طواف ته يې پتنګ نه شته
لا ړه شه منسوخه يې د مخ کتاب د نه لولم
ستا د کافر خال سره زما د مينې جنګ نه شته
هر تار دې د زلفو سراطونه د وفا ول خو
ای بېوفا خدايه د عشق اوس يې هغه ځنګ نه شته
ډېرې جنازې به دې په اور د شونډو وسولې
ای هندو مزاجې نور د هېر کافر ملنګ نه شته

زه دې په جفا باندې خپه نه يم خو هومره چې
ژاړمه زړګي ته ستا چې نور په کې ستا ړنګ نه شته

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې مينې کافر وم تا ايمان سره عادت کړمه
ولې رانه ځې چې دې د ځان سره عادت کړمه
مينه که دې نه ليکله ما ته د ازل ساقي
څه له، څه له، څه له دې جانان سره عادت کړمه
زه ومه او دښتې وې رمې ولې پيايلې مې
مړو سترګو پيالو زلفو زندان سره عادت کړمه
زړه به له غرور چې نه کړه خدای ته د الفت سجده
خرڅ شوم په روپۍ چا دې دوکان سره عادت کړمه
ګل د وفا مړاوې شو ستا لاس او ستا اوربل پسې
ای د زړه بهاره چا خزان سره عادت کړمه
ډېر مې يوسف مخي په روپۍ باندې اخستي ول
تا زليخا خويه کړم تاوان سره عادت کړمه
شمعه نه وم زه چې به د شپو تر پايه مړ ومه
زړه لمبو، لمبو کې د ګزران سره عادت کړمه

"پرخې"! رنګ ته نښې هېڅ ګل ستا د مخ ورنه کړلې
داسې ښکاري تا دې د هجران سره عادت کړمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پښې د تړو نه دي
زه د عقل لیونی یم
دا کیسې د ویو نه دي
تر السته پخوانی یم
وم د نوحِ سره بېړۍ کې
په کنعان کې ځولنی یم
د یونس سره اوبو کې
د احمد سره ثوری یم
له هوښیارو یم بېزاره
زه مجنون یم صحرانی یم
زه پتنگ یم زه یم شمعه
نامراده سبانی یم
زه کافر یم زه مؤمن یم
زه هر څه کې لومړنی یم

چې ړنگ یاحی و یا هو کړي
بل منصور یم بېتنی یم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځم تا نه لرې د اغزو په څوکو
د اسوېلو سرو وږمو په څوکو
له تا جفاوړمه وفا پرېږدمه
په اوښکو ډکو د باڼو په څوکو
پتنګ وم مینې په سودا پوهېدم
دا چې به سوزم د لمبو په څوکو
ما دې په سترګو کې سبا لوستې وه
چې ورځ مې توره شه رانجو په څوکو
څنګه رایادې کړم د مینې کیسې
د لباسې ماتو لوظو په څوکو
د پاتې مینې خاطرې داسې دي
داغدر غاټول د دښتو غرو په څوکو

ړنګه له مینې یې تش دا پاتې شول
نرۍ سلګۍ د نیمو شپو په څوکو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـ ښځه ـ

رنګ له ورایه که مهتاب وي
حورو سپینو کې حساب وي
لکه ګل وي ښایسته مخې
لکه خار یې خوي خراب وي
سپی ساتل ورځنې ښه دی
زرزري ښځه کلاب وي
واړه ارز د انسان خلق دی
پاتې سوری وي سراب وي
لکه بوټ چې ډېر اړین دی
خو چې تنګ وي ژوند عذاب وي
کوم چې خلق لري صورت نه
خواږه تریخ لکه شراب وي
که صورت سیرت وي دواړه
هم خرما وي هم ثواب وي
خدایه ړنګ ورځنې ساته
که نبي د ستر کتاب وي

*د دې شعر سره تر ډېره اوس همفکره نه یم، یا کلیت نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د شاتو زهرو خوند دی، که دې خوښ دی که نه
بس داسې ژوند بس داسې ژوند دی، که دې خوښ دی که نه
اوس دې په غاړه پرې وتلی څه بدل نه لرې
جهل هم بحث د پسند دی، که دې خوښ دی که نه
چې د ازل ساقي گرېوان هم رانیولی نه شې
بنده په داسې بند کې بند دی، که دې خوښ دی که نه
دلته وفا بدل جفا، دلته رټل رټل دي
دلته د هجر شپو مړوند دی، که دې خوښ دی که نه
انسان د یوې مړی، جامو او د سلگو له پاره
د چا د سپو خادم د گند دی، که دې خوښ دی که نه
ځملي د زرو په تلتک کې ابو جهل د وخت
ورته درشل کې هنرمند دی، که دې خوښ دی که نه
موږ په دروغو خوشحالېږو، نه چې نه پوهېږو
پرون د نن له پاره پند دی، که دې خوښ دی که نه

ړنگه امیل د ژوند ترړلی په امید کې ښه دی
گنې بندرنگه یې هر بند دی، که دې خوښ دی که نه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شراب وي او شباب وي شېخه ته ولې سوزېږې؟
قسمتونه چا ليکلي ؟ ته په څه په دې سوزېږې؟
نه به زه کله زاهد شم نه به ته په ميو مست شې
څه چې ته خښې په جنت کې، زه يې دلته که پوهېږې
د ازل ساقي له دره، بې له مۍ غوښتل حرام دي
بې ميخوره ميخانه کې کوڅه ډب يې که اوسېږې
راشه راشه مسلمان شه د رندۍ پياله کړه پورته
څه ډارن ډارن فکرونه، که پښتون يې څه وېرېږې

په يوه تريخ ځاځکي د ميو رنګ پلورلې دا دنيا ده
قلندر شې ليونی شې بيا په دې سودا پوهېږې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمعې ته چې په سحر مرې، زه هم سم مرم
زه د تا په شان د زړه له غمه هم مرم
د خوږې مينې يادونه داسې تريخ دي
اخ، کمبخته بخته زه دې له مرهم مرم
دا زما کمبختي نه ده نو بيا څه ده
زه د عشق د محبت خدای له ستم مرم
د ليدو غاټکي سم راته انګار شي
زه له يو ځاځکي باڼو په سر له نم مرم
له يوې سلګۍ مې ټولې ورته ځار کړې
زه له دې خپلو بې قدرو سلګو غم مرم
زړه پوهېږې چې په عشق کې خوښي نه شته
خو زه هجر او وصال کې هم هر دم مرم
معشوقو ته خدای ورکړی عجب خوی دی
زر يې يو ناز باندې مرم خو لا هم کم مرم
ای زما نازکه زړه څه به مرهم شې
چې د يار د سترګو ميو په کرم مرم

ته به ړنګه له دې بڼه خنګه ښاد شې
چې دې فال وايي په عشق کې د شبنم مرم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څوک نوی نوی میو باندې راشي
بېرته ولوېږی له جام سره چې پاڅي
ته چې پرخه شوې په ګل باندې پرته وې
په دې بڼ کې ګلان څکه داسې ناڅي
چې دې سرې شونډې په ګل باندې پيرزو کړې
د عاشق له زړه نه اور د حسرت څاڅي
د جنت قدر په حورو باندې ډېر دی
ګل له تا چې ستا اوربل سره په خوا څي

نیم صورت دې ړنګ لیدلی خدایه خیر کړې
داسې نه چې بیا په عشق د چا رسوا شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګازې دي په ګوګل کې، چې بیا زړه لیونی شوی
زنځیرونه یې شلولي، ښه دی ښه لیونی شوی
په سجده کې جانان نه شته په کعبه کې جانان نه شته
ځان ته وایي کور د خدای یم هوښیار که لیونی شوی
په یو خیال په یو تصویر کې، په یو سیوري په یو نور کې
د چا خال ورته ښکارېږي په نه څه لیونی شوی
حقیقت په آیینه کې مجاز ښکاري مجاز نه دی
عقله ونه دې لا لنډه ستا نه زه لیونی شوی
ځار له داسې لیوني نه چې هوښیار ورپسې مړه شي
بې له څه او بې له څه نه بې لیده لیونی شوی
نو په لار د لیونو به عقله کله قدم نه ږدې
سقراط او افلاطون هم له دې نه لیونی شوی
دلته مه پرېږدئ زاهد چې نامحرمو ته حرام دی
عقل خر او زړه سلطان دی خر ویده لیونی شوی
ته یې غواړه په جنت کې دا همدلته په حجره کې
دا له خدای سره نڅا کړي او که ته لیونی شوی

ړنګه تش ګوګل رباب کړه چې ساقي دې مېلمه کړی
د "یس" شراب کړه پورته خوږ ترخه لیونی شوی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي هغه شراب را چې ما لمبه کړې
د دنیا او عقبا غم له ما کوته کړې
چې له ځانه هم جهانه بېگانه شم
اناالحق مې د منصور د خولې نعره کړې
چې د کفرو د ایمان له حساب ووځم
لکه لمر را ته روښانه ورځ او شپه کړې
لا اله الا الله، الا الله نه کړم
په سینه کې د ساقي جوړه کعبه کړې
کاینات چې واړه مانه په طواف شي
د "یس" د میو جام زما سینه کړې
ساقي مستو مستو حورو نه دې جار شم
ته زما شه، زاهدان یې دیوانه کړې

ږنگه کله چې په میو باندې مست شي
لیکل مه کړه چې کاغذ به هم لمبه کړې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داړلو تفسير پرېږده، يوه كرښه مينه زده كړه
په دې حورو دې ډېر مړه كړو، څه د عشق له دينه زده كړه
چې په شتون كې دې ژوندي وي، او په تلو باندې دې مړه شي
دا كمال سرې سترګی شيخه، ته له ساه له وينه زده كړه
څوک په شوندو حلال نه شو، چې پستې دي او خوږې دي
چاړه كېږي چې زړه كلک وي، دا هم له آيينه زده كړه
دوه رنګي او دوه خبرې، زموږ مرګ ښه، تا ته خوتې
هر صورت ته خپل صورت شه، دا خوي له آيينه زده كړه
هره ستونزه ټول كارونه تشدد سره ورانېږي
كله سخت شه كله نرم، دا له خپله غينه زده كړه
خپل تاريخ او خپل پلرو ته وفا ښايي وفا وكړه
منم خوی دې د پيشو دی، وفا لږ له سپينه زده كړه
رنګ ته مه وايه چې ولې، په ادب كې بې ادب شوې
د ناروغ علاج له پاره له طبيبه سپينه زده كړه

آيينه= له وسپنې
آيينه= هنداره

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنو یارانو نه کړم دروند، چې ولې؟
د عشق باران نه کړمه لوند، چې ولې؟
څو گز پگړی، بریت او پښتو ژبې هم
د عزت تار کې نه کړم بند، چې ولې؟
وربښمین تلتک او دګلابو عطر
وایي لا بوي کوم د گند، چې ولې؟
د سپینو زرو لوښي، می او کباب
کوځه ډب سپی یمه بې پند، چې ولې؟
چې ستر مفتي شم او ادب مې نه وي
مه پوښته، نه شوم هنرمند، چې ولې؟

مانا چې ورکه وي، ظاهر ووینې
مه وایه رنګ شي ناپېژند، چې ولې؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک به له څه څوک به په څه ډارېږي
ورځ د قیامت نه ډېر ښه ښه ډارېږي
خو زه په خدای که له هیڅ څه ډارېږم
زړه د مړ قام په بیا لیده ډارېږي
زه له پښتون بله ګېله نه لرم
له پښتونوالې پښتانه ډارېږي
خدایه دا څنګه خوب شو؟ څه پرې وشول؟
د غلامۍ له پېغور نه ډارېږي

رنګ چې د دوی له حجرو زړه شلولی
پښتون د پلار په پل په تله ډارېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نن پښتون

نن پښتون کې پاتې څه دي نور له پلاره
«نوم»، هغه هم غلط لیکي دا ناکاره
خپه نه شئ حماقت کې هومره ښه دي
ورور ورور وژني چې دا کار د دین له پاره
اتفاق په کې قرآن د هندو کور کې
گل د مینې زرغون نه شي په دې شاړه
د خوشال بچی یم زوی د احمد شاه یم
بس په دې خبرو خوښ دی ړوند بې چاره
گنې تور پنجاب ته داسې مات و گوډ دی
چې «افغان» بللی نه شي ځان له ډاره
د پښتو د پښتونوالې مزار ورک دی
اوس یې ژبه هم ده پاتې له گفتاره
په اردو په فارسي ژبه بیا گړیږي
چې قلم واخلي څه زده کړي شي هوښیاره
موږ همدومره هم هوښیار یو د رب شکر
چې پښتو گڼو خیرن مخ، له نصواره
لره بره یو پښتون دی، خر پرې خاندي
کوم پښتون؟ دا دروغ مه کوه نور یاره
د خیبر دره چې لار د تلو راتلو وه
دروازه په کې پښتون نه کړه تیاره ؟
اخ، د ړنگ زړه له پښتونه داسې تور دی
لکه تور د پښتون زړه له هوښیار کاره

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاڅه!

مه ډارېږه ای پښتونه اسرافیل شه
د خپل پت عزت دښمن ته عزرائیل شه
د دنیا په سر کوم قام نن آزاد نه دی
ته په څه یو پنجابي ته هم ذلیل شه
پاڅه پاڅه د خوشحال توره په لاس کړه
د خپلواکو قافلې سره رحیل شه
پاڅه پاڅه د دې مرګ له خوبه پاڅه
د دې عصر د ژوندو په قال و قیل شه
یا ته هغه ته لنګی ورکه لنګ واخله
یا په نره یې قاتل شه یا قتیل شه

که دې وینه د افغان وي په رګو کې
ړنګه مړ شه خو آزاده، مه ذلیل شه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلان وفا غواړي وفا نه کوي
زړه هم له مينې هېڅ حيا نه کوي
چې زړه د گل سره په ښاخ کې خوښ دی
اغزو نه تمه دې دوا نه کوي
د مليار لاس له گل نه رنگ اخستی
د تحمل دې هم دعا نه کوي
په اننگو د گل دا پرخې نه دي
مه وايه دا چې گل ژړا نه کوي
چې اسوېلو جرگې گرېوان ته ورشي
تنې يې خيرې شي بقا نه کوي
مينه دا نه ده چې وصال ته رسي
پتنگ او شمعه شپه سبا نه کوي
مينه دا هم ده چې به ته سوزېږې
چې په مسکا شي چې مسکا نه کوي

رنگه ته خاورې شه چې زلفې گل شي
قيس چې کړي څه هغه ليلا نه کوي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترگي مې سپيني شوې اورونو کې نور
له دوزخو دې خدايه نه وېرېږم
هره شېبه هره ذره مې سوزې
په کومه ورځ دې خدايه نه ژړېږم
گوندې افغان يمه گناه مې داده
هر يو خنجر ته به ستا زه ودرېږم
له اوښکو چغو سترې شوی يمه
ليونۍ وريځ يمه بې څه ورېږم
زما له حورو او جنت توبه ده
که په دنيا دې شېبه وخندېږم

د رنگ ويران وطن ودان که خدايه
خدايږو جنت پسې که وژړېږم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تلې، ما مه گوره، دا زړه مې هومره زغم نه لري
چېر ته به ساتي هومره غم، غمونه کم نه لري
زما د زړه په ويرانو کې آوازې گډې دي
بيا به ويرانه، ويرانه شي للمې نم نه لري
يوسفي مخې چې ته نه وې يعقوب سترگې څه کړي
ته يې منې که نه، دا زړه وس د قسم نه لري
چې تلې زما سره يوه شمعه بله وه بالکې (۱)
چې هيڅ مزار بې سويو شمعو بل همدم نه لري
تللې چا نه دي ستانه کړي، چې د ساه غوندې وې
ساه چې ځي هېڅ طبيب د تللو ساه و دم نه لري
ړنگه وفا د ښکلو هومره وي چې وبه ژاړي
ځي د بل چا سره چې مينه څه بې غم نه لري

-------

( 1 )بالک = هغه څوک چې په مينه نه پوهېږي،
بې تعليمه، د فقيرانو خدمتگار، بالکې = مونث مخاطب

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دا نه منمه شېخه، چې شرابو سره وران شم
دستار وتړم تسبیح کړم، د ریا په لار روان شم
ګوره څومره پاک سپېڅلي، دا ترخه ترخه شراب دي
چې یې وڅښم آیینه شم، سراسر واړه ایمان شم
محتسبه څومره ته چې، زما بد وایې کړې کرکه
که شراب رندانه وڅښې، دا زه بد به دې جانان شم
محتسبه راشه ګډ شه، د دې میو په ثواب کې
ته به هم سراسر عشق شې، زه به تا ځنې قربان شم
راشه وګوره ساقي چې، د ایمان له خُم خاني نه
پیمانې جوړوي ډکې، چې ذره ذره قرآن شم
پټې سترګې پټ غوږونه، لا ترڅو له عشق بېزار یې
خدای ساقي او جام یس دی، زه به څنګه پښېمان شم
عالم واړه نن نشه دی، د ساقي طواف خانه کې
زم پیالو سره ګډېږم، چې د روح د څښتن ځان شم

د پیالو نه پور ته کېږي، الا الله د خدای تر عرشه
د منصور د عشق آواز دی، رنګ یم خوښ په دې تاوان شم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې د وي داسې، که د تا مینه همداسې ده
ما شره بیا بیا درځم، زما مینه همداسې ده
مه لره په ما یقین چې تا پسې به خاورې شم
خاورې ځواني نه ګورې د چا مینه همداسې ده
ګل چې درته راوړمه اغزو سره مې وتلې
زه اغزي هم ښکل کړمه چې دا مینه همداسې ده
چا ویل چې مینه شه، چې مینه مینه مینه شي
مینه شوم لمبې د کړم دا ستا مینه همداسې ده
یاره دا وفا کول خو ګران هم هومره نه ول تل
یا مې برخې داسې که رښتیا مینه همداسې ده

رنګه دا چمن دا ګل وږمو سره نفرت کوي
ګل ویل د ښکلو دا وفا مینه همداسې ده

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هېرول وي آخر چاره، خپلول ولې وي
پرېږدي چې لاس په نیمه لاره، ورکول ولې وي

ولې مین شي هومره څوک، چې ژوند کول گران شي
ولې دردونه هومره ډېر شي، چې زغمل گران شي
ولې ای عشقه! خدای له پاره، ژړول ولې وي

د چا ځواني وحشي نظر په یو نظر واخلي
له هر ذرې د چا خوښیو هر اثر واخلي
چا ته چې یوه یوه سلگی سپاره، دردول ولې وي

اوبدل د اوښکو نه امېل دی خاطرو ته د عشق
ساه ورکول دي، لار کې پاتو حوصلو ته د عشق
عشقه د غم دې هره چاره، دا منل ولې وي

لوظونو سپک وي هومره چا ته، لکه پرخه په گل
هېر وي د شپې خبر سبا ته، لکه پرخه په گل
چې څومې ساه وي دا مې لاره، دا ویل ولې وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مات کړه زړه مې مات کړه، په ذرو باند يې مه ګرځه
وسوځه ځواني مې په ايرو باندې يې مه ګرځه
مه وايه چې نه پرېږدم لمنه ستا دا مينه ستا
واړوه ليده خو په ليدو باندې يې مه ګرځه
تا سره دې نه وی د وفا او د لوظو قدر
يوسه خپل لوظونه هديرو باندې يې مه ګرځه
غوندېه کړه دا ګل ځواني پرېږده دا اغزن هجران
ګل باندې اوسېږه په اغزو باندې يې مه ګرځه
منی کړه سپرلی د زړه او شاړې کړه د مينې لار
ورژوه ګل د عشق وږمو باندې يې مه ګرځه
پرېږده ړنګه پرېږده دا د مينې او د عشق کيسې
ژوند د شمعې ګوره په لمبو باندې يې مه ګرځه

پرخه پرخه مه وايه وفا د پرخې هومره وي
هسې بې څه لاړه شي په شپو باندې يې مه ګرځه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا تا نه به حساب د لمونځ تسبو کړي
خو زما به د بېشمېره سرو پيالو کړي
ته زما په کار کې کار مه لره درومه
د هر چا حساب د هغه په اوږو کړي
زه به ووايم چې مست د تا په مۍ وم
ليوني به څه ځواب ستا د ګيلو کړي
ته دوزخ نه يې ډار شوی او توبې کړې
يو څه غم سړی بدل په شنو خالو کړي
قلندر دی چې دوزخ په لور يې بيايي
وروستۍ تمه د زړو ميو د ښبنو کړي
چې يو ځل دې د الست په ميو مست شول
د خليل غوندې مستي په سرو لمبو کړي

هوښيارانو ته آذان باندې په ياد شي
رنګ دې جام د ترخو ميو په سجدو کړي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف" ته یې، تر "یا" ته یې، واړه ته یې
شکر شکر زه نور نه یم ښکاره ته یې
زه نور نه یم، زه نور نه یم خدایه شکر
آیینې راکوي زیری یاره ته یې
شکر شکر په تا شکر زما مینې
قدم ته یې، مزل ته یې لاره ته یې
شکر شکر، زما رنځه زما درده
طبیب ته یې، دوا ته یې، چاره ته یې
شکر شکر، هزار شکر، چې خرڅېږم
بازار ته یې، مشتري دلداره ته یې
شکر شکر، چې د تا په صورت راغلم
ته آیت یې سوره او سي سپاره ته یې

شکر شکر، چې دا مینه آتشي ده
ړنگ چې سوزي، سوزېدو له پاره ته یې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه غم په ورکېدو و، خو لا ډېر شو
چې د شونډو جام دې ما باندې نسکور شو
که دوزخ کې د کوثر ساقي په لاس کې
دوزخي د عشق ته جام و چې سور اور شو
واړه وينه شوه خپره شوه زما ځان کې
زه پردی شومه له ځانه د تا کور شو
هر يو ګوټ مې د وجود په اناالحق دی
يو آواز مې پاتې شوی جانان نور شو
ای ساقي چې څوک له "زه" او "ته" پاکېږي
څه مؤمن شو که کافر او که بل لور شو
په سماع شه ړنګه ځان سره تاوېږه
ساقي شمس دی په هر لورې باندې خور شو

د ډېرو نورو شعرونو په څېر مې دا شعر د حضرت مولانا رح د لاندېني شعر له خيرات او الهام ليکلی:

عشق آمد و شد چو خونم اندر رگ و پوست
تا کرد مرا تهی و پر کرد ز دوست
اجزای وجود من همه دوست گرفت
نامیست ز من بر من و باقی همه اوست

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدايه دا کوم يو مقام شو محبت کې
چې هر جام د زهرو جام شو محبت کې
خپلې مينې ته له مينې نه انکار کړم
چې پښتو سره مې ګام شو محبت کې
لکه شمعه ټوله شپه ورته سوزېږو
په سحر ورته ناکام شو محبت کې
د خِرد تنُور کې زړه له ازل پوخ و
څنګه هسې په څه خام شو محبت کې
دهندوانو عبادت شوې زما مينې
څه عبث عبث انجام شو محبت کې
په شېبه د خيال له دامه وتی نه شم
جوړ له زلفو دام په دام شو محبت کې

ړنګه ټول عمر يې لوظ د وفا وکړ
په يو "نه" واړه تمام شو محبت کې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تر څو چې مې آزار کړې زه آزار ښه
ای سلطان د مینې تا سره هر کار ښه
زما سر، د تا په در، د تا ذبیح یم
ستا چاړه زما په غاړه په وار وار ښه
ته مې مات کړه، ته مې مات کړه، ته مې مات کړه
خو زه مات شمه د زلفو په انبار ښه
سوچ کافر دې شم چې پورته به زه گورم
لاس ور واچوه گرېوان مې کړه تار تار ښه
معشوقې چې یزید خویه نه وي څنگه
په خنجر به په زړگي کوي گزار ښه

نو ای رنگه چې په عشق کې گرفتار شوې
بیا په چغو په کوکار لکه ستار ښه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستا د سترګو په لار تللی یمه
د ژوند له هرې لار وتلی یمه
ذره ذره، قطره قطره مستي یم
ډکه پیاله یمه خو غلی یمه
تریخ مې د زړه خوږه خندا پټوي
د چا تسل ته مسېدلی یمه
ساقي په خپله لاس په لاس کړمه زه
یوسف یم خپلو مې پلورلی یمه
څاڅکی د او ښکو د باڼو په څوکو
وس وس له سترګو پرېوتلی یمه
د لاس د کرښو د دروغو تفسیر
هر غم وهلي ته ښاغلی یمه
چې مې د غم کیسې خلاصی نه لري
مستو په شونډو نازولی یمه

پرخه د ګل په مخ یم ساه نه لرم
زه د هجران هوا وهلی یمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ذره که د هستۍ کې نه وې!
ته جلا، ستا هستي جلا جلا ده ؟
بیا ته مکان لرې او حد لرې ته
ته بیل او بېله خدايي دا ستا ده!
غږ شو انسانه ځان ته وپېژنه!
یو وزر عرش دی ستا بل منتها ده
نه، نه ته زه او نه زه ته شته په کې
ورک یو یو بل کې دا هم معما ده
ته زما روح یې ته له خاورو نه یې!
تشه شپېلۍ یې دا هوا زما ده
بیل یې له اره او هم بیل نه یې ته
راشه خپل ار ته چې زما اروا ده
ما ته د عقل په ټټو را نه شې
مینه دل دل ده مینه رهنما ده

تر څو په مینه د ساقي نه شې ړنګ
سمندر وچه لویه کربلا ده

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې نه بېزار مه شه، هر څو که دل آزاره وي
کوم سکاره چې نه سوځي هغه سکاره بېکاره وي
نه سوزي چې شمعې ته لمنې ته یې نه رسي
دا د عشق لمنه ده منصور کله بې داره وي
پورته کړه لاسونه آفتونه په ډلو غواړه
غواړي چې راحت زاهد هغه غریب له ډاره وي
چا وفا لیدلې ده له چانه چې حسینه وي؟
حسن ته جفا ښایه جفا دې صد هزاره وي

رنګه زړه تسل ته د پتنګ غوندې لمبې په کار
څو چې پتنګ نه سوزي له حسنه ناقراره وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې د زړه په کنډو تېره نه شوې
یوه شېبه وې خو مې هېره نه شوې
څوک به دې څنګه له زړه وباسي چې
په کوم ټوټه د زړه چاپېره نه شوې
دومره دې زړه فکر نادان کړو زما
ورته ځندۍ شوې خو ته وېره نه شوې
د هر یهود، هندو مؤمن مینه یې
هغه احد په شمېر کې ډېره نه شوې

د رنګ جانان یو او "خلق" بل دی
څوک د ثاني او د چا پېره نه شوې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرخې!

سترګې او په سترګو کې لېمه پرخې
سترګې او په سترګو کې باڼه پرخې
سترګې او په سترګو کې لیده پرخې
سترګې او په سترګو کې اوبه پرخې
پرخې! زما مینې زما زړه پرخې

ګل د ګل لېمو باندې شبنم پرخې
زړه د ګل په روح د ګل کې هم پرخې
تانده ګل په سترګو کې یې نم پرخې
رګ د ګل په رګ کې ساه یې تم پرخې
سترګې د نرګس په کې ویده پرخې
پرخې! زما مینې زما زړه پرخې

جام او په شنه زړه د جام کې سره پرخې
سترګې جام کړه جام سره راځه پرخې
یوسه هوش بې هوشه کړه مېلمه پرخې
پورته کړه دا زلفې او پرده پرخې
شور په مړو ګډ کړه له کاته پرخې
پرخې زما مینې زما زړه پرخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرخې د آسمان په تندي خال پرخې
پرخې د ازل ساقي جمال پرخې
پرخې آيت پروت په کې کمال پرخې
پرخې مينه مينه کې وصال پرخې
پرخې مينه مينه مينه ته پرخې
پرخې زما مينې زما زړه پرخې

پرخې! د رنګ پرخې بس زما پرخې
سره د اننګو يې د وفا پرخې
رنګ د ملايکو د حيا پرخې
زما دعا د هر دعا دعا پرخې
پرخې څوک به ستا ثنا کړي څه پرخې
پرخې زما مينې زما زړه پرخې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



آواز مې د سلګو واوره
راځه چې ځو له دې ښاره

له دې کلي له دې چمن
له دې خلکو له دې وطن
د عشق په لور په دې لاره

په دښتو کې له ګل سره
له شور د کوم بلبل سره
اوسېږو به یو بل سره
زما شه ته زه ستا یاره

لیده به درته جام کړمه
له ستورو به ماښام کړمه
آسمان به ستا په نام کړمه
بند بند به ستا په دام کړمه
هر چاره ستا د زړه چاره

تر تل به دا دنیا نه وي
ستا حسن زما ژړا نه وي
دنیا به مې تر تا نه وي
د زړه به زور په چا نه وي
ستا رنګ به بې پروانه وي
را ! راکه راس دې په ښکاره

په د شعر کې مې داسې تجربه کړې چې په هر بند کې مې یو فرد ور اضافه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځورېدلی په وفا او جفا نه یم
پرواګېر د زهرو هم د دوا نه یم
مینه مخ د لیوني دی خنګه پټ شه
لا تر څو چې رسوا نه یمه ستا نه یم
که مې پرېږدې په ممبر کې به آواز کړم
زه د عشق امام یم حورو ملا نه یم
هیڅ سجده مې دې منلې خدایه نه شي
که قیام د عشق رکوع اقتدا نه یم
یار د زنې خال ازل کې راښکاره کړ
شېخه زه د دې کعبې یم د تا نه یم
ته یې ولتوه هغې ختو کور کې
زه په خال کې او قسم چې خطا نه یم
که په عشق کې د یار څوک را ته پېغور کړي
رسوا شوی یم په عشق کې، په غلا نه یم
چې د شمعې لمن اوښکونه جوړېږي
لا تر څو چې لمبه نه یم رڼا نه یم
توره بخته تورو زلفو نه دې ځار شم
څو چې خیال کې یار لرم نیمخوا نه یم
کله ګل کې کله پرخه کله خار کې
خنګه وایې به چې زه هویدا نه یم
ږنګ د ښکلو لمن ځکه پرېښوی نه شي
رنګ د عشق یمه له حسن جلا نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پلاره !

چې د خدای په صورت درونډ در ته ولاړ وي
د ژوندون د بندو لارو په سر لار وي
هېڅ ثاني يې په بشر په ملک نه شته
خدايه څومره خوږ صورت د چا د پلار وي
چې د خدای په کور هم نه اوري ستا غږ څوک
سم له چا سره د پلار کوکار کوکار وي
يا دې پرېږدي هر يو څوک په ناخوالۍ کې
چې ته ګل شې هر ستم ته لکه خار وي
که په خپله، خپله پښه په چاړه پرې کړې
هر شاهين ته ټېر ايښی تريخ ستار وي

ړنګه کله که اغيار غشي ته سم شوې
همدې پلار به دې سر ايښی په هر دار وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د یادونو سیلۍ، مړي ته ژوند ورکوي
ته چې را یاده شوې زه، له قبر پاڅېدمه
سجده مې تا ته وکړه خو کافر نه شومه زه
کافر به هلته شم چې ستا له در پاڅېدمه
ستا مې، حلال دي په ما، ستا میخانه کعبه ده
مؤمن له جامه شومه چې سحر پاڅېدمه
ته لکه ګل او پرخه سره شوي په دې پوهېږم
چې بیګانې شې ته بیا له نظر پاڅېمدمه
چرته تا نه لټوم نږدې شارګ نه اوسې
ستا لټوو ته مګر په مکر پاڅېدمه

زه رنګ جامونه شمېرم تسبیح ریا نه منم
چې د زاهد له لومې په هنر پاڅېدمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ نظر مې چې د مست نظر په لور شو
پښتنې ساقي د سترګو جام نسکور شو
سره شراب د اننګو په سرو خواره شول
تعصب نه يې د زنې خال رنګ تور شو
سپينه خوله يې د ښيښو په رپېدا شوه
لکه جام په جام لګېږي داسې شور شو
د باڼو غشي يې سم کړل خپل ګرېوان ته
په تندي يې زما د بخت د کرښو کور شو
په يو يو يې زلفې راغلې چې تسل کا
خپل ښايست چې ښايستې لره پېغور شو

ړنګه رنګ که نازک خيال په کاغذو کې
د حميد د غزل زړه که پرې ټکور شو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو چې دې سترگې را په یادې نه شي
ستا خاطرې مې ټولې هېرې کړلې
هغه کوڅو باندې نور نه گرځمه
چې جنازې د عشق مې تېرې کړلې
اوس مې ژړگۍ او تسل وران دي سره
نور په پرهر مې لمبې پورې کړلې
خو بې پښتو اوښکې مې سترگو کې شي
سترگو چې ستا کوڅو ته لورې کړلې

ړنگه هېرېږي نه د تللو مینه
برخو که څه هم نورې نورې کړلې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله – PEACE – صلح

سرونه لاړل، افســـوس، موخه را ته سوله نه وه
په دين راگير ول خو مطلب يې چا ته ســـــوله نه وه

چاړې مې لاس کې د ملا د مفتي ســـرې ليدلي
په مدرسه کې په مسجد کې پا ته ســـوله نه وه

خدای وايي. خپل قرآن کې "خير دی، سوله خير دی" که نه ؟
که ته مؤمن يې، ستا نه ولې ما ته ســـوله نه وه

عجب تفسير د دين تـــور مخي راښوولی را ته
دوزخ کې سوله، د جنت و خوا ته ســوله نه وه

د دين د ننگ د ناموس ټولې تنې دوی شـــلولي
د چا چې مخ ته قرآن پټه شاته ســوله نه وه

ړنگه مانا د اسلام ســـــولې نه تخمه اخستې
الله ته خير و، منافق ملا ته ســوله نه وه

---

د ټولنې په هره ډله کې ښه او بد شته هغه که ډاکټر، انجنير، ملا او يا بله وي....

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سپينه خوله سره، د زړګي براس دی
خيرې ګرېوان کې دې د زلفو لاس دی
ګوندې له سترګو دې لويدلی يمه
زړه مې ډکېږي دا د څه وسواس دی
سپو ته د در دې چې ښاغلی وايم
ناځوانې مينې ستا د مينې پاس دی
زړه مې چې چوي د تا د خال په کتو
د سپينې خولې خوا کې دې ناشناس دی

ګلان سپرلی ويني خزان وويني
د رنګ د مينې ګل خزان ته ناس دی

ناس = ناست

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوزه شمعې لږ په ورو وسوزه
زما د ساه سره په تلو وسوزه
د وفا زمکې لا خړوبې نه دي
د زړه د وینو تر راتلو وسوزه
لا مې یو څو سلګۍ په لار پاتې دي
هغو سلګو ته په کتو وسوزه
سترګې مې لار ویني د چا د راتلو
پتې به شي تر څو شېبو وسوزه
چې جنازې د ارمانو خاورې شي
زما په مزار په جنازو وسوزه

د رنګ دا وران جهان تیارې خوښوي
پاتې رڼا هم په تیارو وسوزه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کېږي چې خال سره دې خال شمه
ستا د تورو زلفو جال کې جال شمه

سره د اننګو سره دې سور شمه
سپین جبین د وړانګو سره نور شمه
شونډو خوږو میو کې بې حال شمه

ته د شاهیني نظر په پنجو کې
تم زړګی مې مرګ لره په منډو کړې
ستا اعجازي خوی لره کمال شمه

ساه دې شم رګونو کې دې واوسم
روح شمه په زړونو کې دې واوسم
نوې مانا جوړه د وصال شمه

مینې ته دې مینه زه هینداره کړم
پل ته دې لیمه خپاره په لاره کړم
وریځ شمه سپوږمۍ مخ ته دې شال شمه

پرخه شه شبګیر وهلی تانده کړه
څوک چې مسیحا وژلی تانده کړه
خاورې رنګ یم تا سره به لال شمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ته نه وې، د ساقي په پيمانه کې پاته څه دي
ستا د سترګو درناوی و، موږ وېل خواږه ترخه دي
هر پرهر مو په سینه کې ستا مسکا باندې مسکی و
اوس د سترګو بانډه غشي په لیدو راته پراته دي
دا مې اوښکو سمندر کې سره لیده که سره لالونه
یا دې خیال سترګو ته بر شو او لمبه لمبه لمبه دي

تخیل کې مې ستا کور و، ته وې ستا د مینې شور و
مرور اوس څو یادونه مې په زړه خواره واره دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سترګونه مې ولوېدې د اوښکو په کاروان کې
ای عشقه پاتې راغلې د وختونو په ګريوان کې
ارمانه خاورې خاورې شوې ځوانۍ سره مې سم
د زړه سره د عقل د جګړو په سره ميدان کې
دا عمر څومره لنډ و له يو خال تر بله خاله
د شونډو له يو ګوټه تير شو چاه زنخدان کې
لا ما يې زولنې د زلفونه نه وې ماتې کړې
لا پاتې مې دي شونډې د دوه سترګو په ارمان کې

ای ږنګه بختورو ته به مينه ور رسېږې
ډېر خاورې شول په در او په کوڅه د خپل جانان کې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دښنه کې او په مینه کې برباد
څه بېوځله د آدم دغه اولاد
بسمل شوی په باڼو او هم له غشو
نه له یاره نه اغیاره ځینې ښاد
هېڅ قرار یې په جنت په زمکه نه شو
نه د اور طاقت لري او نه د باد
له هېڅ چا یې ارمانونه پوره نه شول
په مسجد په میخانه کې نامراد
چې مجنون غوندې په دښتو پسې ګرځي
مینه ورکه ده له کلیو او بلاد

مګر دا ذرې ذرې زما د ړنګ زړه
کومه ترکه مسیح خویه کړې آباد

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرخې ته!

پر اننګو د بیلتانه د تیرو لمر پرخه وي
شوګیر وهلي ګل پر مخ پرته سحر پرخه وي
د لیوني د مات مات جام په هر ذره کې ښکاري
آیینه رویه په هاله کې هم قمر پرخه وي
نرګس د غم زنګون ته سترګې ټیټې ځکه ګوري
د سویو سویو اسویلو په زړه اثر پرخه وي
چې مینا تشه شي پیالې تشې شي هلته سترګې
د ساقي جام شي پیمانو ته دا هنر پرخه وي
منصوري مینه غواړي دا د موسی کلی نه دی
د طور لمبو کې د جانان سوی نظر پرخه وي

د رنګ غزل ته غزال سترګو نه رانجه ټولوي
چې د رنځور تخیل سترګو يې پرهر پرخه وي
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وخت شیطان

دین وایو دین وایو ایمان وایو
د وخت شیطان ته مسلمان وایو
که څوک اوزي ته هم پټکی واغوندي
ورته ملا شیخ القرآن وایو
شېخه زما او ستا په دي ورانه ده
موږ مینه ناکو ته انسان وایو
قرآن نازل شو انسانانو لره
بي انسانیتو ته شیطان وایو
راشه تفسیر په میخانه کي وکړه
"یس" ته مې "طه" ته خوان وایو
سجدي کوو خو جانان زړه کي ساتو
تور حجروالو ته نادان وایو
خپل لباسي ایمان ته اور بلوه
ځان ته پتنګ د ستر سبحان وایو

ړنګه اوچت که جام د میني په نوم
ساقي ته مونږه لامکان وایو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريغا

د ويده باز نه وخت کارغه جوړوي
له مړ زمري ټپوس خواږه جوړوي
خطا د وخت نه ده رقيب چې زموږ
ځلانده ستورو نه سکاره جوړوي
بيا بيا چې سر وهي مرغه په قفس
الوت يې هير دی نور ترې څه جوړوي
هغه چې خيل سره خپل نه الوځي
د ښکاري تور غشي ته سره جوړوي

ړنګه د هغه مړي لمونځ مه کوه
چې د شخصيت مړی يې کړه جوړوي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیوني خواله!

کله ماغزه مې لیوني شي او ربنتیا ووایي
شیخه ! ستا فکر او ستا لارې ته خطا ووایي
ډېر حقیقت په خلایق کې شته چې اور لړوي
جنت به خوږ وي څوک به تریخ د دې دنیا ووایي
که آدم ګرځېده جنت کې نو شیطان څه کول؟
یا غریب جوړ و دې خطا ته څوک به دا ووایي
څه که آدم ګناه ګناه وه او دنیا ته راتلو
څوک به ګناه د ټول انسان او دا سزا ووایي
بلا مخلوق په ضعیف فکر چې خالق ورکړی
کافر شو، څوک به د ده چا ته ادعا ووایي
قرآن ازل کې لیکل شوی، چې فرعون کافر دی
په برخه تور فرعون به څنګه ښه وینا ووایي
منم چې راغلو ټول دنیا ته، نو دا شور په څه دی
په څه ګناه انسان کړېږي، دا تر چا ووایي
څوک ډوډۍ نه لري، څوک پلار او څوک وره جونګړه
څوک به دې هومره لوی آفت کې د سبا ووایي
یو خوانه وایې چې "ضعیف دی انسان"، ما جوړ کړی
بیا وایې سوزم یې که کفر ناسزا ووایي

←

(c) ketabton.com: The Digital Library



...خدایه ! شیطان ته هم دا وس د سجدې تا ورنه کړو
ځوک به نو چا ته د دا هسې رنګ وبا ووايي
خدایه مورږ لوبه یو او ته په مونږه لوبې کوې
په دې شطرنج کې به ځوک څه ځانته پاچا ووايي
انسانه واوره جام که پورته پاتې مه غږېږه
ګرانې د هوش کیسې دي دا را ته مینا ووايي

خدایه ! دا نه وایم چې تا سره دعوا لرمه
خو داسې "ړنګ" ته لیونی زړه نن سبا ووايي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



که قسم کوم چې هېره شوې، دروغ دی
یوه سپلی وې سحر تېره شوې، دروغ دی
دا دروغ دي چې ژوندو کې شمېرل کېږم
تللې ساه یې بېله نوره شوې، دروغ دی
بې له تا مې تخیل کې نور څه نه شته
لنډه غېږه وې چاپېره شوې، دروغ دی
په لومړي نظر کې مینه هر څه سوزي
د هجران په لمبو ډېره شوې، دروغ دی

که ته رنګ ته وایې صبر شوم له تا نه
پرخې ته په دې مخ توره شوې، دروغ دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاهده تاسره مې ورانه نه ده
خو د تا لاره په ما گرانه نه ده
ته د جنت له پاره سر ټکوې
ما ته جنت تشه پیمانه نه ده
د تا ایمان په کلمو تړلی
ما ته ایمان کفر ځولانه نه ده
ته له شیطان ډارېږې ځان پټوې
زما سینه خامه بتخانه نه ده
دلته د "زه" او "ته" مانا یوه ده
دلته جانان څوک، څوک جانانه نه ده
دلته حساب او راکړه ورکړه نه شته
دلته څوک وران او څوک خزانه نه ده
دلته د حورو کیسې خوند نه لري
دلته بې مینې هیڅ افسانه نه ده
دلته خالق او د مخلوق خبرې
مینه ده مینه بله پانه نه ده

زاهده رنگ درسره نه شو پخلا
چې دې جرگه په کوم میخانه نه ده

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانه !

ومره ومره ومره، ته پيدا يې دې مرګو لره
څو چې ته ويده يې سر د غوڅ شه دې پردو لره
ومره ومره ومره، غلامي په ژوند کې نه راځي
ننګ دی يو پښتون ته، دغه ژوند د تا پلرو لره
ومره ومره ومره، چې پردی او خپل ليدی نه شې
خپل ته کافر وايي او کافر ګڼې سجدو لره
ومره ومره ومره، چې د تا غوندې پښتون نه وي
وژني چې پښتون پنجاب ناولو ارادو لره
ومره ومره ومره ستا د ننګ تاريخ به پاتې شي
ټيټ به پاچا خان ګوري جناح به وي شملو لره

ومره ومره ومره ړنګه ځان په کې حساب نه کړې
کوم پښتون چې نه ګڼي خپل ځان ايمان پښتو لره

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځنې خدايږو څه بلا اخستي
زمونږه دين د ځان دنيا اخستي
هلکه ! کښېنه د سرکوزي زويه
ګناه د چا کله بل چا اخستي
ځان پسي خېټه حامله ګرځوي
زما د کاسو سکرک هم تا اخستي
په نه خبره مې دوزخ ته ليږي
جنت ګنجۍ واړه ملا اخستي
هلاک هلاک دي شي دا حورو پسې
د خوټو غم د خپل سبا اخستي
تور اوراغان او د کوترو جامې
تاندو فکرونو ترې وبا اخستي
بې خپلواکۍ دين څوک ساتلی نه شي
غسل يې نه شته استنجا اخستي
اوس د ملا نه لوی بلا جوړ شوی
د مال دولت کومې خندا اخستي
هو، عالمان بېل ملايان بيل دي
عالمان هم دوی په يغما اخستي

دا عاشقان د حورو څومره ډېر شول
ړنګه خدا هير دی ټول جما اخستي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمعه وم تا ته ویلېدم ته نه وې
د تا له پاره سوزېدم ته نه وې
ته نه وې ستوري ول سپوږمۍ وه شپه وه
مات مات ستار وم غږېدم ته نه وې
خاموشه زړه د شپو کې سوړ اسوېلی
لکه لوظونه ماتېدم ته نه وې
سیلۍ وهلې پاڼې، پاڼې پاڼې
د ژوند له ښاخه بیلېدم ته نه وې
ته نه وې داسې لکه ساه چې نه وي
یوه جنازه وم تېرېدم ته نه وې

د تا د مینې مړی وخت سوزوو
زه ړنګ یوازې ژړېدم ته نه وې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتلې ساه یو، بیا راتللی نه شو
نه یو کېدی او بیلېدلی نه شو
تهوله خبر یو د وصال هم نه ده
ساه یو بې تنه اوسېدلی نه شو
څه دي چې تا له څه ویلو ساتي
څه ما، او دا چا ته ویلی نه شو
یا زه مجنون نه شوم د تا مینه کې
یا ته لیلا، چې رسېدلی نه شو

له ساه بېل وسوو لکه کب تپانده
ړنګ قسمتونه سمېدلی نه شو
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچه چينه کې مات منگی هم ستا مین غوندې و
د ځنار لاندې پروت بنگړی هم ستا مین غوندې و
چې د بېلتون سره دې څه زموږ په کلي وشول
خزان خزان شو دا سپرلی هم ستا مین غوندې و
غاټول په زړه کې داغ د تا د تورو سترگو ساتي
که مړ په دښتو کې شپونکی هم ستا مین غوندې و
اوس دلته شپه شي بیا د شپې پسې شپه بله راځي
گوندې چې زیړ لمر سبانی هم ستا مین غوندې و
په تا مین دلته څوک نه دي پوهېږې به نه
د شمعې زړه کې تور لوگی هم ستا مین غوندې و

چې هومره ډېر دي عاشقان ستا رنگ به څه ووايي
خو واوره یو بل لیونی هم ستا مین غوندې و

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مریه!

غلام پښتونه ! ته د دین مه وایه
بې خپلواکۍ بل ته آیین مه وایه
څو د مغل وارث پنجاب بندي يې
پښتونه ړوند شې فلسطین مه وایه
لا دې په غرو کې اوراغان اوسېږي
ټپوسه ځان ته لا شاهین مه وایه
له بنګالي دې هم زده کړې نه ده
ځانته بچی د ستر پکتین مه وایه
ژبه دې مړه شوه تاریخونه مړه شول
ویښ شه ګمان ته دې یقین مه وایه

د آزادۍ څپې که نه کړي غورځنګ
څاڅکی دی، رنګ ته اباسین مه وایه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مې کهول دی او رذیل دی را ته پیل دی
که پردی دی اسرافیل دی هم رذیل دی
د څښتن هنداري سپینې وي سپېڅلې
دا په کومو آیینو کې خدای موندل دی
حقیقت مو خپلو ګټو پورې ښکاري
پاتې هر څه تش خبرې قال و قیل دی
څو اړیکو ته مړوند او مټ مات نه کړو
د ناخوالو د هر دام مو دا دلیل دی
د دلدل وزرې نه غواړي نه وحیه
یو قدم د نفس په سپیو اېښودل دی

ږنګه څه به وایي خدای هغه مَلَکْ ته
چې ویل یې انسان ستر دی او جمیل دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون به بیا پیدا شي، بیا به ستر افغان پیدا شي
که په مسجد که مدرسه کې بیا انسان پیدا شي
جنت ملا وايي جوړ شوی مسلمان لره دی
افسوس انسان نن ځینې ځینې مسلمان پیدا شي
هغه تعبیر هغه تفسیر د دین چا کړی را ته
چې نه په عقل نه منطق نه په قرآن پیدا شي
دا ځنې ځنې هومره ځان په زیرو ستر وګڼي
ګوندې ویښته نه فلسفه د دین ایمان پیدا شي
خدایه یو بل آدم پیدا کړه او حوا پیدا کړه
چې د قرآن ورڅ نوی فکر او زمان پیدا شي

مسلماني که په وژو د انسانیت خپرېږي
ړنګ دې سبا کافر اوچت شي او حیوان پیدا شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته په دې ښار کې کعبې ډېرې دي خو خدای نه شته
ډېر دي چې طواف کوي خو یو په کې سړی نه شته
هر چا ته چې ګورمه صلیب لري او بت لري
غواړي سپینې حورې خو آدم په کې بچی نه شته
ډېرې اوږدې ږیرې دلته ځان د خدای له ذات ګڼي
ورک ساده انسان دی قرآن هغه پخوانی نه شته
دا کوڅې کافرې دي که زه په کې کافر یمه
ټول په کې بدل ښکاري خو یو په کې پردی نه شته
دلته زنځیرونو کې نفسونه انسانان تړي
دلته آزادي ګناه د سر سړي پټکی نه شته

حال مو د بیزو دی د آدم پسې خپل کهول تړو
ړنګه سپینو سترګو کې دې کسی بېګانی نه شته

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو فلسفي فکر او بحث مې په مثنوي راغونډ کړی، هر څوک به یې د خپل فکري ژوري تر کچې درک کړي:

سترګې تر سترګو وي ليدل بدل وي
د چا د خره پښه، عرش د چا مزل وي
غنم چې ټول دا شر او شور له ده دی
چا ته کوثر چا ته سور اور له ده دی
چيرته يو رند يو ليونی ګرځېدو
موتی غنم ورسره ولوبېدو
پېيل هغه غنم يوه يوه دانه
د بېل فکرونو په ښارو او بانډه
الله يې وپېيو عيسی او بودا
هو يو بشر خو بېلا بيل يې مولا
هر څوک د خپل خدای په سجده پرېوتل
نور خدايان يې په لمبو سوزول
غنم هغه ول پېيل شوي بيل ول
په بېل فکرونو ليدل شوي بېل ول
ګڼي غنم هغه چې لوږه مړه کړي
که کوم خباز ورنه ډوډۍ پخه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چا هغه امیل شلولی ولو
اصلي معشوق په يې ليدلی ولو
سترګې پيدا شي تش په مينه باندې
مومن کافر نه شي بېل وينه باندې

ږنګه هر بند شلوو ته مينه غواړي
سترګې يې وشي خوک چې مينه پالي
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطنه!

مړو ته وژاړم که ستا په پرهرو وطنه
کلی دې واړه ډک د مړو هدیرو وطنه
په وینو وینو لمبېــــــــــدلی جنازو وطنه

په هر کاله کې غم دی غم دی هره سترگه نم ده
هره مور کونډه ده هر خور ناسته د ورور په غم ده
د آه و چغو د کوکار د اسوېلو وطنه

د پلار د مړي که د خور یا ورور لیدو باندې شو
یو مو خښ نه وي چې د بل زنې تړو باندې شو
زما د سرو سترگو د بې کسو بې اسرو وطنه

په اوړنې کې ماشوم ژاړي مور ته مور یې مړه ده
په یخ په لوږه په کوڅو کې چېرته خور یې مړه ده
ای د یتیمو د یسیرو بې پلرو وطنه

پلاره بیا راشه نه جامې بیا نه ډوډۍ غواړمه
نه مې شلېدلې څپلۍ جوړې نه والۍ غواړمه
ای د یو پلار لرلو مور د ارمانو وطنه ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



...گوندې ای خدایه ته مو نه اورې او نه مو وينې
له آسمانونو تا ته نه ښکاري زموږ دا وينې
سوزه په اور کې د نړۍ د دوزخو وطنه

د خدای په نوم وطنه خرڅ شوې او لمبې لمبې شوې
ليلام ليلام شوې د سياسي دلال د پښې پښې شوې
رنگ يې په خپله شرمولی په شرمو وطنه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاړو د مړو سر ته، ګوندې که بیا ژوندي شي
پرېږدي لمن د پردو، بېرته د قام سړي شي
بلا نومونه غټ غټ څه ابدالي څه غلځي
چې د پښتو خبره شي، نو پښتانه پردي شي
ژبه يې هېره، تاريخ، خپل په اردو زده کوي
چې له الف نه پورته زده کړي پکتین فارسي شي
جرګې مو لاړې لاړې، سړي مو مړه کړه خلکو
ژبه مو کفر شوله، جهاد په موږ صحي شي
مشران هغه چې ساتي د سر په بيه ولس
نه مو هغه مشر چې تور پنجابي ته «جي» شي
زما د کفر فتوا ورکړه چې ما مؤمن کړ
د سومنات له مکتب زما جلاد قاضي شي

ړنګه څندی دې نه کړي، له خوب يې مه پاڅوه
آزاده فکر ته نن، ړانده، ګونګي مفتي شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک ځنګل کې بودا کېږي کله
هر سوړی غارې حرا کېږي کله
مظهر د خدای په هر ذره کې شته، خو
هر لیده داسې بینا کېږی کله
خواله له خدای سره مَلک نه غواړي
څوک وایی هر څوک موسی کېږی کله؟
بلا عالم له کعبې وګرځېدو
تیره کې لوی خدای پیدا کېږي کله

ړنګه د خدای کور هومره لرې نه و
خو ګمراه خپله بومیا کېږي کله

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ړوند ولس ای خدایه
خپلواکۍ سترګې بینا کړې
د افغان په نوم یې لړ څه
ټیټ سرونه هم جلا کړې
چې به زغرده پښتانه شي
یو افغان ته یې ګویا کړې
د دیورند د شرم کرښه
ورکه ورکه له دنیا کړې
تفکر مو خوشال خان او
هر قائد مو خان پاچا کړې
د افغان په ننګ مو یو یا
دا غلام پښتون تبا کړې

نور که نه منې د ړنګ څه
مستجاب یې دا دعا کړې
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دلته سپي يو، نو جنت کې به انسان څنګه شو؟
نه، تا انسان کړو خو ای خدايه چې شيطان څنګه شو؟
موږ د بيزو له نسله نه يو، د آدم بچي يو
د وخت هنداره کې چې ګورو نو حيوان څنګه شو؟
ما ته ملا وايي مرئ د خپل د ورور غوښه کړه
داسې وارث د انبياء پسې روان څنګه شو؟
خدايه ! د تا پوهه يې دين او په شيطان وېشلې
کفر آسمان ته خېژي، د سنګ دوران څنګه شو؟
غليم وطن وايي لومړی دی، بيا دِ دين خبره
موږ د چړيانو د دې ورور سره اخوان څنګه شو؟

ړنګه سياسي شو، يرغمل شو دين، چړيانو سره
ايمان لرو خو چې دا هسې مسلمان څنګه شو؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پېښور وايي افغان ته پښتون
غدار يادېږي پاکستان ته پښتون
هو، هېڅ پښتون پاکستان نه شي منی
ژمن وي تش ستر افغانستان ته پښتون
د غلامۍ له کړۍ سترې ستړی
وايي د خان په پل روان ته پښتون.........(پاچا خان بابا)
بگهتي د ماتو زولنو آواز دی .......... ( اکبر خان بگهتي)
غدار ویی نه شي جانان ته پښتون
چې د خوشال اذان ته کفر وايي
وايي غدار داسې انسان ته پښتون

ړنگه لمبې د آزادۍ بله وه
غواړه دې دين داسې قرآن ته پښتون

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره خوشبخته دي هغوی چې ستا په لار پراته دي
لکه سوالګر شړلي تا خو انتظار پراته دي
د تا لوظونو ته یوسف تعبیر کولی نه شي
د ګل لیدو ته د شبنم غوندې په خار پراته دي
کسوف د هجر په آسمان کې د وصال تم شوی
کلونه دې شپه کې په تمه د سهار پراته دي
هغه څنار خزان خزان شو، هغه سیند نه شته دی
ړندې شوې سترګې چې راتلو ته د ریبار پراته دي
د عاشقانو ځواني خاورې شوې ایرې پاتې شوې
هلته چې نښې دې د پل په زړه قطار پراته دي

د ړنګ وفا درته غاټول په هدیرو جوړوي
که دې ګذر شو نیمه خوا یې په مزار پراته دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر زما د پښتنو د يو کېدلو نه ده
د لر او بر تر منځ ديوال د ماتولو نه ده
خبره دا ده چې خبر مو له خبر اوښتې
پښتو مې مړه ده، څه که تا ته د منلو نه ده
په نسب نه ده گنې زه هم د ابدال بچی يم
پښتو، پښتو غواړي د شعر د ويلو نه ده
نه ما کابل کې توره کړې د افغان په صفت
د پېښوري پښتون خبر هم د کولو نه ده
که پښتانه شو نو دا کرخې مرخې څه دي راته
دا کيسه ورانه ده همدلته د زغملو نه ده

زه د خوشال ارمان په زړه د اتفاق نه ساتم
کوم دی پښتون ؟ ړنگه دا لار نور د کتلو نه ده
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



گل دې په بشر باندې د سرو سپينو غونچه ښکاري
لږ چې ته مسکۍ شې، شونډې ستا د گل سينه ښکاري
زلفې چې پرې ولوېږي سلگو سره په ښنتو شي
زما د خيال په بڼ کې د عدن سره وږمه ښکاري
غږ د اسوېلو دې تخيل باندې ورېږي، آه
يا د کوم شپونکي د سوي زړه سوې نغمه ښکاري
ما باندې نازېږي که لېمه يې درانه شوي دي
"پرخه" په رڼه سترگه کې هم ويده ويده ښکاري
هر گل ناوې ناوې دی که نن سپرلی ودېږي ټول
يا دې سور سالو کې اننگي سترگې لېمه ښکاري
بخته ! وه کمبخته! تا له "پرخې" نه جلا کړمه
تانده تانده گل وم، سکاره اور سوې لمبه ښکاري

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا پسې روان شو څوک په سمه دی ؟
چا سره مسکی شو څوک بې غمه دی ؟
څوک د ځان په غم دی څوک د چا په غم
دلته ګریوان نه شته چې بې نمه دی
څوک د چا د رنګ، ژبې، ایمان سره
هیڅ باندې جوړ نه دی او دښمنه دی
چا ته د چا ظلم او تېری وژاړم
خدایږو زړه د هیڅ چا نه په تمه دی
هغه ته ایمان تېروم کفر شوم
خر خو د انسان په صورت جَمعه دی

خون د رنګ وریا دی که یې مړ کړي څوک
خدایږو زړه مې تنګ له دې وطنه دی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري ساقي ستا په پیمــانه کې خدای
څوک وايي چې نه شته میخانه کې خدای

"یا حـــی" و "یا هـــــــــــو" وايي بادې دلته
جام د "طه" اور د بتـــــخانه کې خدای
خونـــد د عشق هوښیارو که د مۍ ولید
گـــــوري به هر در هر آستانه کې خدای
عقل بانــــــــدې سور دي لیوني د عشق
شور د لیـــــــــونو په ځولانه کې خدای
بې له میو ړوند شم په مۍ وینمـــــــــــه
زه هره ذره هره دانه کې خـــــــــــدای
چېرته جنت چېرته د ساقي لمـــــــــــن
هلته حور په دغه ویرانه کې خـــــــدای

رنگ شه ړنگه مســـــــــــتو لیونو په رنگ
نه ښکاري په پاتې افسانه کـــــــې خدای

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیوني خدای!

وږی مې عشق فکر، بې شعور شومه
نن چې لیوني باندې مشهور شومه

قیس ته دی په مینه کې مجنون صفت
خاورې پرتې لارو کې زبون صفت
وسوو مې عزت د مینې طور شومه
نن چې لیوني باندې مشهور شومه

عشق کې "زه" ویل "زما" ویل کفر
هجر کې ګیله سر ټکول کفر
زه د اسماعیل په وینو سور شومه
نن چې لیوني باندې مشهور شومه

ستا رضا ده، ما ته کتل نه شته دی
یَو یُو او په منځ کې مو بل نه شته دی
نور یې ستا له نوره زه هم نور شومه
نن چې لیوني باندې مشهور شومه ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



...گل دې له رخساره رويباري کوي
حسن دې هندارو کې ياري کوي
تېر دې له جنته او له حور شومه
نن چې ليوني باندې مشهور شومه

اور کې سوزېدل نه دي گران مينه کې
دار ته هم ختل نه دي گران مينه کې
پوه شوم هلته کله چې منصور شومه
نن چې ليوني باندې مشهور شومه

موږ ته جام حلال دا ستا له ميو دی
ذکر کې کمال دا ستا له ميو دی
ړنگ وم واړه ته شوم چې مخمور شومه
نن چې ليوني باندې مشهور شومه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# -سترګې-

سترګو کې چې سترګې راته جوړې کړې
پورې کړې لمبې مې په زړه پـــــورې کړې
سترګو کې مسکی شې زه پوهېږمـــــــــه
زه چې هم مسکی شم کیسې نورې کړې
زه دې تش د سترګو طاقت نه لــــــــرم
ته ورته د زلفو جوړې ســـــــــــیورې کړې
ستا د ځورولو ادا ښـــــــــــــــــــــکلې ده
مړ شمه چې سترګې خپـــلې تورې کړې
ستا سترګې فتنه لرې کافــــــــــرې دي
بت شم چې زما په خوا یې لـــورې کړې

دین دنیا او هر څه د رنګ تا نه ځـــــــــــار
رنځ د عشق ته سترګې که ټکورې کړې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستا زلفو د یادونو آسمان جوړ کړو
ستا تصویر ته مې د اوښکو باران جوړ کړو
سمندر د خاطرو دې په څپو شو
نیم بسمله اسوېلو چې توپان جوړ کړو
زړه مې ستا په هېرولو راضي نه شو
که هر څو د وفا لارې تاوان جوړ کړو
دې پښتون مجنون ته مرګ ښه دی مېرو کې
بې وفا که پښتنې نه دوران جوړ کړو
سلیم خوله چوپه ساتي چې رسوا نه شي
خو مین غوندې کوم تللي جانان جوړ کړو

ستا د زلفو خوی د رنګ له رویه نه ځي
که هر څو یې دا شلېدلی ګرېوان جوړ کړو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارواښاد عبدالرؤف قتيل خوږياڼي بابا ته!

ابدي شي چې د عشق په رنګ انځور شي
مړاوې نه شي که "قتيل" له وخت رنځور شي
د خوشحال پرهر تازه شي چې يې وينم
د بې قدره کهول "قتيل" په وينو سور شي
پښتانو نه مشران هېر وي چې ژوندي وي
پس له مرګه بيا بابا د سترګو نور شي

ړنګه چانه ګيله مه کړه مړ پښتون دی
د دې وخت پښتون زلمي نه نره لور شي
دا شعر مې هغه مهال ليکلی و چې ارواښاد قتيل بابا رح په ژوند و.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بنده وم نه مولا وم، په عدم کې اوسېدم
ځکه زه چې تا پيداکړم په خپل حال وژړېدم
نه وفا وه په دنياکې، اشنايي وه نه بقا
په هرلاره هر محفل چې ده دنيا وگرځېدم
څوك له ځانه، څوك جانه، څوك آسمانه ژړېدل
ټول په سمه، ټول غلط ول که زه هيڅ نه پوهېدم
ځنو ما باندې خندل او ځنو ځان سره خندل
زه له دواړو بې پرواوم خو په دواړو څورېدم

دلاله له داغدار زړه نه زه رنگ اوښکې څڅېدم
چې پيدا د صنم غم کړم خو صنم ونه ليدم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته به وشړې ما دلته چې بل در نه شته
څه به دې وران کړم بې گناه مې بل هنر نه شته
که تشومه زه مينا د ميو ته پوهيږې
ډارن زاهد سره دې هومره لوی ځگر نه شته
وايه زاهد ته چې سجدې له شيطان ډيرې نه شي
راشه منصور شه د ساقي پروا د سر نه شته
نادانه مه کړه د سرو شونډو له جامونو توبې
گوندې شراب جنت کې نه شته او دلبر نه شته؟

که"ږنگ"په ميو ځي دوزخ ته چوپ به پاتې نه شي
چې چا پيدا کړ تاك هغه نه مو خبر نه شته؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوره رخسار چې په بنگړو او په مړوند پټوي
ظالمه یاره ته زما نه ژوند پټوي
په یوه مړه سترگه، په نیمه خوله خندا مه کوه!
پرهر پرهر یمه زړگی مې په بند بند پټوي
د سرو بنگړو سره دې سپینې لېچې مه جنگوه
په دې آذان مې د ایمان د زړه پیوند پټوي
تا له به ډېرې اداگانې او نازونه درځي
د دین دنیا متاع د زلفو په کمند پټوي

ما که کافر کړې زه خو ړنگ یمه پروا نه لري
په سرکو شونډو د زاهد د ایمان خوند پټوي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي ته يې! باده مينه، زه ميخور يم
له ازله په سماع ځکه په شور يم
ګرېوان خيرې له السته تا شړلی
تا جوړ کړی يمه تا لره پېغور يم
تا ويل چې هومره لا ليونی نه يې
زه چې څومره ليونی ومه لا نور يم
هر يو شي لره سجده کړمه چې ته يې
زه په دې ادا اوس تا لره مخ تور يم
ما کعبې کې يې ليدلی بتخانه کې
ما ته مه وايه په دې نه هغه لور يم
ستا آواز د جرس اورمه لمبه شوم
څنګه وايې چې په در د بل کوم کور يم

ګوندې نه غواړې چې «ړنګ» ودان شي کله
د الست لمبه ابد پورې به اور يم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الا الله زور مې په شپو لیدلی
عرش مې په خارو په لوېدو لیدلی
ځکه گرځېږم قلندر په شانتې
د زاهد ډار مې په تسبو لیدلی
ما د دوزخ له اوره مه ډاروه
اور مې د شونډو د سکرو لیدلی
د حورو تمو ایمان نه منمه
جنت مې سترگو پښتنو لیدلی
سر مې ټيټېږي نه محراب کې د چا
تندي مې هسک غر د پښتو لیدلی
ای پښتنې ساقي بل جام راکوه
دوزخ جنت څه لیونو لیدلی

ږنگه پښتو سره اسلام مزه کا
چا گل له بوی په بېلېدو لیدلی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترې شم، ستومانه شم، رنځور شمه
خيال چې دې د مړو سترګو کې ګير شمه
ښکارم په هنداره کې وروستۍ سلګۍ
زلفې چې د پرانيځې زهير شمه
بيا چې نازوې زلفې په ګوتو ته
زه د اسويلو په دام اسير شمه
يا ګوندې خالونه ږدې په زنه ته
وسوزم سکاره شمه په وير شمه
ما ته ښکاري سترګو ته لکۍ کوې
خاورې د رانجو چې د تقدير شمه
پرېوځې څوک بسمل د عزرائيل مخ ته
تللی ياره خيال ته دې ودير شمه
ړنګ شم نامراده شم شهيد شمه
خياله چې دې ښکار په خوني تير شمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکه د ګلاب يې که غرڅه نظر
طعم د شراب يې که د زړه پرهر
هم ساقي هم مې يې هم مينا يې ته
هوش يې بې هوشي، که جام د شنه کوثر
هر چا ته هر رنګ ښکارې عجه يې
خدای يې هم مخلوق يې زر د نور هنر
عکس يې د هندارې که هنداره يې
حق يې که مجاز عاشقان څه خبر
زړه يې د زړه کور يې او په زړه کې يې
مينې مينې مينې ته شې در بدر

ړنګه چېر ته عشق ته سلام ونه کړې
راشي په زارو نه ځي د زړه له در

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لبناني زاهد او سپی

چېرته لرې په یو غره کې یو سالک و
شپه او ورځ په عبادت د لوی مالک و
استغفار او ډېر اذکار د ده عادت و
هره ورځ به یې روژه او عبادت و
د غره سر ته له آسمان ډوډۍ ورتلله
څه په شپه او څه په ورځ هغه خوړله
یوه ورځې ډوډۍ را نغلله او شپه شوه
ډېر زاهد سترګې په لار و، شپه پخه شوه
وږی ډېر شو نور طاقت ورځنې لاړو
بل څه نه ول هغه غره کې او په شاړو
عبادت یې هلته پاتې شو حیران شو
د ډوډې له پاره کلي ته روان شو
اوسېدلو نصرانی یو غریب هلته
د زاهد ګوندې مړۍ شي نصیب هلته
در یې وواهه او غږ یې کړو صاحبه!
بې اسرې یم وږی ترږی مخاطبه ⟵

(c) ketabton.com: The Digital Library



....نصراني چې زوړ سړی او يو يې سپی و
غږ يې واورېدو چې گوندې کوم سړی و
ويل يې دا دوه ډوډۍ تا نه زما ځار شه
نور څه نه لرم او نه مې کارو بار شته
وِيل يې دا مې بس دی نه غواړمه بل څه
بې له دې نه، تا ته نه لرم ويل څه
چې زاهد ډوډۍ ترلاسه کړه وتلو
سپي غپار کړل گوندې هغه يې خوړلو
سړی وډار شو يوه ډوډۍ يې ورکړه
خو سپي بيا هم په غپارو چغو سر کړه
بېچاره زاهد له بلې هم ورتېر شو
خو د هغه سپي لا قهر پسې ډېر شو
زاهد ووې څومره ته يې بې حيا سپی
داسې نه دی ما ليدلی بل د چا سپی
دوه ډوډۍ وې او ما دواړه بېر ته در کړې
ته لاهم په ما غپېږې او شور سر کړې
د الله له قدرتونو سپی گويا شو
د هغه سره په نطق شو او لگيا شو
ويل يې زه بې حيا نه يم بې حيا ته
ته زاهد يې خو له ما يې ډېر خطا ته
زه په کور د نصراني کې يم لوی شوی
هم په لوږه هم په تږه يم پوی شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



....زه، د ده نصراني کور ساتم، پسونه
خو مې خېټې ته څارم نه نور کورونه
که هډوکی کله راکړي پرې کړم شکر
او که وږی مې ساتي نو وکړم صبر
خو يې هيڅ کله درگاه او کور پرېدم نه
د پردو درشل ته کله هم ورځم نه
چې په تا شوه يوه شپه بنده روزي ستا
لاړه هرڅه عبادت او بندگي ستا
لاس دې اوږد شو، يو کافر او ريا کار ته
ستا همدا وه عقيده پرورد گار ته ؟
اوس دا وايه بې حيا ته يې که زه يم
زه يم سپی خو لکه تا بې حيا نه يم
چې زاهد دا واړه واورېدل له سپي نه
مرگ يې رزق شو سترگې پټې زندگي نه
هو، څه کم ول د زاهد په واړه کړو کې
چې اثر يې ځکه نه و په سجدو کې
چې ښتن د چا سجدو ته محتاج نه دی
سر په خاورو لگول يې علاج نه دی
هر چې خدای سره دعوا د محبت کړي
هغه خدای يې امتحان په خپل غربت کړي
د زاهد هم په خپل زړه کې دا دعوا وه
چې د خدای سره يې مينه بې همتا وه
...او گڼل به يې چې ما غوندې څوک نه شته
گوندې ما کې د خوبانو واړه ښه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند او خوند نه د خالق له پاره تېر دی
په اذکارو شپه او ورځ ورته چاپېر دی
خو الله ته د احسان بدل احسان دی
بې مطلبه محبت خوښ د سبحان دی
عبادت چې څوک د حورو په مقصد کړي
سوداګر دي عبادت نه خوشې بد کړي
د خالق له پاره ښايي سجدې ځکه
چې پيدا دي دا آسمان ورځني زمکه
د معشوق حسن کې واړه لوی ښتن دی
په ظاهره که يوسف دی رب باطن دی
چې پروا نه د دوزخ او نه جنت کړي
لوی ښتن د هغه کس سره الفت کړي
که دا واړه خلک د خدای ځني منکر شي
او په بدو ردو سر ملحد کافر شي
هيڅ به کم د لوی ښتن له جلال نه شي
عبادت د انسانانو کمال نه شي
څو چې خدای يې هدايت او په لار نه کړي
که د نوح زوی شي ايمان ته به لار نه کړي
دا چې څوک څه او څوک څه باندې لګيا وي
دا ښتن دی چې د ټولو رهنما وي
نه غرور لري ګناه او نه هم ذکر
دا اسرار د الهی دي وکړه فکر

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سپي زوی (کوتری)

له ژونده سترې يو سپي
له نورو ژويو په تنگ
بل سپي ته داسې ووې
دا څوک دي تل چې کړي جنگ؟
چارې يې موږ غوندې دي
يو يې بدل دی څه رنگ
د سپيو مشر ووې:
ای شله شټ، په خپه لنگ!
چوپ شه ستا خوله ماته شه
ای کوڅه ډبه بدرنگ!
د خدای اشرف مخلوق دي
له ژوند راغلی يې تنگ
دوی ته جنت جوړ شوی
د سپينو حورو پالنگ
دوی ته قرآن راغلی
دوی ستايل شوي هر رنگ
په کوم مجال غږېږي
ژوندی د دوی په قلنگ ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



شه حلالي د سپي زوی
د دوی د درشه ملنګ
خو سپي بیا سپکه وکړه
په ځای کې ودرېدو دنګ
...وِیْل یې جنت ته دا ځي ؟
زه یې له خیاله په څنګ!
تله به ماته کړمه
له ظلم ډېر یم په تنګ
زه هم جنت ته ځمه
د سپینو حورو ترڅنګ
یا دې انسان انسان کړي
یا دې جنت کړي خپل رنګ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میره توب

مسافر یو، په یوې دښتې باندې شپه شوه
په ورو ورو تیاره خپره، هوا سړه شوه
د لېوانو غږ یې غوږ ته ډار د غلو شو
د پناه ځای ته په ځیر ځیر په کتو شو
یوه کېږدۍ ورته له ورایه ورښکاره شوه
گوندې هلته به یې یوه شپه گزاره شوه
په شکرو شو او په لور ورته روان شو
چې مېلمه په دغه دښته د سلطان شو
د نینو بوخڅی یې کېښوده په زمکه
په ډبره دروازه یې کړه ټک ټکه
د سړو ښځو وړو غټو جوړ شور شو
خو د ښځې غږ را پورته له دې کور شو
وایه څوک یې په دې شپه په دې تیاره کې
چې ولاړ یې زما د کور به دروازه کې
مسافر ووې سلام دا مې کلام دی
ستا جونگړې ته زما ډېر احترام دی
وه ادې ! که نارینه و ته آواز کړې
او دا نن شپه د حجرې در راته واز کړې
ځواب راغی چې په کور کې مې نر نه شته
دلته ځای د تا د شپې او سحر نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



...پردیسي چې اورېدلی غږ د نر و
وې یې دا په پښتنو کې څه جوړ شر شو
پښتانه خو مېلمانو نه ځان قربان کړي
د مېلمه خاطر په وینه او په ځان کړي
د هغې ښځې له درده آواز دروند شو
په پښتو پېغور یې واړه ګرېوان لوند شو
زه دا نه وایم چې کور کې مې نر نه شته
غټ برېتونه او لنګۍ یې په سر نه شته
ستر بازو لري شهوت ورباندې زور دی
له بچو یې ډک انګړ دی زما کور دی
خو هغه سړی مې نه شته دی په خوا کې
چې مې وچلوي کور ورک وي بېدیا کې
مېړه توب نه په پښتو نه په برېتو دی
نه په توره نه لنګۍ او نه وېښتو دی
نر هغه چې په تلتکه کې مړ نه شي
سر یې لک شي خو سیالانو ته پړ نه شي
څوک چې پت عزت د ځان ساتلی نه شي
ړنګ ته مړ دی هغه نر منلی نه شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وې په زړښت کې به بدل شمه
خلاص به له بانړو شونډو اوربل شمه
نه، لا چې کوم ښکلي په لار وينمه
غواړم چې خالونو ته يې غل شمه
لار ونيسم زه ورته د سپينې خولې
ژرنده د غاښونو کې يې دل شمه
جام په رېږده لاس د شونډه نه ښايي
زه په سپينه ږيره په کې حل شمه
غږ چې د پازيب د ښکلو پورته شي
سر له سجدې پورته په کتل شمه

رنګ ته دعا ښکاري بد ويل د دوی
خوږ شم چې د ښکلې خولې ښکنځل شمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا په ټولوو کې خو ناکـــــــــــــــــام شو
آخرت چې رانه هېر دی خدای دې خیر کړي
میراثي مسلمانان یو نور څه نه شته
له اسلام مو کفر ډېر دی خدای دې خیر کړي
دعواگیر یو چې غیرت مو تاتره ده
په محرم مو فلان تیر دی خدای دې خیر کړي
لا تر څو به په تاریخ او تېرو ویاړو
نن چې سپک له ټولو زېر دی خدای دې خیر کړي
خدایه چاته کلمه کړم دلته تېره
د مذهب تلقین گنډېر دی خدای دې خیر کړي

ړنگ ته بېر ته هغه تللی ایمان ورکړه
د ملا له دینه سېر دی خدای دې خیر کړي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کيسه ستر بلخي مولانا رح د قلم شهکار دی چې په خپل بې سياله هنر يې موزون کړې او ما د بلخي مولانا رح د مينې له امله په خپل ناتوانه قلم په لنډ ډول ليکلې

## موسی (ع) او شپون

د يوه شپون شوې د موسی تر غوږ اپلتې
چې ای خدايه ای څښتن زما د ختې
چېرته ته يې وږی تږی په کوم لا ره
له تا ځار شه زما مېږې هزار واره
چېرته ته يې چې د زه خدمتګزار شم
د تڼاکو او زخمي پښو نه دې ځار شم
که له بخته دې جونګړه کې مېلمه کړم
په خپل لاس به د پرېشان وېښته شانه کړم
د باڼو په تار به وګنډم جامې ستا
په لېمو به خپل کړم پاکې البسې ستا
ستا د ناستې ځای به پاک کړمه په لاس زه
او هر رنګ به د خدمت کړم په اخلاص ښه
دا چې ډېرې شوې اپلتې موسی ووې
ای پلانکيه ! دا د چا ته او دې څه وې؟ ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې یې چا ته چې یې زه یم پیدا کړی
لاندې زمکه او په سر یې سما کړی
موسی ووې، ای بدبخته ! په څه سر شوې
له دې وړاندې چې مؤمن شې ته کافر شوې
دین دنیا دې په دې کفر تا تباه کړه
خوله دې بنده کړه، څه ستره دې گناه کړه
که مرداره خوله دې بنده نه کړې ژر ته
دا عالم به کړې نابوده سراسر ته
وای موسی ! دا زما خوله دې کړله بنده
پښېمانه شومه زه له دې خپل ژونده
په فریاد او واویلاو باندې سر شو
د مېرو په لور روان زېرو زبر شو
د الله له لور موسی ته وحې راغله
چې بنده دې زما بېل کړلو له مانه
رسالت د یو کول دي ! یو کول دي !
نه بنده له خپله خدایه بېول دي
د هغه وینا له هغې خوله صفت دی
همهغه وینا و تا لره شقت دی
د هغه له خولې نه شهد دي مرجان دي
خو د تا له خولې نه زهر دي عصان دي
له پاکۍ او نا پاکۍ یم مبرا زه
له سستۍ او چالاکۍ یم مبرا زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



...نه مې خلق کړل دا مخلوق چې وکړم گټه
مگر دا چې پرې احسان کړم، ورکړم گټه
په ظاهر او ژبه نه يمه د چا زه
خو باطن وينم او حال د مدعا زه
د شهيد وينې دې غوره له اوبو نه
دې خطا کې دی ثواب ډېرو ذکرو نه
لعل مُهر د اثبات نه بې نياز دی
کله عشق ته سمندر د غم، گداز دی
ډېر رازونه يې موسی وته عيان کړل
څه يې وښودل او څه ورته بيان کړل
و موسی ته چې تمام د رب بيان شو
د شپونکي پسې روان په بيابان شو
له ډېر وخت وروسته يې وموندلو هغه
وې يې زېری را ته راکه راغله وحيه
چې هر څه د زړگی غواړې هغه وايه
ليونو د عشق ته کله آداب ښايه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوښ گيله

دا گيله د يوه اوښ وه له انسانه
چې روان و په سفر له دې جهانه
لکه جام يې سترگې سرې وې غړېدلې
په بسمل ځان يې شپونکي ته ورکتلې
د شپونکي له زړه نه هم الله خبر و
د هجران له غمه سوی زړه ځگر و
په تندي يې ښکلولو او ژړل يې
سر يې کېښودو په غېږ ورته کتل يې
چې تېر عمر يې د اوښ سره په ياد شو
لکه ښځو بيا په کوکو او فرياد شو
دا منم چې ډېر ته ماسره موړ نه وې
نه، دې نه ول که صورت باندې جوړ نه وې
مزلونه مې په دښتو په تا کړي
انبارونه د مالو مې په تا وړي
ښه خواړه د تا اغزي ول زما ځانه
تا به بره راته نه کتل ای گرانه
د زړه سره ډېر مې کړی په تا ظلم
راته وبخښه په سختو کې که نه وم ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدرت له کرشمونه اوښ ګویا شو
په بسمل ځان په ویو باندې لګیا شو
ای شپونکیه لوږه تنده در بخښمه
په مېږو کې هغه منډه در بخښمه
دا بخښم چې به مالونه په ما ډېر ول
ته به موږ وې زموږ نسونه له تا هېر ول
یوه نه وه له ما ډېرې ګټې ستا وې
زما غوښې زما وینه هم وریا وې
دا مې هر څه در بخښلي دي له زړه نه
تېر به نه شمه زه تا ته له یو څه نه
دا ګیله مې ده ساتلې له ډېر وخته
دا له تا وه نه زما له کم بخت بخته
چې به کله قافلې شولې تیارې
را په مخ به وې دښتو لویې لارې
زما رسۍ به دې د خر په لاس کې ورکړه
موږ به شاته قافله به مو خرو سر کړه
دا حدیث دی چې آخر ته زمان راشي
د کم ظرفو بدعملو دوران راشي

ناپوهان د قام او کلي رهبران شي
پوهان ټیټې سترګې شا وته روان شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستر مفکر، شاعر او لیکوال ارواښاد الفت بابا رح لاندېنی نثر مې له (غوره نثرونه) کتاب څخه په خپل رنګ شعري توان په نظم بدل کړی، هيله ده ويې منئ او ماتې ګوډې راوبخښئ.

یو ماشوم ته پلار يې ووې چې خدمت کړه
انسان هلته چې انسان سره الفت کړه
ګنې هسې دا وګړي په هزار دي
خدمتګار په کې یو څو ګوندې په شمار دی
د دادا په ژبه پوه نه شو ما شوم و
وې مثال د خدمتګار ووايه کوم و
په وړه ژبه يې هم دادا ګویا شو
د ملت د خدمتګارو په ثنا شو
د ړاندو لاسونه ونیسي بومیا شي
ړوند په څه پېژنی دا چې لار له چا شي
په درانه خوب کې ويده وي منګري ته
څوک يې مړ کي ويده ويښ شي سحري ته
د ناروغ درمل کوي چې مسافر وي
که هر څوک وي مسلمان او يا کافر وي
په سهار که هغه مړ شي پوه به نه شي
چې غمخوارو باندې پوه کله دا مړه شي ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



قافلو ته لارې جوړې کړي په دښتو
په ځان تېرې کړي ناخوالې د بدبختو
...ملتونه په رڼو سترګو ړانده وي
که یې هېر د خدمتګارو واړه کړه وي
کوم ملت ته چې بادار خدمتګار یو شي
د تاریخ له بڼ بوساړو غوندې لو شي

ړنګه کار د بومیاو صرف خدمت وي
خدمتګار د انبیاءو په صفت وي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن شپه د تېره شي، سحر دې نه شي
شمعه دې وسوزي خو لمر دې نه شي
ساقي دې ټولې پيالې خلاصې کړي، خو
زموږ په لوېدو باندې اوتر دې نه شي
چې موږ خمار و، په سر هوش نه لرو
ښه، چې يوسف مخې نظر دې نه شي
موږ به له تشو پيالو هوش اخلو بيا
خدای مه کړه دا هسې لوی شر دې نه شي
موږ د ساقي له ميخانې نه ځار شه
مسجد دې بند وي هېڅ اختر دې نه شي
ساقي ستا جام له کوثرونو خوږ دی
ستا ليونې له هوش خبر دې نه شی

ړنګ ته دعا وکړئ چې نه شي ودان
د ليونو له در بې در دې نه شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه نه ودرېږي ځکه ته يې په کې
ساه چې مې نه شته ساه مې نه شته دی نو
چا ته ژوندی چاته به مړی ښکارم
دا هم زما له رنګه بخته دی نو....
زړه دې ژوندی وي جنازه مې وکړئ
د تا له زړه وتل هم سخته دی نو
ګوره چې څه کانې دې مينې وکړې
بې سره لوی دی بې له لښته دی نو
رنګه رسوا کړې مينې خوله وتړه
د مجنون لار آخر تر دښته دی نو

موږ د سپکېږو درنه مينه ساتو
لا نيلام نه يې لا هم وخته دی نو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سلطان بهلول نیاو

بهلول ته چا ووې چا غلا کړې ده
توبه، مؤمن دا ناروا کړې ده
هسې خو لاس يې غوڅول شرعه ده
او ټول ولس ته دا ښودل شرعه ده
خو ته د شاه او د پاچا ورور يې
د خدای د سیوري، د انګړ او کور يې
اوس پرې څه وکړو راته ته ووایه
سر ورته غوڅ کړو، لاس یا پښه ووایه
بهلول ویل چې زما به ونه منئ
زما فیصله به سمه ونه ګڼې
د هر قاتل هر ګنهکار له پاره
د هر یو غله او هر بدکار له پاره
بس ولسمشر او پاچا مو پړ دی
پړ دی پاچا که هر میږی مو مړ دی
باید مو لاس د بومیا غوڅ شي نن
لاس د ناکاره ستر پاچا غوڅ شي نن
سیوری د خدای او بې خبره هومره
سیوری د خدا او بې نظره هومره
هرې ګناه لره علل موجود وي
هر ښه عمل ته هم لامل موجود وي
←

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا هی تش په تخت و تاج نه کېږي
په عیش و نوش او په تاراج نه کېږي
لومړی دې پوه شي په مرض د ولس
بیا دې دوا کړي هر عرض د ولس
کنه خدای شته سیوری یې څه په کار دی
بومیا هغه چې بلد په لار دی

د بومیا قحطی راغلې ده نن
ړنگه چې خره له آس گټلې ده نن

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن شپه غواړم د غني او د خيام سره جام واخلم
د فلک سره په جنگ شم، خپل د بخت انتقام واخلم
نن شپه غواړم تر سهاره د جنت عاشقان مړه کړم
د دوزخ نوم دا دنيا کړم د بې دينو سلام واخلم
نن شپه زما خوا ته را نه شي ای له حورو نازولې
نن شپه غواړم نفرتو نه پاکې مينې انعام واخلم
د منصور روح ته آواز کړم چې دې لاره ورکه شوې
هر زاهد هر محتسب نه نيم ايمان يا تمام واخلم
نن شپه غواړم مسجدو نه ميخانې، د ساقي کور کړم
نن شپه غواړم فلسفو نه د ظاهر عقل خام واخلم
دغه شپه نه ده قيامت دی ژوندي کېږي مړي بېرته
نن شپه غواړم چې حساب او ستا کتاب په نيلام واخلم
نن شپه زه او ساقي دواړه د شرابو خُم خانې يو
آسمان زمکه خمار شوي خنگه هوش ته کلام واخلم
نن شپه وخت کله ودرېږي کله تيز لکه اوسی شي
نن شپه څکه گناه نه شته چا نه کفر اسلام واخلم

نن شپه څه له، نن شپه څه له ليونی ړنگ ژوندی شوی
ليونو ته زنځيرونه تورو زلفو له دام واخلم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله هستي، دنیا، جنت مینه ده
د معشوقو رټل نفرت مینه ده
که مینه نه وي جنت هم کابل شه
په مینه اور، دوزخ، قیامت مینه ده
مینه کې کفر څه ایمان، وه ساقي
د تا تور زهر او شربت مینه ده
مینه اخ مینه، مینه مینه ده بس
د تا غنا زما غربت مینه ده
مینه کیمیا ده خاوره زر جوړوي
د تا په خیال کې زما صورت مینه ده

د رنګ مزار کې چې اغزي وګورې
ساقي د ګل زړه کې الفت مینه ده

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله شپه مې شمېرل ستوري ته ویده وې
پرې پراته وو زلفو سیوري ته ویده وې
تور رانجه مې تورو سترګو نه راغونډ کړل
جوړل مې د عشق توري ته ویده وې
د باڼو غشي دې ښار د حسن ساتي
ستا منصور قاتل ته ګوري ته ویده وې
اننګي ول که هنداره د زخمي زړه
ساه د بل له زړه نه پلوري ته ویده وې
په سپوږمی مخ دې سیمینې ګوتې بر شوې
که د حسن کوم عرش ښوري ته ویده وې
سرکو شونډو کې دې پټ ساتلي څه ول؟
پتنګان ول په هر لوري ته ویده وې
لکه ټول حسن راغونډ شي له جهانه
ستا د مخ له آسمان ووري ته ویده وې
لکه ورکړي کوم کافر ته خدای جنت خپل
تور خالونه په مخ پوري ته ویده وې
سپین صدف د ګل په څاه کې پیدا شوی
غاښ دې سپینه خوله کې برېښي ته ویده وې
د ګل اوښکه ملیار ګډه کړه په پرخو
ستا مین ته به څوک ګوري ته وېده وې

رنګ له تورو نه انځور د «پرخې» باسي
سپېلني یې په تا پلوري ته ویده وې
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې خو ډېرې دي، کوم يو داسې وي
چې ورته گورې عبادت دې وشي
دا حسن خدای دی، که خدای حسن دی ټول
د خال په لورې عبادت دې وشي
زاهده عيب رندو کې څه لټوې
ياد کړې چې حورې عبادت دې وشي
هره سجده مسجد کې نه وي غوره
پيالې کړې پورې عبادت دې وشي
ساقي يوازې په کعبه کې نه وي
سترگې کړه تورې عبادت دې وشي
ړنگه چې څومره وې ښښتن هومره وي
مه وايه نورې عبادت دې وشي

★★★

دشعرونو ليکل پرته
مو، بل هېڅ يو کمال نه زده
خدايه! داسې کمال راکړې
چې ښاريانو ته مو گران کړي
يا مو وشړې له ښاره
چې مو پاتې عمر پاره
بې کماله کليواله
سرکو شونډو سر پيزوان کړي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د اوښکو قطار زما په ګرېوان راغی
يعقوبي سترګو ته خيال د هجران راغی
قافلې د صبر مه را پرېږدئ دلته
د ځګر له آسمان وينو باران راغی
ای يوسفه دغه ښار په تا ښايسته و
کوم قاصد له بدرنګ ښار د کنعان راغی
ته به قدر د يعقوب د سترګو څه کړې
درد د مينې معشوقو ته آسان راغی
زليخا نه شوې چې پرېږدې تخت و تاج خپل
عشق کې خدای د محمد، له آسمان راغی
ړنګه مينه يې زده نه شي، چې زده نه وي
د عشق غشی تش په لور د جانان راغی

بس د تللي يار انګړ په لور سجدې کړه
ړوند يعقوب ته له ازله هجران راغی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ دې پټ دی په هزار هزار پردو کې
دا څه عشق دی پښتونواله په پښتو کې
زه به څه کړم د سپوږمۍ مخ چې اختر شي
ته چې نه وې اور دې واخلم اخترو کې
هو دروغ دي چې دې یاد یم تللې یاره
تا به چېرته لټوم خپلو پردو کې
عشقه ما ته دې حلاله ژوند حرام کړو
د رباب غوندې ژړېږمه نغمو کې

ږنګه خلک به اختر لره هوس کړي
ته به سوزې لکه شمعه تورو شپو کې
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یوه ساه بې ستا راتله، را نه شي
چېر ته دې نوم زما په خوله را نه شي
اخلم د خدای سره ستا نوم چې کله
ایمان ته وایم خدای پاله را نه شي
ایمان دې لاړ شی خو جانان دې نه ځي
توبه راځي د ښکلو تله را نه شي
حسن بې نیازه دی د عشق له غمه
پرخې د ګل سره خواله را نه شي

"رنګ" دې رسوا دی، تا څوک نه پېژني
د عشق پېغور ستا تر کاله را نه شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ته قطره کې ټول عالم ښکارېږي
چا ته د ګل په سر شبنم ښکارېږي
د "رنګ" له سترګو آیینې شرمیدې
چا ته به تش د سترګو نم ښکارېږي
د تللو غم دې، زړه له زغم بهر دی
چې در ته خیال کې هم زړه تم ښکارېږي
د غاټول زړه داغونه چا شمېرلي
د ښکلو زلفو کې چې سم ښکارېږی
د تا د مینې کیسې لنډې نه دي
په هر پرهر کې چې صنم ښکارېږي

ای د رنګ اوښکو خپل حد و پیژنئ
خیرات د عشق کې هم څوک کم ښکارېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګل اروا دې شونډو واخسته، ګلاب ګلاب شوې
لېمو دې راوړې دوه پيالې، سترګې شراب شراب شوې
له سپينو ګوتو دې ساقي چې څاڅي مي په ګلو
زنګېږي پانې، ميخانې واړه خراب تراب شوې
پرېوتو سيورې د اورمېږ دې محرابونو باندې
صراحی خوېې زاهدانو ته عذاب شوې
چې د جنت قدر دې کم کړو ملاګی وډار شو
خوږو شرابو ګوندې څکه ته خراب خطاب شوې
چې چېرته پل ږدې هلته شنه شي د شرابو چينه
مسجد ته راغلې ميخانه شوله ثواب ثواب شوې

ړنګه لمونځونه ګرځوه چې دې مسجد کې کړي
له لباسي عبادتونو نه مجاز سراب شوې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانه مې تا ته سپېلني ځنګه کړم
د نیمې خولې دې لیونې ځنګه کړم
اوګی د تاو راتاو کوه مه ښکلې
د اوښکو ځاځکو ته منګې ځنګه کړم
ږلی ګلاب کې دې ښاغونه ښکاري
ما ته خو خیر دی دا پردې ځنګه کړم
غزل د خدای یې صحیفه که قرآن
تا سره مینه دښمني ځنګه کړم

ږنګه! د «پرخې» صفت نه شې کوی
خو سوې سوې اسوېلې ځنګه کړم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دوزخي ژوند دی، چې يې ډار له دوزخو وړی
راشه! ساه دم* واخله، چې دې توان د ساه اېستو وړی
مات او ګوډ، پرهر پرهر دوزخ نه چې جنت ته ځم
خوند هغه جنت نه شرمېدل او شرمېدو وړی
وژني مې سجدو کې، کلمو کې ژبه پرې کړي زما
نوم د مسلمان دلته قاتل په سرو چړو وړی
مه وژنه بچی مې! که کافر يمه، انسان خو يم
حق د خدايي له خدای مفتي په سترګو سرو وړی
هر چا ته چې ګورمه د غم پېټی په سر لري
عيش د دوه جهانو ځناور خويه سړو وړی

هر قاتل رهبر دی، دلته هر غل نازولی دی
ږنګه! د انسان قدر حباب غوندې اوبو وړی

*ساه دم = ساه دې هم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونه ستا کومه ژړا، کومه نعره ولیکم
پرهر دې ولیکم، که ټوله هدیره ولیکم
ای پښتنې ساقي لیکل درته غزل غواړمه
څنګه په وینو کې دې پټه سره څېره ولیکم
زما قلم منافق شوی، یا خبره څه ده؟
د هر طبیب سره مې پټه سره چاره ولیکم
داغدار غاټول یمه په دښتو بې ملیاره اوسم
د آسمان هیلې ته لمن په وینو سره ولیکم
آسمانه زړه دې په یتیم په کونډو، زما نه سوزي!
د تا له لاسه چا ته زړه ذره ذره ولیکم
مونږه څوک نه لرو او غږ مو په مری کې نښتی
کابل کې مړ شومه هلمند کې که باړه ولیکم
کابل ته ژاړي پېښور، او پېښور ته کابل
یو بل ته غوښه او چاړه، څه یې چاره ولیکم

ړنګه دا وخت د بېننګۍ شو که بې ننګه شو موږ
دوست ته دښمن وایو، دښمن ته زړه کتره ولیکم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورک ولس

تر څو ویده، څه وخت وینښېږي دا خلک؟
د دین په نوم څو لاس خرڅېږي دا خلک!
د چا پسې چې اقتدا کوي دوی
د جهل خره باندې سورېږي دا خلک
هر څه کوه پرې خو تسبیح اړوه
د مړي سپي نه دم جارېږي دا خلک
که خېټه غوړه، ښځه، نوم غواړي څوک
ږیده پګړۍ باندې غولېږي دا خلک

ړنګه! د مړو هدېره ده مګر
په پښتنو باندې یادېږي دا خلک

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي وختونه ميخانې کې هم تېرېږي نه اوس
زاړه غمونه په شرابو هم هېرېږي نه اوس
دا غملړلی ناوزولی غم د تللي جانان
وينې د زړه غواړي پيالو باندې کمېږي نه اوس
زه او بايللې ځواني تل په ننواتو ورځو
بې پښتو سترګې، زما په خون باندې مړېږي نه اوس
کاش چې وفا دې د يادونو هم د تا غوندې وه
وسوم لا نوم دې له سکرو زما ورکېږي نه اوس
لکه چې خدای او خدايي له يو بل بېله نه شي
روح مې وتلی ستا روح زما له زړه بېلېږي نه اوس
ساقي شراب راکوه در د ميخانې مه تړه
دا يوه اسره ده زما بل چېرته شپه کېږي نه اوس

د مړه کېدو مې د لوېدو مې پروا ته مه کوه
ځوک شته د رنګ په مرګ مې نور هيڅ ځوک ځورېږي نه اوس

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای زما تللې پرخې
زما نه لرې پرخې
زړگی مې چوي در پسې
زړگیه ښاد نه شوې!
هېڅ د چا یاد نه شوې
غم بل غم وړي در پسې
زړگی مې چوي در پسې
وفا کولای نه شم
پاتې کېدلای نه شم
په شېبه مري در پسې
زړگی مې چوي درپسې
د هېرېدلو نه يې
وخت ته سپارلو نه يې
خیال مې درځي درپسې
زړگی مې چوي درپسې
رنگ نامراده ښه دی
داسې برباده ښه دی
چغې وهي درپسې
زړگی مې چوي درپسې
ای زما تللې پرخې! زړگی مې چوي درپسې
زما نه لرې پرخې ! زړگی مې چوي درپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اگر چه به اصول شعر نویسی زبان فارسی نمی فهمم اما کوشش کردم، به بزرگواری تان ببخشید؛

در آسیاب عشق باید آرد شد
هر که زلفش واست باید باد شد
تا ترا از عشق ترس است ماه رو
حسن تو از سایه ها برباد شد
سوخت باید آفتاب اسمان
تا کلام مولوی آباد شد
عشق چون در خون ها امیختند
آدمی از قید وقت آزاد شد
ساقی تا در پیاله ها عشق ریخته
ناله های یعقوب ما شاد شد
عشق را با باده ها پیوند داد
تا که منصور از انا الحق زاد شد
عشق آغازو سرانجام هاست عشق
ما بقی از جهل ها آباد شد

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دا شعر له دواړو خواو، پورته خوا (⬇) او ښی خوا (⬅)، لوستل کیږي

| | | | |
|---|---|---|---|
| د نن ورځې | نا اشنا دی | که | اشنا |
| نا اشنا دی | هر اشنا | په دې | دنیا |
| که | په دې | دنیا دې ولیده | وفا |
| اشنا | دنیا | وفا | له چا سره کا؟ |

د نن ورځې نا اشنا دی که اشنا
نا اشنا دی هر اشنا په دې دنیا
که په دې دنیا دې ولیده وفا!
اشنا دنیا وفا له چا سره کا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه ګلبڼ کې را ته ښنه د دلبر کومه ده
په یو پښتون کې کلمه د لر او بر کومه ده
مجنون ته ښنې د لیلا اعلی ادنا نه لري
د غرڅه سترګو کې ښه کومه او بهتر کومه ده

★★★

د ټیټو سترګو لېمه هم سپک وي
سپک په ورغوي کې لا هم ورک وي
ړنګه د ژبې عزت ستا ګانه ده
سپک سپک وي هغه که پرویز خټک وي

★★★

ژبه د مور وي، خرڅول یې خرڅول د مور دي
پرویز خټکه ! یو پښتون ته داکول پېغور دي
پرویز خټکه ! خپله خټه خپله مټه پاله
دا پنجابیان هغه مغل دي خو مخونی تور دي

★★★

په ځان کې ورک، ولس کې ورک بېل دی
پرویز خټک، خوشال خټک بېل دی
پښتو ویل، پښتو کول بېل دي
نرښځی بېل، د قام ملک بېل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقمر له زویه څه غواړې ته
ای محتسبه زه له ار داسې یم
پلار مې په دوه غنمو خرڅ کړو جنت
زئ په یو خال خرڅوم نر داسې یم

★★★

تللې د سترګو اوبه لاسته نه شي
د سپک سړي به درنه ناسته نه شي
له بې ادبو نه کوڅه بدلوه
د سپي لکئ به کله راسته نه شي

★★★

زه ستا د مینې د ستار غږ په سماع راوستم
د تا تر دره دعشق بې حدې ګناه راوستم
ړنګ منصوري غاړه د تا مینې ته کېښودله
دار ته د وصل د اغیار ړانده سپاه راوستم

★★★

کله زړه د هاتي تنګ شي لکه سترګه د میږي
کله لوی سمندر ځای شي په لېمه کې د سړي
داسې ما سره هم کېږي د فراق په تورو شپو
چې مې یاد شي هغه خال ستا سپینو لیچو شنه بنګړي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د پښو خاورې به بت کړم، کافر نه يم
څوک چې نه کړي سجده يار ته سوچ کافر دی
که تفسير د خط و خال د ساقي زده کړې
شيخ، ملا او زاهد واړه پوچ کافر دی

★★★

چې دې ونه وينم هره خوا تيـــــاره شـي
سوچ کافر شم لااله په ما خـــــوره شي
چې پيدا شې مسلمان شمه مؤمن شــم
رنګ نه لمر شم کاينات مې هر ذره شي

★★★

په خوږو خوږو خوږو پسې مچان وي
چې معنا لري هغه په تله ګران وي
خزانې په رنګو زړونو کې موندی شي
د کمر په سر ټپوس سره چينجيان وي

★★★

څه وشول، ولې، څنګه آر د پښت لمبې شو رانه
پښتو مو هېره کړه، پښتون ټوټې ټوټې شو رانه
د روند لمنه مو نيوله د ګونګ غږ ته غوږ و
چې پښتونواله افغانيت زرې زرې شو رانه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا دعا د جنازې د پښتو ژبې کړې
پلار مې وصیت د مړې پښتو څه نا څه پلې کړې
له ما یې هېره هدیره او هغه څلی دی، چې
فارسي ما تا اردو نمسو لره ښاغلې کړې

★★★

خر دی چې د عشق په لار روان نه وي
مړ دی چې د چا، څوک یې جانان نه وي
کوم زړه کې چې خدای وي مینه هم لري
نه وی چې مین هغه انسان نه وي

★★★

لکه چې خدای شته خو مکان نه لري
لکه خوره رڼا خو ځان نه لري
مینه کې "زه" او "ته" ورکېږي ځکه
چې مینه خدای دی شرک امکان نه لري

★★★

ښکلي چې تېرېږي په رمباړ شي خره
غتې زلزلې شي په تټار شي خره
داسې فتواګانې داسې ګل کړي
ژېړ سري چې کله په ګفتار شي خره
*د فضل الرحمان د فتوا په هکله مې لیکلی و

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو مې پلار او نیکو پرې نه ښوده
تر ژبې راغله شونډو پرې نه ښوده
ګنې مې شونډو ویل ستا شونډو ته
په تا مین یم ! پښتو پرې نه ښوده

★★★

ځو پرې نه ږدو شرق او غرب ځپلی فکر
یو څاروی او کوم ستر خر به مو وي مشر
تو لعنت په داسې مشر داسې کشر
چې دنیا عقبا یې جوړه وي په عُشر

★★★

زه درنه زړه، نه درنه خوله غواړمه
نه زلفو سیوری مړه کاته غواړمه
یوازې هومره رنګ ته پټ ووایه
مړ دې په خال د زنې زه غواړمه

★★★

دوه اویا حورې چې د سل افغان په بیه اخلي
دا خره بیا خپل هوس ته زما د دین نوم څه له اخلي
دوی چې د کوم غلمان له پاره زموږ سر غوځوي
هغوی دا تور ټټوان د پچو وړو ته کله اخلي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ښکلې در ته سترګو کې خوږه شي
ګوندې ړنګه نظر نه لرې ليدو کې
کنه خدايږو دا څنار څنار ځوانی يې
لکه پاڼه د خزان به شي لوېدو کې

★★★

بېګا شيـــــخ يوې فاحشې ته وې نخرې کړې
په هره شېبه څوک دام کې ځولنې کـــــــړې
فاحشې ووې ای شيــــــــــخه! دا رښتيا ده
خو چې ته څنګه ښکارېږې هغه کړې، کړې؟
*د فيلسوف، شاعر او وخت ستر پوه خيام رباعي مې پښتو کړې.

★★★

توره د خوشال وي او روش د باچا خان
عقل د جمال وي او احساس د ملنګ جان
داسې که پيدا شي نو پيدا کې بل افغان
يا وبا کړې ګډه چې بيا مړ شي مړ پټان

★★★

زه د پښتو او د مذهب په نوم مرم
له بې ادبو د ادب په نوم مرم
زه يم افغانه بېچاره مورکۍ
د حوا لور يم د نسب په نوم مرم

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مرشد او استاد ښاغلي حيدري وجودي ته !

ړنګې وداني له تا، ړندې روښانې له تا
سماع کړي زانې له تا، پيره زما وجودي
د ړنګ سلام ومنه، ډېر احترام ومنه
ملنګان ستا دي غني، پيره زما وجودي

★★★

لکه جام له ميو ډک وي، ستا هم خوله له خندا ډکه
خاورې نه شو خوار نصيب زما چې ملا يم له تلتکه
د طواف په نوم به ورشم ستا د زنې په سر خال ته
ځکه هسې هم خوږې دي د کوثر له څک او څکه

★★★

سمندر نه دی چې په شور شي په څپو شي زړګی
کهکشان نه دی چې ړنګېږي په لوېدو شي زړګی
لکه کوم غره کې کوم غرڅه يوازې ساه ورکوي
پوهېږي يو پرې خپله زړه په ماتېدو شي زړګی

★★★

د ليونې پښتون پښتو سره به لوبې نه کړې
په رسی وتړي ماشوم چې لا به سوبې نه کړې
موږ که زمرو غوندې درانده يو ته غېږېږې ګوره
دښتې به سر په جنګوو باندې خړوبې نه کړې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر صور د اسرافیل یې تر غوږو شي
د ناصح نصیحت هیڅ پرې اثر نه کا
له ویده پښتنونه هغه خر دی غوره
چې په هوش باندې بې هوشه نظر نه کا

★★★

لا ړمه زوړ شومه بیا ځوان به نه شم
له سترگو ولوېدم جانان به نه شم
اوس مو له ښکلو لارې بیلې شولې
نتکی، والی د تا پېزوان به نه شم

★★★

ځواني مو سترگو باندې ونه لیده
چې په لیمو کې اوسېدلې نه یو
خاني، ځواني او پښتونواله چېرته
چې تاسې ښکلو موږ منلي نه یو

★★★

هغه پښتون چې په پښتو شرمېږي
نه پښتو لیکي نه پښتو غږېږي
د هغې ډمې د پازیب غوندې دی
چې د پردو محفل کې وشرنگېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس یې ونیسي د خیال تر کور یې راوړي
وړانګه وړانګه شي، له هرې لور یې راوړي
نه پوهېږم، څه حکمت دی دې باران کې
د مړې مینې له جرسه شور یې راوړي

★★★

پښتون نن دا دی، پښتون هغه، پښتون ښه دی که بد
پښتون، د مینې، د وفا، عزت، غیرت لوی معبد
دلته به اوسي، دلته اوسي له پېړیو څخه
مړه به شي نوي هېوادونه، دا به وي تر ابد

★★★

زړه چې هوښیار شي او له مینې تښتي
په هغه سُور زړه نفرت تور واچوه
چې هر څه نه کړي خپل له مینې نه ځار
لمبه کړه هغه زړه پرې اور واچوه

★★★

له قیامته یوه ورځ وروسته راویښېږي
پښتانه په خوب له ټولو دي غښتلي
که چا ووې چې پښتون یې برېت دې تاو کړه
چې لا اوس هم د حجر دوان کې اوسي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شوم منصور چې مې ځندۍ کړي خلک
نه شوم وقار چې مې پګړۍ کړي خلک
چېرته ګمنامه بې نښانه اوسم
خدایه! وخت ځنګه په روپۍ کړي خلک

★★★

لکه ستار نغمه کېدمه وچ لرګی دې ومه
لکه هندو لمبه کېدمه خو سړی دې ومه
په نوم مؤمن په نوم افغان په نوم انسان یمه زه
مینه بس مینه دې کېدمه مصلی دې ومه

★★★

ایره یم اور نه پاتې کېږم، هسې مه مې وژنه
په مړینه کله خاورې کېږم، هسې مه مې وژنه
له خوني سترګو د تاریخ نه د افغان وپوښته
مشال د ننګ د لارې کېږم، هسې مه مې وژنه

★★★

په زړښت د ځوانۍ چارې له چا نه شي
ورږم خپور په مړاوي ګل او سبا نه شي
د معشوق زهر کیمیا ده په ځوانۍ کې
په زړښت یې د خولګۍ څوک دوا نه شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی چې نه پېژني خدای، فتوا د کفر ورکړي
په هر هغه کې چې د دوی هغه دغه نه لري
او په دې ملک کې زه پيدا يم لويه ربه ولې؟
چې خر په خوټو پېژني نوره کيسه نه لري

★★★

د زمکې سر باندې يوه مور وي د چا
وطن، يوه مينه او، يو گور وي د چا
د رنگ کډواله مروره راشه
که هر څه رنگ وي کور خو کور وی د چا

★★★

د سرکوزي د خنځير او خوگ په هکله
ويل کېږي چې ناولي دي بېعقله
نازولی او اشرف مخلوق مې وليد
ډېر ناولی، ځناور او لا بد شکله

★★★

يوازې هومره ملتپال يمه، تبعيض لرمه
چې د پښتون په ماته خوله کې مې پښتو غواړمه
لوږه، بې کوره، او بې واکه خير خو
ليکچه، قلم، ليکی په لاس د پښتنو غواړمه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټګ، ټګمار، چلمار او چل دې پښتنو ته جوړ دی
ځندی، باروت دا ډز ټوپک دې لیونو ته جوړ دی
لاهوره ډمې ګډوه، روژه پټان ته سپاره
د مرتد، کفر دا آیت، دوزخ پښتو ته جوړ دی

★★★

شمله می هسکه ده افغان یمه هیڅ سیال نه منم
په ناورینونو کې را ګیر یم، خو زوال نه منم
دښمن ته ووایه چه سر می ټیټېدلای نه شي
بې پښتونواله، ننګ او پت ځان ته کمال نه منم

★★★

بې له خدایه که څه شته نو خدای محدود دی؟!
خدای احد دی، خدای واحد دی، یو وجود دی
خپله ختګه کوزه ګر او کوزه خر خدای
تفکر که دې آسمان شي ورته دود دی

★★★

ای چې انسان په سیارو لټوې
مانا هم غواړې که دوه پښو لټوې
دې ښار اخستی شر له داسې مخلوق
نور شر په څه، په آسمانو لټوې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتې که دا د خاموشۍ زولنې
د بې پتۍ د بې ننګۍ زولنې
بس دی نور بس دی افغانه پاڅې
وشلوه دا د بندګۍ زولنې

★★★

غزل غزل، رباب رباب ده مینه
د مست ساقي ترخه شراب ده مینه
د باڼو غشو کې کترې کترې زړه
د اننګو په اور کباب ده مینه

★★★

خدایه! پوهېږم هېرېدای د نه شي
یوه وعده چې تا پخوا کړې وه
تا وې په ځمکه به انسان خلقوم
دې ځناور نه یاده تا کړې وه؟
ستا ملایکو ته به څه وایو موږ
همدا دی؟ خدای چې یې ثنا کړې وه
د سپینو حورو دې تور مخو سپیو
مومن کافر ته، یوه غپا کړې وه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ستا د هېرولو لارې ډېرې دي
زړه نه د ایستلو لارې ډېرې دي»
ما ویل په دې د باور نه کوم
تا ویل «منلو لارې ډېرې دي
وڅاڅي سحر شبنم له ګل څنې
سترګو نه د تللو لارې ډېرې دي»

ما ویل په زړه باندې يې نه ګورې
سترګو نه تر سترګو لارې ډېرې دي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لامې لاسونه ستا په وینو رنګ دي

لا ور نه بوی د تا د وینو راځي

لا دې په غېږه کې بسمل وینمه

لا مې په یاد دي، ساه دې نه راوته

لا مې په یاد دي، ستا ساړه اننګي

لا مې په یاد دي، چې تا نه اورېدل،

پلاره ه ه ه! !!

ورور جانه ه ه ه! !!

وه خورکې ې ې ې! !!

مورې ې ې ې! !!

بچی ی ی ی! !!

... قربان دې شمه، ساه وباسه

ای ! زړه یې غږ نه لري

نبض ته یې وګورئ، ما ته آواز نه راځي...

هله ای مرسته وکړئ

ګورئ

ای

څوک شته

وه خدایه ه ه ه...

زړه مې چاودي

سر مې چوي

څوک شته، ای مرسته مرسته... ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



...هو، ته‌ول په خپل وير راګيره
په ماتمونو خپلو، د خپل دادا، لالا ، ادې،...
ته‌ول بې اسرې وو
د تسل نه وو څوک
هر چا د خپله جنازه په اوږو
د انسانيت
د
دين،
د مينې
تش مسېدو هغه چې ويې ويل
الله اکبر...بل مرتد او بل کافر مې مړ کړو
زه مسلمان نه شوم، خو ولې خدايه؟

★★★

د ړنګ غونډال* غونډې د ستورو يو کېدلای نه شول
د پښتونوالې په محور کې ګرځېدلای نه شول
په ننواتو په جرګو او پوهېدو ونه شوه
دوی ورکېدل ړنګ لکه ځان غونډې ليدلای نه شول

*غونډال = نظام، سيستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلې کېږي لارې دلته،... پاتې کېږي څو يادونه
لکه پاتې په خزان کې،
خاوره شوې،
مړاوې شوې،
تانده پاڼې
...پاتې کېږي څو يادونه
لکه اوښکې په ګرېوان کې
د مات شوي منګي خاورې
له توپان خاورې کورونه
ماتې ماتې څو کړکۍ او ړنګ لوېدلي ديوالون
پاتې کېږي څو يادونه...
څو سرې ښاځکې خولې د اوس مړ شوي په تندي کې
سور د وينو رنګ شفق کې،
پاتې کېږي تش يادونه...
څو يادونه، بيا ژړا ته
خپل تقدير باندې خندا ته
تنهايۍ ته څو ملګري
بې صورته، بې زبانه...
هغه شپه چې ته تنها شې
نه وي شمعه، نه سپوږمۍ وي
دا دې غېږه کې خپل ټينګ کا ←

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وژاړې په چغه
نه دې واورې غبږ ښتن ستا
نه هغه چې درنه تللې
ستا آواز ته غرونه غوږ شي
سم د تا غوندې په چغه
په آواز شي په کوکار شي...
پاتې کېږي څو یادونه...ځوروو ته، ژړوو ته
دا ژوندون به داسې تېر شي
تېر زخمونه به دې هېر شي، نه نه نه ...
یادونه پاتې کېږي
زړه زخمونه پاتې کېږي
ځوروو ته، ژړوو ته
بېلې کېږي لارې دلته
پاتې کېږي څو یادونه...

★★★

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**